# پردیس

د لنډو کیسو مجموعه

غوث خیبری

# پردیس

PROPERTY OF ACKU
2968

د لنډو کیسو مجموعه

aghalibrary.com

غوث خیبری

دکتاب نوم : پردیس

لیکوال : غوث خیبری

کال : ۱۳۶۶

گڼه : ۱۸۲

ټوک : ۲۰۰۰

دچاپ ځای : دولتی مطبعه

# «یوخوخبری»

(ماکسیم گورکی )وایی چی (ادبیات باید دیو ښاراویا یوی سیمی ژبه‌نه وی).زه‌پخپله دیو کیسه‌لیکو نکی‌په‌توگه دغه عقیده‌اونظریه سمه بولم او ددی خبری دصحت دپاره دا ثبوت راوړم چی‌نن دتو لستوی، گور کی ، ما یا کوفسکی، هو گو، با لزاك، جك لندن، الن بو، گابریلا مسترال دانتزیو، گویته، چار لز دیکنس او د نړی دنورو سترو شا عرا نو او کیسه‌لیکو نکو شعرو نه او کیسی یوه جهانی ښه لری اویوازی د یو هیواداو یوی سیمی پوری اړو ند او منحصر ندی ، دشعر او ادب نوابغوخپل آثار په داسی ژبه ندی خلق کړی چی یواز ی یوه سیمه ور نه استفاده وکړ ی شی او نور ی‌سیمی دهغود استفادی نه محرو م پا تی‌شی البته ددی حقیقت نه هم انکار نشی کیدی چی انسا نی جذ با ت‌دزما نی ، چا پیر یا ل او محیط له‌مخی یوه‌له‌بله توپیرلری،خو مهم اصل دلیکوا ل او شاعر د پاره، ددغو جذبا تو دښکاره کو لو اوخپل‌احساس د څر گندو لو دپاره دیوی

الف

داسی ژبی استعمال دی چی په هغه باندی هم دسیمی خلك او هم انسانی
جامعه اودنورو سیمو خلك وپوهیږی هغه پوره درك کړی او هضم یی
کړی.
زه په شعر او کیسه کی یو شریك عنصر وینم او هغه عنصر تخیلی دی
او دغه تخیل هم دجا معی دعینی شرایطو او واقعیتو نو زیږ نده د ځکه
خو تخیل په کیسه کی پو بنستیز عنصر گڼل شو یدی . اوس دغه گناه
گڼلی کیږی چی ځوك دی شعرته الهام ووایی او کیسه دی دواقعیت
نه په مطلب ډول مجرده وساتی.
دکیسی په قالب کی د تخلیل عنصر ځا یو لیوی هنری ژبی ته
ضرورت لری اودغه ژبه هنری نثر گڼلی کیږی .چی هر څوك وربانده ی
پو هیدی شی دهمد غه حقیقت ترمخی دگور کی دغه وینا ربنتیا
ثابتیږی چی اد بیات باید دیو ی سیمی او یا یو ښار ژبه نه اوسی
چی دیوه هیواد نه پرته بل هیوادپه هغه باندی پوه نشی .
کیسه پخپله داد بیا تو یوه پیاوړی ځانگه ده چی په لیکلوکی یی دهنری
ژبی یاهنر ی نثر نه کار اخیستل کیږی او په عین حال کی د ځینو
منلی شوو مشخصو اوځا نگړ و اصو لو مرا عات په کی ضرور ی دی
چی ای.ام. فا ستر د زمان عنصر زیات ضروری بو لی اوکیسه لیکونکی
مجبور گڼی چی دغه عنصر په پام کی وساتی .
زه نه غواړم چی دکیسی په بیلابیلو تعریفو نو ځان مشغول کړ م او یاد
لوستو نکو و خت ونیسم زما په نظردټولو نه ساده دکیسی په باب
داریسطو نظر دی چی وا یی کیسه باید در ی اساسی مر حلی و لری.
پیل ،مینځ او پای.
دډیرو پخوا و ختو نو نه کیسه،دیو ادبی ژانر په تو گه په ادبیاتوکی
ځانگړی ځای لری. او څر نگه چی دیوه انگلیسی پوه او لیکوا ل(الدوس

هاکسلی) خبره ده چی وا یی په هره‌دوره کی خاص اوټا کلی سبک دهنر په ډګر کی حاکم کیږی . (۱)

نو په اوس و خت کی دکیسی لیکلو اسلوب او تکتیک هم بنیادی بد لو ن مو ند لی دی. پـه‌ختیځی او لو یدیځی نړ ی کی د ادبیا تو د غی بیاوړ ی څانګی د ټو لو نه زیات دپر ګنو پام د ځا ن خوا ته را ګر ځو لی دی. یووخت‌دغټو غټو رو ما نو نو او ناو لو نود لیکلو اولو ستلو روا ج و لیکـن‌وروسته لنډه کیسه (شارټ سټوری) مینځ ته را غله او کیسی د فور م‌اومحتوا دواړو په لحاظ نو ی وا لی و مو ند او د غه‌تغییر لګیادی ور ځ‌په ورځ بشپړ تیا مو می.

زموږ په هیواد کی ورو ستـی‌پنځوس کلو نه، لنډی کیسی دلیکو دتکامل دوره پیژنـدل شـو یده، څنګه چی اوسنی ټو لنه پرو نـی ټو لنه نده نو ننی کیسه هم پرونی‌کیسه نشی کیدی. که پرو ن‌زموږ دهیواد لیکوا لو داسی کیسی چی د شفاهی ادب نه‌یی سرچینه اخیسته لیکلی او دو خت او زمان د شرایطو اووا قعیتو نو سره سمی وی نـو یقینا چی نن دو خت غو ښتنی اود ژوند شرایطو هغی کیسی منلی‌نشی. دنن ورځی کیسه لیکو نکی هیځکله‌د کیسی دپاره هغه شان تخیلی‌نشی کو لی او نه هغه (تم) غوره کو لی‌شی.

نن هم دکیسی دپاره شرا یـطبیل دی او هم دکیسی د لیکنی دپاره بیله ژبه اوبیل اد بیا ت دی اوزموږ دلیکوا لو نوی کیسی د نوی و خت او زمان او غو ښتنو انځورو نه‌دی.

په دغو کیسو کی دهند د مشهورمعاصر کیسه لیکو نکی (راجندر۔ سنګ‌بیدی ) خبره (دزما نی دنو ی‌انسان څهره عکاسی شو یده هغه انسان چی دپرو نی انسان سره په‌هرلحاظ زیات توپیر لری.(۲).

---

۱ـ دهنر مینځ ته راتګ او پیل‌ـ پلوشه ۱۳۵۶ ـ ۷۳ مخ
۲ـ شبستان اردو دا یجسټ ډهلی۱۹۸۵ ـ۱ کتو بر

پرو فیسسر عرش صد یقی بل نومیا لی کیسه لیکو نکی وا یی چې د نوی ژوند سره نوی کیسی وزیږیدلی که په شعر کی مثنو ی او قصیده مړه شو یده نو انسان خپل نو ی ژوند اوس پیل کړیدی . (۱)

لیکن زما په عقیده بله اهمه اودنن دپاره (بنیادی مسله داده چې پوه شو خلك څه غواړ ی ، دلیکوا ل نه څه انتظار لر ی ، دلیکوا ل اصلی او ملی وظیفه څه ده اوددی ټو لو مسایلو نه جدی مسله دز مان نیاز او دټولنی غوشتنه ده .(۲)

دغه وجه ده چی لیکوال ،شاعر نقاش اوبل هر هنر مند نشی کو لی او نه باید دخپلی ټو لنی نه جدا اولیری ژوند وکړی.

لیکوال ، شاعر ، نقاش او سندر بول، دخپلی ټولنی په غیږ کی زیږ ید لی او لو بید لی او دغه ما شو م د خپلی ټو لنی د ځانګړ و شرا یطو محصول دی. دهغه تن و جوداوروح په دغه ټولنی پوری اړه او تعلق لری. هغه لیکوال ، شاعر او هنر مند چی خپل خلك اوخپل هیوادونه پیژنی اود

هغو ی ددرد له ژور وا لی نه بی خبره اوسی دخپل ولس او خپلو خلکو او هیواد نماینده لیکوال ، شا عر اوهنر مند نشی کیدی . دټو لنی نه بیرون پاتی کیدل ، دټو لنی ددردنه احساس کول دی او دټولنیدردنه احساس کو ل هنر مند ، لیکوا ل اوشاعر دمرګ معنیٰ لری.

وایی (الکسی ماکسمو یچ پشکوف، چی وروستهیی د(ماکسیم کورکی) په نوم نړیوال شهرت او محبو بیت پیداکړو داکتو بر انقلا ب ۱۹۱۷ نه ډیر مخکښی په ۱۹۰۱ کی د (مارغه او طوفان ) په لیکلو اود (ژوند) په مجله کی دهغه په خپرو لو ټو له روسیه و خو ځید له او په وګړ و کی

---

۱ـ نوای وقت لاهور ۱۹۸۷ مارچ افسا نه زیږ یږ ی دعر ش صد یقی مر که ادبی مخ

۲ـ څو طرحی اومقالی دار یوش عباد اللهی وا حد ـ دنو بل خپرونه تهران ۳۴ مخ

یی عظیم هیجان را پیدا او په حقیقت کی یی یو انقلابی روح د خلپی ټولنی په مړه کالبوت کی ورداخل کړ.(۱)

او په دی ډول گورکی د خپلی ټولنی په وړا ندی خپل تعهد په ځای کړو.

زمونږ دخلکو په ضد د نا اعلان شوی جگړی نه ورو سته دلیکوا لو دپاره د لیکنی نو ی شرایط مینځ ته را غلل او په دغو نو یو شرایطو کی ،زمونږ کیسه لیکو نکو هم دخپل هیواد دزهیر او محنت کش انسان د ژو ند وا قعیتو نه و لیدل اودر بر یدلو انسا نا نو چیغی او فر یاد و نه یی واور ید ل. ددغو چیغو او فر یادونو نه نوی کیسی وزیږ ید لی چی دهغو یوه کوچنی نمونه دیو څو افسانو د مجمو عی په شکل ستا سو مهربا نو لو ستو نکو په اختیار کی ده چی دهغو یوه بر خه ماد ځینو عینی شا هدا نو نه اور ید لی دی. په دغو کیسوکی دافغا نی ټو لنی د مظلو- میت آواز او چت دی. درو حی او جسمی کړاوو نو دردو نکی تصو یر په کی انځور شویدی اودزیارکښ انسان د خولو سره دهغه وینی گډی شوی اودفرا نسو ی ستر شا عر (شارل بود لر) په قول (هغه گلو نه چی په دوزخ کی زرغو نیږی) ور نه جوړ شو یدی.
دغه کیسی ټو لی دافغا نستا ن دز یار ایستو نکی انسان د ژو ند عکاسی ده چی د وا قعیتو نو په تکیه دتخیل د عنصر نه پوره استفاده شو یده او هر تصو یر په هنر ی رنگ پرداس شویدی .

په کیسه او داستان کی ژبـــه دیو همیشنی اصل په تو گه مهم نقش لری او زمونږ مطلب دژبی نه هغه هنر ی نثر دی چی پخوا می ور ته اشاره کړ یده .

که نن دعصر او زمان د غو ښتنواو ایجا با تو تر مخی ، دلنډ ی یا

---

۱ـ مارکسیم گورکی ، دانشکده های من ۹مخ

مینځنی کیسي فو رم‌او محتوا دواړوتغیر مو ند لی وی نود لیکنی‌اسلو ب
او طریقه یا تکتیك هم خا مخا نو ی بڼه غوره کوی اوهغه‌ژبه‌چی‌دهنری
نثر په ډول کیسه ور باندی لیکل‌شو یده یا لیکل کیږی په یقین سره
باید دلچسپه او په زړه پو ر ی‌و ی چی‌لوستونکی یی په الوستلو کی
دتکلیف او زړه تنگی‌احسا س‌ونکړی‌اوما مخکښنی وویل چی نن مو نږ د
پخوا نو کیسو په ژبه داوس و خت‌کیسه او افسا نه نشو لیکلی او نه
به داکار سم او اصو لی وی.

داوسنی کیسی دلیکلو دپاره‌یو وضع شو ی ډیر عمده او مهم اصل
(لنډ یز ، او اختصار) دی یعنی په‌لیکنه کی باید اضا فی خبر ی او بی
ضرور ته ټکی او عبا رات نه اوسی‌او د کلماتو د استثمارنه ډډه‌شوی
وی. دځینو کیسه لیکو نو ځینـــی (افسانی‌داسی‌وی‌چی اد(اتم)او(تخیل)
نه یی کلیمات زیات ښکلی وی اودیوډیر لو ید لی مطلب او مو ضو ع
په کا لبوډ یی دکلیما تو ډیر ی‌اصلی‌مر غلری جې او شوی وی چی زمو نږ
دهیواد په کیسه لیکو نکو ملگروکی‌ځینی دغه شان محترم کسان هم
شته دی

که چیر ته دالما نی شا عر او ادیب (هانس زا خس) دغه خبره او
وینا سمه او ربښتیا وی چی هنراوخلك یودبل په څنگ کی وده کو ی‌او
لوړ مقام ته رسیږی ،نوپه ټولنـه‌کی راغلی بنیادی بد لو ن هم با ید
زمونږ دشعور او کیسی په تم او تخیل کی اساسی تغییر راو لی ،د
نوی ژوند ن عکاسی په وا قعیت سره‌وشی او هنر یو ضرور ت وپیژند ل
شی نه تفنن.

دیو لالها نده او سر گردا نه ژوندتصو یر ، خا مخا دیو سو کا له‌او
خو شحا له ژوند د تصو یر سره بنیاد ی‌توپیر لری، او هر تصو یر
ځا نله رنگ او قالب لرلی شی.

وا یی چی په کیسه او افسا نه‌کی دانسا نی ذهن دتکا مل مرا تب

ډیر ښه معلو میدای شی. دولسو نوشفا هی کیسی او افسا ی اونکلو نه، ددوی د ابتدا یی مر حلو ډیر ژو ندی مثا لو نه دی. نو که چیر ته مو نږ په اوسنی و خت اوانقلابی سختو شرایطو کی کیسه او افسا نه لیکو نوایا دابه را تلو نکو نسلو نو ته زمو نږ دذهن او چا پیر یال دتکا مل بیلگه په لاس ورنکړی او هغو ی به دد ی وخت او زما نی د زهیر او ربړیدلی انسان دکړ اوو نو په حقیقت خبر نکړی .

آیا مونږ همدا نن ، د (آدام خان اودر خا نی ) (فتح خان او را بیــا) (ښادی او بیبو) (مومن خـان اوـ شرینو) د فـو لکلـوری کیسواو ولسی نکلو نو په لو ستلو د هغه و خت دافغا نی او پښتنی ټو لنی د حالاتو تصو یر نشو لید لی او د هغه و خت دخلکو دذهنی تکا مـل اندازه نشو لگو لی؟

مونږ مخښکی یادو نه و کړه چی افسا نه د مختلفو اوبیلا بیلو اجزاو عناصر و او بر خو نه جو ړه ده اودا ټول پخپل خپل ځای کی مهم دی چی ددغو دیوه په کمبود کیدو سره هم کیسه ناقصه او نا تما مه پا تی کیږی. دغه ټول اجزا او عنا صر په خاص مهارت سره دکیسه لیکو نکی له خواد هنر ی نثر په مر غلین مزی پیل کیږی چی داد کیسی تکتیکـی اړخ تشکیلو ی په کیسه کی مختلف (کرکټرو نه) په یوه گډ ه او شریکه ژبه خبر ی کوی او هرځه په یوټا ـ کلی محور چورلی . ددغه نظام گډو ـ ټول او دکیسی د چو کا ټ او قالب ټول په حقیقت کی داافسانی مرگ دی .

په ټو لنه کی دوا قعیتو نو لیدل او په یوی افسانی کی دهغو انځور کول دیوی ر یالیستیکی کیسی وجود تشکیلوی او ریا لیزم زمو نږ دعصر داادبیاتو روح گڼـلی شی. ډزیار ـ ایستونکی اومبارز انسان د ژ وند ا ـ نه عینی واقعیتونه ددی زمانـــی دکیسو اصلی (تمونه) دی. دظـلم او استبداد په ضد قیام او د مظلوم انسا نیت د آوازپور ته کو ل، دروانی

سړی د هنر اصلي خصوصیت دی او د کیسې او افسانې تخلیق کوونکی
هم په واقعیت کې یو هنرمند دی. رسام او نقاش د رنګونو په استعمال
یو تابلو جوړوي او دغه تابلو پخپله د یوې موضوع معرفي کوونکې وي
او افسانه لیکونکی په هنري نثر، د کیسې په فورم کې د خپلې ټولنې یو
واقعیت ترسیموي او انساني جامعه ته یې د یوې تابلو په حیث چې ټول
جزیات او کلیات په کې ښکاره شوي او برجسته شوي وي وړاندې
کوي دو چې هر څومره ټولنه تحول مومي او بدلون پیداکوي، هنر په
همغه اندازه د هغه سره یو ځای د ودې او تکامل په لور وړاندې ځي، په همدې
دلیل موږ د (هانس زد خس) نظر او عقیده صحیح بولو چې وايي:

هنر او خلک یو د بله سره وده مومي او لوړ مقام ته رسي.

نن چې زموږ ټولنه، د نا اعلان شوې جګړې نه د راپیدا شوو شرا
یطو په غېږ کې د نویو مسایلو او مشکلاتو سره مخامخ ده نو د یو
کیسه لیکونکي په توګه نشم کولی دغه واقعیتونه له نظره وغورځوم.
زه د افغانې ټولنې یو غړی یم او په جامعه کې د ښتو دردونو او غمونو
لړی نشم پاتې کیدی ځکه چې یوه جامعه، د یو واحد پیکر حیثیت لري
او په دغه ټولنه کې غم او درد. ښادي او خوشحالي هم شریکه وي.
په دغو کیسو کې چې د هغو وړه مجموعه ستاسو پلاس کې ده، دغه
واقعیتونه، دردونه او غمونه انځور شوي دي خو دعوه نشم کولی
چې دغه انځور به جامع او کامل او سي. په دې برخه کې زه د زړه له
کومې قدرمنو لوستونکو ته خپل عذر وړاندې کوم.

په دغو کیسو کې د بارو تو بوي، د هیروئین وجود او د افغانستان
د خلکو په ضد د نا اعلان شوې جګړې او تریخ لوګي، په محسوس او نا
محسوس ډول تر سترګو کیږي، د جګړې تور لوګي چې اوس هم د
دښمنانو ډلري نه زموږ د هیواد د شین آسمان په مخ را خوریږي
او دغه پاکه هوا او فضا کرغېړنه کوي.

ډیر ښه معلو میدای شی. دولسو نوشفا هی کیسی او افسا ی او نکلو نه، ددوی دابتدا یی مر حلو ډیر ژو ندی مثا لو نه دی. نو که چیر ته مو نږ په اوسنی و خت او انقلابی سختو شرایطو کی کیسه او افسا نه لیکو نوایا دابه را تلو نکو نسلو نو ته زموږ دذهن او چا پیر یال دتکا مل بیلگه په لاس ورنکړی او هغو ی به دد ی وخت او زما نی د زهیر او ربړیدلی انسان دکړ اوو نو په حقیقت خبر نکړی .

آیا مونږ همدا نن ، د (آدام خان او در خا نی ) (فتح خان او را بیـــا) (ښادی او بیبو) (مومن خـــان او شیرینو) د فـــو لکلـوری کیسو او ولسی نکلو نو په لو ستلو د هغه و خت دافغا نی او پښتنی ټو لنی د حالاتو تصو یر نشو لید لی او د هغه و خت دخلکو دذهنی تکا مـــل اندازه نشو لگو لی؟

مونږ مخښکی یادو نه و کړه چی افسا نه د مختلفو او بیلا بیلو اجزاو عناصر و او بر خو نه جو ړه ده او دا ټول پخپل خپل ځای کی مهم دی چی ددغو دیوه په کمبود کیدو سره هم کیسه ناقصه او نا تما مه پا تی کیږی. دغه ټول اجزا او عنا صر په خاص مهارت سره دکیسه لیکو نکی له خواد هنر ی نثر په مر غلین مزی پیل کیږی چی داد کیسی تکتیکـی اړخ تشکیلو ی په کیسه کی مختلف (کر کټرو نه) په یوه گډ ه او شریکه ژبه خبر ی کوی او هرڅه په یوټا ـ کلی محور چورلی . ددغه نظام گډو ـ ټول او دکیسی د چو کا ټ او قالب نږول په حقیقت کی د افسانی مرگ دی .

په ټو لنه کی دوا قعیتو نو لیدل او په یوی افسانی کی دهغو انځور کول دیوی ر یالیستیکی کیسی وجود تشکیلوی او ریا لیزم زمو نږ دعصر دادبیاتو روح گڼـلی شی. ډزیار ـ ایستونکی او مبارز انسان د ژ وند ا ـ نه عینی واقعیتو نه ددی زمانـــــی دکیسو اصلی (نمو نه) دی. ذظـلم او استبداد په ضد قیام او د مظلوم انسا نیت د آواز پور ته کو ل، دروانی

زمونږ د خلکو دا من او سو لی‌آواز ته لاوس هم د جنگ دیو غور یږ ی او دغی جنتی خاور ی ته‌لاوس‌هم د دښمنا نو ستر گی کږ ی دی. افغا نستنان اوس هم دجنگ او نا اعلان شو ی جگړ ی دلو گو نه پـه تکلیف کې، دی او زمو نږ د پلارنیکه‌سکه بچی تر ننه پور ی په بهر نیو ملکو نو کی ایسار سا تلی‌شویدی.

دوطن نه دلیر پا تی کیدو درد هم‌دهغو سره دی چی دهیواد نه لیر ی دی او هم دهغو سره دی چی په خپل‌سر لوړ ی هیواد کی اوسیږ ی او نن سبا چی په کابل کی دامن او سو لی کو م سراسر ی کنفرانس جوړونکی دی دهیواد نه دبیرو ن او دهیواد دننه افغا نا نو امیدو نه او ار ما و نه ور پور ی تړ لی‌دی.

امن‌اوسوله‌په‌اوس و خت کی د ټـول بشر یـت او دټـو لـو افغـا نـا نـو ملی ار مان‌دی‌اوددی‌ار مان دپوره کیدود پاره دافغا ن سا هوو لس نما ینده گان را غو نډیږ ی او د خپل تار یخی دود سره‌سم سراسر ی جر گه جوړو ی ، نن‌سباد هرافغا ن لاسو نه دا من اوسو لی دسرا سر ی جر گی دکا میا بی په‌دوعا پور ته دی او دخدا ی پاك(ج) نه دهغه ناسور رغید ل غواړ ی‌دکوم‌په باب چی دغه کیسی لیکلی‌شو یدی اوکوم چی زمونږ دولس او خلکو په‌وجود کی ددی وطن دپر مختگ او سوکالی اوپدی ویاړلـــی هیوادکی دامن اوسو لی دښمنا نو را پیدا کړ یدی اوداد ی دهغه دعلاج دپاره‌سراسری جرگه جوړ ید و نکی ده.

زه ددغه سراسری کنفرانس دبر یا لیتوب او دهغه نه دغوره نتیجو تر لاسه کیدو په هیله دخپلوکیسو دغه مجمو عه دا من اوسو لی کانفرانس ته وړاندی‌کوم، هغه‌امن‌اوسو له چی دافغا نستان لکو نه‌او ملیو نونه اود سو له دوستی نړ ی‌کروړو نه خلك دهغه په انتظار کی کی‌دی. ...

هغه امن او سو له چی د هیوادنه بهر مرور او خفه شو ی ورو ڼه دهغه

په‌امید ژوند ی دی او دوطن په یـاد دوبنکی تویو ی دیر دیسی دسختی شیبی برداشت کوی او خپل کور ته‌دبیرته را ستنیدولاری لـتهـوی... بریدو نـه ما تـوی لو خنـدو نه‌دمینځه وړی او هغه امـن اوسولـه چی دخدا ی حکم دی والصلح خیر.

غوث خیبری‌غوری مینه دسنبلی ۳۰ــ ۱۳۶۶

PROPERTY OF ACKU 2968

# پردیس

.... او ما دلو مړ ی ګل دپاره دخپلو وینو مزه و څکله ، هیڅکله می دافکر نشو کو لی چی زماو ینه به‌دو مره تروه وی، داسې را ته‌بنکاره شوه چی په دنیا کی دټو لو غر یبانو وینه تروه ده او یواز ی معتبر خلك، هغو ی چی سحرا وبیګا غو ړ ی‌دوډی‌خوری اوبنه نعمتو نه ور ته پـــه دستر خوان پرا ته وی، د هغو ی‌وینه خوږه وی دامی دنورو د خو لی اور ید لی چی دهغو په‌و ینه کی هم‌شکره پر ته وی، څه خبر یم چی داربنتیا دی که دروغ...

/ داځنګه پیښن شو ل چی ما دخپلی‌وینی مزه و څکله ، خبره داوه چی دشپې تیاره به خوره شوه او مونږ به‌خپله ډیوه مړه کړه، نو ما شوم چنار ګل به ګرار ګرار ژړا شرو ع‌کړه هغه به همیشه زما او دخپلی‌مور (بخت جما لی) تر مینځه پرو ت و لیکن بخت جمالی به دهغه‌سره‌ډیره حوصله کوله دهغه په ژړا بـه‌یـی‌چرت نه‌خرا بو لو ، حتی چی زما نه‌به هغه ډیره ژرو یده کید له او بیا به‌دڅانه او جها نه خبره نه‌وه. په‌دی علت هم شپه نه‌پوهیدم چـی بـخت‌جما لی ته خو ب دو مره ژر څنګه راځی او زه دنیمو شپو پو ری‌ویښ‌پروت یم، خود چنار ګل ژړا د بی خو بی نه هم یو غټه مصیبت و اوپه‌هغه شپه می حو صله تنګه شوه‌اود چنار ګل دو هلو دپاره می لا س‌پورته‌کړو اودلاس پور ته کو لو سره می

گو تی داغزو په هغه پیتهی ولگید یکوم چی زما سر ته پرو ت و اومونږ بەدډوډی پخولو دپاره ذهغەنه کار اخیستو گو تو می یو سوزش وکړو اوبی اختیاره می هغه خولی‌تەیوړی‌داکار زمانه بی اختیاره و شوااو پەدی و خت کی زما خو له تروەشوەپوه شوم چی گوتی می‌وینی شو-یدی، تیاره وه، په ټوله‌کیږدی‌کی‌ستر گه په ستر گه نه ښکار ید له زه هم په غوسه شو ی وم په بخت‌جما لی می غږ وکړو:

– بختی .... وابختی .....کم بختی څو مره .....

بخت جما لی زگیرو ی و کړواوپەورو آواز وویل :

–نن شپه می زړه بیا درد کولو تیره شپه خو بیا ښه وم او ننزیاته ستړی شوم څکه .....

مادبخت جما لی خبره.غوڅه کړه اوپه قهر می ور تەوویل:

–کړ تی مه کوه، پا څه ډیوەولگوەچی گو تی می وینی شو یدی . اوس بەمی جا می بی نمازه کړی ....

بخت جما لی ډیوه ولگو له او دډیوی په رڼا کی می گوتی پەوینو الړلی والیدلی . بخت جمالی‌ماتـــەوکتل او پو ښتنه یی وکړه.

– دااولی‌دچنار گل پلاره ...!

لاس او گو تو می چندان درد نه‌کولو لیکن وینی می هسی بېا نه کړی او په قهر می بخت جما لی تەوکتل اوومی وویل:

–ښځی دغه هلك می لړ مو نخوړلی ماوی چی چیر ته یی سرد تیږی لاندی کړم.....

بخت جمالی دخوب اودردنه پـــەډکو ستر گو ما ته و کتل اواوښکی یی په ستر گو کی ډنډډنه شو یپەنیو لی او غمجن آواز یی وو یل:

– دایو ډکی دی هم پەماتەپیروز کیږی. دخدای مال دی سرپەډهغه

څه گناه‌ده ..... په قهر می د بختی‌لاس دځا نه لیر ی کړو او په غوسه ېی دهغی نه دکیږ ی غو ښتنه وکړه‌چی وینه ور باندی پا که کړم او ګو تی‌ور باندی و تړم ....

بخت جما لی یوه پا که ټوټه راکړه‌اوګو تی می ور باندی وتړ لی او چنار ګل ته می بدبد و کتل....چنارګل یوګلن و خو ددوه ګلن‌برابریی ونه جګه شوی وه، اته کا له زما‌اودبخت جما لی دواده شوی وو او په دی اتو کا لو کی یواز ی چنار ګل‌دمور غیږ ډکه کړ ی وه اوبس، او لادو نه در ی خلور وشو لیکن ټول‌پټی سترګی لاړل او دغــه چنارګل را ته ژوندی پا تی شوی و. ....

یوځوی همیشه نازولی وی اوچنارګل هم نازو لی و خو کو مه ور ځ چی دی پردی ځمکی ته را غلو اوپه‌پردی خیمه کی مو ژوند شرو ع کړو نود چنار ګل په باب هم زما طبیعت‌تغییر وکړو ، اوددی و جه داوه چی دی پردی خیمی په‌ما ډیر بد تا ثیرغور ځو لی و بی اختیاره می دیو ی ورځی نه بلی ور ځی ته‌تغییر کو لواو پخپله پو هیدم چی په ما څه‌روان دی.

زمونږ دخیمی نه دشمشاد څو که‌له ورا یه ښکار ید له ، او د ی‌څوکی ته به ماسحر او مابنام کتل، مانځه‌ته‌په همغه لورو در یدم ځکه چی قبله همغه‌خوا وه او چی کله به‌می ددوعالاسو نه پور ته کړل ، دلا سو نو په محراب کی به می شمشاد کتلو ،هغه‌شمشاد چی ما د هغی په غیږ کی لوبی کړ ی وی او لوی شوی وم. همدااوس دشمشاد دخاورو او تیږ و بوی زما په دماغ کی تازه دی خو هغه بوی، ددی خیمی په خاوره کی نشته دی. څوځو وار ی می دبخت‌جما لی نه پوښتلی‌دی چی ددی‌خیمی بوی خوښړی وژنی، زما خوپه دی زړه‌پل شانته لګیږ ی ....ته...

یوه ورځ بخت جما لی په خبره کی‌راودنگل اوویی ویل .

ـما ته خو په کی دزړه درددراپیداشو او خدا ی خبر چی ددغه دردنه به ژوند ی پا تی شم او کنه .....څو ار لس میاشتی شوی وی چی مونږ دی خیمی ته راغلی وو. دلته موږو ند دتیر و خت نه لس چنده خراب شو،هره‌خوا راته پردی‌پردی‌دی ښکار یده بد لی ځهری موسحر اوبیګا لید لی ، دغه ځهر ی داسی‌وی لکه کو ته سکه، زړه موور باندی نه‌خوږ یدو، مینه موور با ند ی‌چندان‌نه را تله ،انسا نان خو ټو لظاهراء یو شان دی،خو په‌دی علت نه‌پوهیدم‌چی‌ولی یوه‌ځهره خوږه او بله ترخه وی. څوار لس میاشتی موږ په دغه‌خیمه کی تیری کړی وی او په دی موده کی بخت جما لی هم زیا ت تغییرو خوړ .درنګ‌اورخ سرخی‌یی دمینځه لاړه غوښینی مـتمی اوقوی‌ا ندا م یی کا وا ك او سســت‌شانی شوه په‌اندك کار به نــاجوړه شوه‌اوپه وړه خبره به‌یی سترګو لـــه اوښکی راغلی .

دهغه دژو ند یواز ینی مشغو لاهمغه چنار ګل‌و، مابه کله کله هغی ته‌په دقت کتل او خپه کیدم به. ځان به‌راته ملا مته او شرمسا ر ښکاریدو ځکه چی بخت‌جما لی دورو ستی شیبی او ور ځی پور ی ماته مشوره رانه‌کړه چی دخپل کلی‌کور نه‌کډه وا خلم او دلته ، دی خیمی ته‌راشم ، هغی‌څو واری‌زه ملامته کړی وم چی‌و لی خپل نغری سوړ پرید م او بلی خوا ته څم ،هغه خوا چی آینده یی نا معلو مه‌ده اوپه عاقبت یی ځوك نه شی‌پوهیدلی‌هغه خوا چی بی لور ی او بی‌لودنه ده...

زه په‌لیك لو ست ډیر ښه پو هیدلم خو بخت جماله بی سوا ده‌وه لیکن باشعوره او بافهمه ښځه وه‌ډیرو وړو وړو خبرو ته یی پا م

کیدی شو، کله چی ما هغې ته داخبره وکړه چی بایدله خپل کور ه لاړ شو نو هغه حیرانه شوه او په‌تعجب یې‌زما نه تپو س وکړو:
— دچنار گل پلاره ... ! دا ته‌څه‌وایې . چیر ته ځی او کور اور پریږدی ؟
ماوویل :
— چیر ته چی‌نور تللی دی ...
بخت جمالی گو ته په رخسا رکیښودده او په دقت یې زماخو لی‌ته وکتل ،لږه شیبه چوپ پاتی شوه‌او بیا یې وویل:
— هغوی چی تللی خو خوشحاله نه دی او په‌غمو نو ککړ دی او ...
مادبخت جمالی خبره غو څه کړه‌او وچولی می‌تریو کړو، په‌غو سه می ور ته‌وویل:
— بختی ډیری خبری مه کوه ، خبره خلاصه ده او سبا شپه به‌کډه باروو ...
بخت جمالی ماته‌په کتلو دسترگو نه او بنکی توی کړی او لاړ ه په کونجکې کیناسته ، زه دکو تې نه‌بهر لاړم اودشنو پټیو خوا ته‌روان شوم ، هلته می د(اکرم)سره‌و عده‌وه چی په خپله معا مله به خبر ی کوو .د وعدی په‌ځای کی‌راته (اکرم) ولاړو، دپټی په‌پو له کینا ستـو او خبری مو شروع کړی ، اکر م‌وویل:
— فارو قه ... ! ښوك چـــی‌چالاك وو هغوی پښې سپکې کړ ی او ګلی یې پریښود ،ځانو نه یې‌بلی خوا ته‌و یستل ، کار جوړ دی او سبا شپه به دی کډه په قچر وبارکړو، سباغر مه یابل ماز دیگر به‌که خیروی خپل منزل تـــــه‌ورسیږ ی ...
اکرم خبری کو لی او ما مخا مخ‌هدیر ی ته‌کتل چی زمو نږدپلرونو او نیکو نو قبرونه په‌کی‌وو . غوږمی اکر می ته‌و لیکن سترگو مـــی

قبرونه کتل ، په‌تازه قبرونو کی‌می دتازه مړوخپړه رایادو له ،دهر یوه مخ شغلی و هلی او پړه قیدو،سره سره اننگی او خو شحا لـــه بشری ...

اکرم پوه شو چی زما فکر بله‌خوا دی نو لاس یی راته‌په مـــټ کیښودو او ویی ویل:

ـ هلکه فارو قه ...! خه‌چرتونه‌وهی ، مړه وخت مه ضا یــــع کوه ...

ورو می مخ اکرم ته‌وا ړو لو اودهغه سترگو او تورو شخوبڼیتوته می و کتل ، بیا می لاس هدیر ی‌ته‌ونیو او هغه‌ته می وویل:

ـ اکرمه ... ! دغی مخا مخ‌هدیری‌ته می کتل ، خپل دپلار نیکه،خپلو خپلوانو دقبرونو سرو جنډو تـــه‌می کتل ...

اکرم پړک پړک و خندل او و یی‌ویل:

ـ هغوی دی الله تعالی و ښښی‌خوږو ندی دی هم خپل کارکوی، بس‌زه‌لاړم ...په خپله‌ږ عده بـــه‌راشم ...

اکرم لاړ ، هغه ډیر ی خبر ی‌کړی‌وی خو ما لږ ی او ریدلی وی ، اود ټو لو نه‌زیاته می آخری خبره‌په‌غوږ کی انگازه شوه چی هغـــه وویل په خپله و عده به راشم اودغه وعده سباشپه وه ...

لږه شیبه می بیافکر خراب شو،خواو شا شنو پټیو او مخا مـــخ دهدیرو سرو جنډو ته می‌و کتل.په‌زړه کی می یو توفا ن راو لاړ شوی و او مغزو می جو ش‌خوړلو،دو جود رگو نو می دردکولو اوسر تر پایه ناآرام او پریشان‌وم ...

داکرم دتللو نه ښبایسته ښـــه‌شیبه وروسته له‌ځایه‌راپا څید م او کورته روان شوم ، په‌کور کی می‌بخت‌جماله سری ستر گی و لیدله او پوه شوم چی هغی غر یبی ډیرژړلي دی . بخت‌جما لي چي ما ته

وکتل ئود پړو نی په پیښکه یږزمادستیرګو نه دوه خلخکي او ښکي پاکي‌کړ ی ،زه په څان نه‌و م پوه‌شوی چې دغه او ښکي کله او څه وخت زما په‌ستیرګو کي را پیداشوی‌او بیارانو یې شو یدی او بخت جمالي په څومره مهربانۍ هغه ز ماد‌ستیرګو او مخ نه‌پاکي کړی.

بخت‌جما لي په‌سر بالندی پړو نی‌سم کړو او ویی ویل:

-یوه پیاله چای نه څښې ؟

په ګړه کي کینا ستم او بـخت‌جمالي ته‌مي وویل :

- بختي ! نقدی پیسی به زمد څان سره وا خلم اود ستـــر واو سپینو کالي (ګاڼه) به ته غو ټـه‌کړی ، خبره بس دسبا شپی ده... داراته‌و یلي شي چې که کـــډه‌وته کړم خو ژو ندی به می هـــم پری‌نه ږدی ... هغه شپه‌راورسیده‌او مونږ داکرم دسړی سره ووا ټ شوو ، په‌لاره کي شنه پټي‌اوکنډی‌کپر ی زیاتی وی ، خو چې‌غر نی سیمی ته راور سیدو‌لاره مشکله اوسخته شوه. چنار ګل به‌کله ما او کله بخت‌جمالي وا خیستو . پـــه‌قچرو‌یاندی بکسونه اوبستری با ر وی اود اکرم سړی مخکي مخکي روان‌و. لکه څنګه چې اکرم ویلي وو، دریمه‌ور څ ماز یګر ماز یګر ،هغه منزل ته ورسیدو ګوم چې‌بایده شپه دوه هلته پاتي شوی وا ی .چنارګل تږ له لارو یده و، مو نږ دریمه شپه دغې خیمی ته‌راورسیدو چې نن په‌کی ژو ندګوو .

په لاره کي مو مصیبتو نه‌ولیدل،هره شیبه مو مرګ په‌ستر ګـــو لیدلو ، دنا‌پیژ ندو نکو تو پـــك لرونکو نه مو ویره وه هغوی په هیڅا رحم نه‌کولو لاری د یـــر ی‌سختي‌و ی او که داو پو ذ خیره‌را سره نه‌وای نو دتندی دلا سه مومرګ حتمي‌و ...

دخیمی شپه راته دقبر شپـــه‌ښکاره شوه څکه چې د خیمو ژوند

مو کله نه‌و کړي او تصور یې هم رانه‌ګران‌و . لیکن او س مو هغه ولید ...

مونږ داسې‌وو لکه سړی چې په هوا خوړ نه‌وي ، او یاداو بوپه سرولاړوي ، په او له‌شپه چې له‌کوره راوو تلو تیاره را سره ملګري شوه اود خیمې دشپې ور څــــې‌پورې راسره ملګري وه . په خیمه کې هم تیاره وه او بیرو ن هــــم، چنارګل او س درې کلن شوی واو چې دشپې به مو ډیوه مړه کړه نو دهغه ژړا به‌شروع شنوه او هغه‌شپه مې‌په څپیړه ووهلو چې لاس مې‌داغزو په‌پیتي و لګید او ګو تې مې وینې شوې ...

هلته مونږ داغزو په بسترپراته‌وو ،دژو ند هیڅ نوم‌و او بس ...

په‌تیاره کې موژوند و اودرڼــا امیدراسره نه‌و ، بخت جما له دزړه په درد اخته شوی‌وه او چنار ګل‌هم‌جوړ نه‌و ،ډیرو خت په دوادرمل پسې ګرځیدم خو هغه مې په ډیره‌مشکله پیداکو لی شوه دلیر ی‌نه دوطن احوال راتلو اود ټو لو نه نژدې راته دشمشاد خو کــــه ښکارید له . بس هغه ته مې کتل‌اودزړه تسل مې کو لو ...

کله کله چې به انګریزا ن یانورړا غلل نومونږ به حکو متې‌کسانو یو لوی او ارت میدا ن ته‌وویستواو هلته به‌یې کینولو چې‌د هغو ی خبرې واورو او چې څوك به‌نه تلل‌نوو هل به‌یې څو ړل او ما څــــو واری وهل خوړ لی‌وو ...

هفتې او میاشتې په یو ګو نګ‌او نا مفهو مه حالت کې راباند ی تیر شو ل ،زیا ت وخت مې دبخت‌جما لی دسرو یا سپینو ګاڼه،ښبار ته‌وړ له اود هغه ځای‌نه‌مې دوا درمل‌راوړ ل ، په دې ژوند مو هم‌قناعت کړی‌و خو یوو خت دښبار ته هم‌منع‌شوو او حکم‌و شو چې هیڅو ك ښبار ته‌نه‌شي تلای او چې څو ك پـــه‌ښبار کې وو هغو ی یې هم خیمو ته

راو ستل مژو ند دیو دروند پیتی‌په‌شان زما په‌سر او اوږو فشار راوړی و . بخت جما له ور ځ‌په‌ورځ‌خرابیدله او ژیړ ید له ، یواز ی چنار گل دهغه دزړ ه تکیه اودروح‌خو شحالتیا وه او بس ...

په دی پوه شوم چی که بخت‌ـ‌جمالی ته در مل‌ونه‌رسیږ ی‌د مینځه ځی اودبلی خوا پیښنور ښار ته‌تګ هم منع شوی و نود لیو نیو پشان می عقل پریشانه شو ،چاره‌می لټو له چی څنګه ښار ته لا ړ شم اود بخت جما لی دپاره در مل‌راوړم ، یوسړی چی زمو نږ د خیمو څارنه‌یې کو له او زه یی په‌ژبه نه پوهیدم، همیشه د خیمی‌په مخکی تیر یدلو ، یوه‌ور ځ می هغه‌دخیمی په‌خو له کی ودروو اودپیسو یوه‌ړو کی بنډل می ور کړو .بیامی‌ورته د دواپو ړی ور ښکاره کړی او ورته‌می په اشاره کـــی‌وویل:

ـ دغه دغه ... دوا ... زه‌زه ...له‌ښار نه راوړ م... اود چنار گل په ښودلو می‌ور ته په اشاره کی‌داسی وویل چی ددغه ماشو م‌مور ناروغه ده...

هغه سړی چی پښتون نه و خو بیا هم زما په خبره پوه شو ،دیی خندل او زه یی په‌شاو تیولم او داسی یی‌وپو هلوم چی‌نور کو لی شم په‌پټه ښار ته‌لاړ شم او درمل‌راوړم .بس دغه کارزما دپاره د یو ستر نعمت حیثیت پیدا کړو، کله‌ناکله په می هغه سړی ته پیسی ورکولی او ښارته به د دوا دپاره تللم ...

هفته نیمه په همد غه ډول ښار ته‌لاړم او دوا می دبخت جما لـــی دپاره راوړله. دویمه هفته وه چی‌زه دښارنه ناو خته خیمی تـــه راوور سیدلم ، هلته په‌خیمه کی‌بخت‌جمالی ژړل او ټول مخ یی په‌اوښکو لوند شوی‌و ، خیمی ته دورتنوتلوسره می په وار خطا یی هغه تـــه وکتل او پوښتنه می‌وکړه:

— بخت ولی ؟ درد دی زیات شویدی ؟ په ما بانددی لوڼاو ختله شو ... بخت جما لی سترګی پاکی کړی اود ژړا نه په ډك آواز یی ځواب راکړو:

— دچنار ګل پلاره ! چنار ګل د سپهاره تر او سه نه دی راغلی، خواو شا خیمی ماو لیدلی خو پیدا می نه کړو او هیچا یی پته هم رانه کړه...

نور می پسترګو تیاره را غله، په مغزو کی می درد احساس کړو، په منډه دخیمی نه ووتم اود چنار ګل په لټو لو می پیل وکړو ، دهری خیمی مخکی می همد غه آواز کولو چی چنار ګله ... چنار ګله ...

واچنار ګله ... هر چا به را ته ویل زوی دی ورك دی ... هلك دی ورك دی ، هغه تیره میا شت د فلانی زوی لود فلانی کور نی هلك هم لادورکه شو .... الله دی یی را پیدا کړی...

یوه شپه ، دوه شپی ، دری شپی او نوری شپی تیری شو ی لیکن دچنار ګل آواز مونږ وانه ور ید او نه یی چاپته راکړه ، هغه سری ته چی ماپیسی ور کولی ، هغه ته می هم په ژړا ژړا کی دچنار ګل د ورك کیدو خبر ورکړو خو هغه هیڅ و نه ویل او یواز ی یی ځه پښاو تپولم او په خپله مخه لاړ !.. دوه میاشتی دچنار ګل دور ك کیدو او لا ډر که کیدو نه تیری شو ی چه پیښور ښار کی می زیا ت کسا ن په دی خبر کړل چی زما دری کلن ماشوم چنار ګل ورك شو یدی ، په ښار کی می واوریدل چی د مها جرو په خیمو کی د غه کار همیشه کیږ ی تراو سه پوری زیا ت ماشوما نه ، نجو نی او هلکا ن ورك شویدی ...

د بخت جمالی حالت او س د خطر مرحلی ته رسیدلی و ، هغی د ډر ملو د خوړ لو نه هیڅ کو له اود کسـت مریضه شوی وه ، زمو نږ په خوا کی د پر تو خیمو نه به ښځی نارینه او بندخی تپو س له راتللی لیکـن

هیڅ د بخت جمالي علاج نه شو کولی، نه هم ستړي ستو مانه ، زبون او پریشانه شوي دم ، د شپې او د ورځې په منډو کېږم ، کله د بخت جمالي د بهارۍ په وجه او کله د چنارګل هوړك کېدو له کبله ، نه د شپې بستر ته تللی شوم او نه د ورځې داسې تصور مې کولی چې بستر مې د اغزو نه ډك دی ... په ډېرو خواریو او پیسو ور کولو مې دغه اجازه وا خیستله چې بخت جمال له پیښور نښار ته بو ځم او هلته یې په روغتون کې داخله کړم . دغه کار مې هم په رشوت ور کولو وکړو او بخت جمالي لوه ګانې د سرو او سپینو کالي مې پیسې کړې او د بخت جمالي د علاج د پاره مې و سره تللی . بخت جمال له په روغتو ن کې لا بد تره شوه ، چا به یو څه ویل او چا به بل څه ، هغه اوس دو مره کمزوره شوې وه چې په مشکل چا پېژندله لې شوه . تر هغه وخته پورې چې خبرې یې کولی شوې نو ه چنارګل تپوس به یې کولو او چې کله د خبرو ولو یده نو یواز ې په سترګو کې یې زمانه د ځپل ماشوم زوی او دري کلن چنار ګل پو ښتنه کوله ...

په بمبار کې به دلیو نو په شان د خپرې ګرېوان ګرزېدم او په ګو څو بازارو کې به مې د خپل اولاد لټو لو ، او ر مې د ننه په ګو ګل کې بل و او لو مو ن مې سو زېد لو ... په پېښور ښار کې یوه ور ځ یو بل موچاو دېدو او یوه پښه مې یم یووه ږه د ځان نه بې خبره وم چې روغتون ته یو ړ ی شوم او چې سترګې مې خلاصې کړې نو ځان مې په (لیډي ریډ ینګ)(۱) هسپتا ل کې ولید . سخته ژړارا غله او ځان مې د مرګ په خو له کې ولیدو . د مایو سې او نا امیدۍ څپو لا هو

(۱) په پېښور کې د یوه روغتو نه نوم دی .

کړیوم ، مابه دډاکترانو نهغوښتنهکولهچې ماپرېږدی چېځان بخت ـ جمالی تهورسوم ، لیکن دغهاجازهچا نهرا کوله ...

یوه میاشت ورو سته زهدروغتون نهرخصت کړی شوم لیکن دیوی‌پښې سره او پهروغتون کې یی را نـــهبمخوږ لی‌پښه غوڅه کړیوه . د رو غتو ن له خوایو لرګی راکړ یشو اود هغه لرګی سره زهدروغتون نهخارج شوم، هر څه چې می لرلهغه روغتو ن والاوو بیرتهرا نهکړل پهجیب کی یی راته یو څو پیسـی‌پریښې‌و ی ، اوس نو یوه تانګه می ودروله اودبخت‌جمالی دروغتو ن‌پته‌می‌ور کړه، ګاډ ی پهچټکی روانه‌وه اوزه پهکی د مړی په شـــــا نځنګیدم ...

نیم سا عت‌ورو سته ، زه دبخت‌جمالی روغتو ن تهور سید م او د هغه دکوټې خواته روا ن شوم ، یوه پښه می نهوه لیکن چټك روان وم، په دو مره ور څو کی می زړه‌هم‌نه‌وه خریلی او ویښتان می هم ببرشوی‌وو...

دروغتون دنرس په ملګر تیا می‌برابر ځان دبخت جمالی دبیمار ی کوټې تهور سولو ، د هغـــــــــی بستر دروازی ته مخا مخ و . خوبستر تهپه لیدلو مابخت‌جما لهونه‌لیدله بلکی یوه بله ښځه می چې سپین سری‌وه دبخت جمالی په ځای‌په‌بستر‌کی و کتله ،وړاندی ور غلم، پهکوټه کی می شاو خوا و کتل ،بخت‌جماله پهیو بستر‌کی هم‌نوه... هلته دپیښور دوه دری ښځی‌ښځی نوری هم وی ،د هغو سره‌می پخوا چې بخت جما لی تهرا تلـــم‌خبری کړی‌وی ، دهغوی نه می‌تپوس وکړو:

ـ دلته ... زما ښځه ... بخت جماله بستروه ...

هغوی چې‌زه وپیژ ند لم نو یوبل تهیی‌و کتل ،دغم اودرد نښې‌نښانی یی ماپه‌سترګو کی‌و کتلی خو فکرمی کولو چې یا خو بخت جما له

صحت شوی اودبستر نه خارج شوی او یاخو ،کو می بلی کوټی ته بیولی ده، خو لږه شیبه ورو سته هغوی ماته په پښتو ژبه وویـــل چی:

ـ تا سو به دړو غتو ن دفتر ته لاړ شی . هغوی به معلو مات ...

زه نوروند د ریشم او براپرد روغتو ن دفتر ته ور غلم ،هغو ی ته می دروغتون کاغذ ور کړو کوم کی چی دبخت جمالی دبستر کید و امر ورکړ ی شوی و. هغوی چی ز ه وپیژندلم نو ، دروغتون کتا ب پاڼی یی واړ و لی راواړو لی او په یوه پاڼه یی لاس کیښود ، تاریخ ته یی و کتل او بیا یی ما ته وویل:

ـ خان مها جر ، هغه دری ور ځی مخکې ... وفات شوه او ...

نور په هیڅ پوه نه شوم او چیغه می کړه:

ـ بخت جما لی ...

دی آواز مو له شفاخانه ولږزوله او په دهلیزو نو او کوټو کی انګازه شوه ... دړو غتو ن کسانو زه په غیږ کی ونیولم او ... کله چی ما سترګی خلاصی کړی نو بیا په خیمه کی وم، او څو ساعته زاباندی تیر شوی وو ، یو پاکستا نی پولیس می سر ته ولاړ و اوزه پوه شوم چی خیمی ته هغه رارسولی یم ...

او ښکی می په مخ سیلا بو نه شول دخیمی نه راووتلم،دشمشاد څو کی ته مخا مخ ودریدم او یو اوږدتنفس می وکړو ، په دی تنفس کی می دخپلو ه وطن دهوا بوی دما غ ته راغی ...

په پښه کی طاقت نه و ، ورو ورو په ګونډو شوم او لاسو نه مـــی آسمان ته ونیول ...

فاروق چی خپله کیسه دی ځای ته راورسو له نوستر ګی یـــی داو ښکو نه ډکی شوی ...

ماتهیږو کتل لو ویې ویل:

ـ شل میاشتې ماپه هغه خیمه‌کې‌تیرې کړې...

شل میاشتې داغزو په بستر کې... او چې‌کله مې په خپل هیواد کې دامن او سو لی آواز واو ریه‌نوسمو گند مې یادکړو چې که مړ هم شم باید خپل وطن ته‌لاړ شم او تن‌په خپل وطن کې یم خو نه‌پوهیږم ه بخت جماله شته او نه‌چنارگل ...

او که‌چیرې درو غې جوړ ي رنا قهوه شوی نو یقینا چې‌ترااو سه به داغزو په هغه‌بستر کې پروت‌وم‌او تیارې شپې ور ځې به مې‌تیرو لې خو ...

دفاروق سترگو نې بندشو،دسترگو‌ته‌یې او ښکې پاکې‌کړې او په ټیټ آواز یې وویل :

ـ کاشکې چې بختې اوچنارگل‌خو ژو ندې وای او نن یې ... دڅادر پیخکه یې سترگو تـــــــه ونیوله او کرار کرار یې په ژ ړا شروع وکړه...

پای

# پینەوینە

17

18

هغه‌و خت چې هندو ستا ن لاډېير نګی سره و نو زمو نږ په‌کلی کی دشرف دین په‌نوم یو غټ‌سورسپین سړ ی او سیدو چې‌دلال‌پور نه‌راغلی او په ډاکتر مشهوررو.ددغه‌سړی په اصلیت څوك نه‌پو هید ل خو ظا هر ی څهره یی په‌ربښتیـــا ډاکترانو ته‌ور ته وه ، خصو صـــا چې سمه پښتو یی نشوه ویلی نوهرچا عقیده پیداکړی وه چـــــی شرف دین ، ښه غټ ډاکتردی.

هغه‌به سپینی ذره بینی چشمـــی استعما لولی اوپه سریی‌یو ویښته هم نه‌لیدل کیدو په‌و جود ښه‌څربه‌او چاغ اودونی لږ ټیټ شانی‌و .

هغه دوه زا من لرل چې‌یو یی‌بیړاواو بل یی دپیښور په اشرا فیـــــه مدرسه کی طالب علم و او دینیات یی لوستل ، هغه زمونږ په‌کلی کی ورو ورو سمه پښتو زده کړه اوبیا یی‌په آسانی سره خبری کو لــــی شوی .

دشرف دین ډاکتر په دکان کی‌دهر څه نه زیات دشر بتو نوبوتلو نه زیات وو خوستن‌و هل یی لا ښه‌نه‌ووزده ځکه‌خو به‌یی دخلکو علاج تل، په‌شر بتونوکولو اود هغه په مقابل‌کی دکلی خپل طبیبان اوحکمیا ن په ماتې کی‌وو ،د خلکو ګڼه ګوڼه‌به هیڅکله د هغه ددکا ن نه نــــــه کمیدله.

مادد‌غه ډاکتر دنوم اوشهر تپه‌اوریدو ، خپله رنځوره لــــو ر (ډیوه) هغه ته ور وستله او چــی‌کله د هغه دکان ته ور سنیدم نو گنه گوڼه کمه شوی‌وه اوږ واز ی‌یوه زړه بندځه‌هلته‌پاتی‌وه چی هغی هم خبره په‌آسانه نه‌شوه او رید ی‌ځکه خو ډاکتر ور سره په‌زوره‌زوره خبری کولی اودغه خبری شاو خوانورو دکانداراتو هم اورید لی .

ماپه ډیر احتیاط سره خپله لووردشانه کوزه کړه او هلته می‌دیوا ل ته‌ډډه کینوله . ډیوه نهه کلنه وه‌خو ناروغی داسی خوړلی‌و ه چـی پنځه کلنه ښکاریده . شرف د ین،د هغی په‌لیدلو هغه کښه بنځه پر ـ پیژندوده او ماته‌یی وویل:

ـماما ... دیخوا یی راو له چی‌وییی گورم ...

هغه داوو یل او له ځا یه را پاځید ، دیو سور بخن بو تل نه‌یی لږ شر بت دبو ډی ښځی دپاره په‌یوبوتل کی واچوو او هغه یی ورله په‌لاس کی ورکړو او داکار ،دد ی موجب شو چی بو ډ ی پیسی‌کیدی او روانه‌شی .

ډاکتر په‌یوه وړه تو شکچـــــه‌کیناست ، ماته‌یی و کتل اوتپو س یی‌و کړو:

ـ ماما ... لو ر دی څو کلنــــه‌ده ... ؟

ما ځواب‌ور کړو :

ـ نهه کلنه ده .

ډاکتر د(ډیوی) لاس د ځا ی پلو کش کړو اود هغه نبض یی‌ونیو ... دنبض نیولو نه‌ورو ستة یی ور ته‌وویل:

بچی ژبه دی راوباسه ، پور ته‌وگوره .

لنډه داچې خپلې کتنې یې مکملې کړې ، مخ یې ما ته راواړوو او پوښتنه یې وکړه:

ــ خومره موده کیږي چې ناروغه ده ... ؟

ماور ته په ځواب کې وویل:

ــ ډاکتر صیب ... خدای مې دې غاړه نه بندوي یو کال به کیږي .

ډاکتر شرف دین دځان سره څه وویل خوزه ور باندې پوه نه شوم . هغه دځای نه پاڅید اودشر بت یو غټ بو تل یې راوا خیستو ، هغه یې ماته مخکې کیښود او ویې ویل:

ــ ما ما ... دلورو ینه دې سپینه شویده . سره گلوبول لږ شو ي او سپین زیات شوي دي اودا یو خطـر ناکـه بیماري ده. لـږي پیسې بـه دې زیاتې او لگیږي خو هیله شته چې هغه بنه شي ...

دشر بت پیسې مې ور ته مخکې کیښودي او راولاړ شوم ، ډیره لور مې بیاپه شاکړه او کور تـــه راغلم . پهلاره کې مې ډیر چر تونه وهل اود خطر دنوم په او ریدو سره ډیر پریشانه شوی وم .د خطر دنوم په اوریـدو مې غړي خوپدلي وو ویري نیو لی وم، قسم قسم سوداگانې راپیدا شوي وي او پـه همدې سوداگانو کورته ور سیدم .

زموږ کلی دبازار اودشرف دین ډاکتر له دکان نه ډیر لرې پروت و اودا دو مره اوږده لاره ما هره هفته یو وار دوه واري او حتی دري واري طی کو له اودنیبارنه به مې سودسودا او دوا درمل وړل لیکن په دې کارکې مې له آس نه کاراخیستو او آس به مې دبازار نه بیرو ن په یو پټي کې تړ لو .

کورته په رسیدو مې ښځـــــې تپوس وکړو:

ــ دډیوي پلاره... !ډاکتر مـــــوو کوت ... ؟

ماور ته په ستړي ځان او خپه زړه وویل:

-هو ! ډیوه یی و کتله اوشربت یی ور کړو ...

دډیو ی مور دشر بت بوتل له مانه وا خیست او په کراار یی بیـــــا پوښتنه و کړه:

- دډیو ی په نارو غی پوه شو چی څه دی ...؟

ماور ته په ورو آواز ځـــــوا ب ورکړ:

- هو ! پوه شو ، هغه و یل چی په وینه کی یی سپین زیایت شوی ا و سره کم شو یدی ... دډیوی مو ر په حیرانتیا ماته و کتل او و یـــی ویل:

- په وینه کی یی سپین زیات شوی او سره کم شوی ... دالا څنگه نارو غی ده پاکه خدایه ... ؟

ما هیڅ و نه ویل خو ورو سته رایادشول چی ډاکتر شرف دین و یلی وو چی یوه خطر ناکه ناروغی ده نو ماډلړی چوپتیانه ورو سته د ډیو ی مورته وویل:

- ډاکتر ... وویل ... چـــــی یوه ... خطر نا که نارو غی ده خو ښه بــه شی ... دډیوی مور ،مخ له څپیړه ورکړه او ستر گو ته یی او ښکــــی راغلی او په ژړه غو نی آواز یــــی وویل:

- پاکه ر به خیر کړی ... و ینه هم سپینیږ ی ...

هغه شپه تر ډیر ناو خته پور ی مونږ ورو ورو خبری کو لی ، په هیڅ نه پو هیدو او هر څه را ته تیاره وو ، شپه نیمایی ته ور سیده او ډیوه زمونږ نه لږه لیری شا نی دکوټی په گوټ کی پر ته وه اود چمبړی بړ ستن ور باندی اچو ل شوی وه . کله کله به یی دبړ ستـــنی لاندی نه یو وړو کی زگیرو ی وشوا و یا به یی او به و غوښتی . هغه شپه سبا شوه او څو شپی نوری هـــم سبا شوی، مو نږ دډاکتر شر فـ دین شر بت ډیوی ته ور کولو خو هغه دښه کیدو په ځای ور ځ په ورځ

PROPERTY OF ACKU 2968



نوره هم کمزوری کیدله اودا سی ښکاریده لکه چی هره شپه یی څوك وینی څښی . په‌څلور مه ورځ ، دډیوی مور بیازه مجبور کړ م چی ډیوه ښارته بوزم ځکه چی نوره‌هم خرابه‌شوی‌وه... په هغه ورځ په کور کی پیسی نه‌وی اود ډیوی‌مورپه منډه دخان کره لاړه اود هغوی دکورنه یی پیسی پورکړی چی بله‌ورځ یی ددغه پورپه بد ل کی خپله برگه غوا دخان کورته وروليږ لـه‌او په دی ډول مو نږ ور ځ په‌ور ځ خپل مال او سا مان دکلی په‌پیسه دارو خلکو خر ځ کړ اود هغوپیسی مو دډیو ی په دوا در ملو ولگو لی‌خودډیو ی حالت ښه نه‌شو اوبیماری یی لکه څنگه چی‌شرف دین ویلی‌وویوه خطرناکه ښه غوره‌کړی وه.
نور مو نږ په دوا در مل ستـــړی‌شوی وو او حتی چی ډاکتر مو له پا مه بد شوی و دډیو ی موربه‌ماته‌ویل:

ــ سردی‌و خور ی دغسی ډانکترچی دوینی دوا قدر له نه‌شی کولی په‌سرپه چی‌وینه سپینه شو یده‌خوسره یی کړه کنه دوینی‌په‌باب دغه خبره مونږ نو ی او ریدلی‌و ه چی‌دواکوم تاثیرو نه کړو ، نو هغه‌مو پریښود ه او بیرته مو میا ملا ته‌مخه‌و کړه، دډیو ی په‌سر او غاړه باندی دتعو یذو نو کتارو نه جوړشول او ان خبره دی ته‌ور سیده‌چی رنځوری ډیو ی ته پوستکی و ر وا چوو . دکلی مشر ملا(لالاصاحب) نو میده او هغه د خلکو د پاره د علاج نسخی هم تجویز کولی اوطبی مشوری به‌یی ور کولی . هغه‌وو یل‌چی دجینی په دننه کی څه باد وبخار ایسار شو یدی نو باید هغی تـــه‌پوستکی واچول شی او مونږداکار هم‌وکړو.

یو تور چاری پسه مـــو دډیـر وخت‌نه‌ساتلی‌و اودډیو ی ور سره هم ډیره مینه وه ، هغه لاوړو کی‌وچی ډیوی به په غیږکی‌نیولو او پتی

PROPERTY OF ACKU

ته به یې بیولو او نن چې د ډیوې د روغتیا او سلامتیا د پاره دد غه پسه پوستکي ته ضرورت دی نو باید هغه حلال کړو .

پوستکی مورنځوری د ډیوی ته واچولو ، ډیوی هفتې په ځای مو دوه هفتې د هغې په جوړ کـــــې پرېښودو خو نتیجه همغه شان وه لکه د شیرف دین ډاکټر دوا . ډیوه ښه نه شوه، پوستکي بېخي د ډیوی په جوړ کې بوی کړی و او ډیوی ته نږدې کېدل گران وو، د ډیوی حال په پوستکي کې نور هم بدترشو . خلکو هر ډول خبرې کولې ، چا به ویل پېریان دي او ډیوی چېرته د پیریانو د باچا په ځوی لور پښه ایښې ده او چا به ویل باید زیا ر ـتونو باندې و گرځول شي ، پـــه زیار تونو کې بندو نه و تړل شي او د کور د ننه تو تکې و شي، پاکه جینۍ ده سو چه هډو کې یې دي..

خبرې ډیرې کېدې خو نتیجـــه ترې لاس ته نه راتله یوازې زیا ر ـتونه پاتې وو او د ډیوی مور ته مـــوویل چې باید د چهار شنبې په ورځ خپله ونځوره لور ، زیار ت ته بوزو، زمونږ کلي ته نږدې زیارت (گړنگ شاه بابا) واو سبا مو ډیوه هغه زیارت ته ور سو له، د زیار ت ښکته ډډ ی ته مو هغه په بړستن کې تاوه کړ ی واچو له خلکو راته و یلی وو چـــې باید د زیار ت د سر لږه خاور ه د رنځور ی په خوله کړو چې هغـــه وخوري ډیو ی په ډیره سختی هغه خاوره و خو ړه، زیار ت دیو ډ یر غټ او گور (غز) لاندې وا قع و ، کلیوالو ویلې چې دغه و نه (غز) د بابا آدم علیه سلام د زما نې نه همداسې ولاړه دی، څوځو واری یې په خپل سر او راخیستې او بیاشیـــــــــن شو ی ...

د سهار نه تر ماز یگر ما ښام پورې مونږ په زیار ت کې تیره کړ ه، د ډیوی مور ډیر وژړل او ډیرې دو عا گانې یې و کړې مال د خدای همدغه یوه لور

موږه او بس ، نور اولاد مو نه‌درلود ، نه‌پوهیدو چې ولې نور اولا-
د نه‌شو ... هغه شپه مونږ ټوله په‌ویښه تیره کړه ، قرآن شریف مو
د ډیوې سر ته ایښی و چې پیریان ئې خه‌وراتی ونه‌کړی ، د ډیوې وجود
ناپاکی نه‌بچ اوسی ....

ور څې شپې لږې نورې هم تیرې شوې لیکن ډیوه‌لا هغه شان وه ، د
خدای حکم و ، د ډیوې مور به زمانه‌تپوس کولو:

ــ د ډیوې پلاره ...! یو څل خو به‌دې‌ددې ډیوې وینه‌لیدلې وای چې
رښتیا سپینه ده او که‌نه‌ده ما په‌قهر سره خپلې ښځې ته‌وکتل او هغه
ته مې وویل :

ــ نا دانې ښځې ...! د جینۍ وینه‌خنګه‌و ګورم ... زه خو ....

د ډیوې مور په‌کراري او ورو یې تندی زما لاس ونیو او وی‌ویل:

ــ سړیه په هر شی څا نه‌له‌قهرمه دروله ، دا خو آسانه خبره‌ده ،
لاړ شه( کرمی) راوله چې د جینۍ وینه و باسی . وینه خو سړی هر
کال و باسی ،ولې ما او تا ته‌ئه ایستلې څه ؟؟

ما فکر وکړ چې د ډیوې مور رښتیا وایی، زما خو هم بیخی هیر
شوی وو چې پرون کال هم مونږ د ډیوې وینه‌و یستلې وه او دا یو
معمولی کار و .

ما ډیګر په منډه لاړم او ( کرمی نائبی) مو کورته‌راو ستلو ،د هغه
سره دوه واړه ښکرو نه وو . په‌هغو به‌یې دخلکو وینه‌و یستله او
د ډیوې دولو د مینځ نه یې هـــم وینه‌و یستله ، هغه ته مې وویل
چې وینه مونږ ته را ښکاره کړی. دوینی په‌و یستلو کی د ډیوې یې
تکلیف وکوت، بې حاله شوه او د خبرو نه‌هم ولویده ، کرمی د ډیوې
وینه مونږ ته په‌یوه پیاله کـــــې واچوله ، پیاله‌ور باندې ډکه شوه
لیکن ما او د ډیوې مور و لید لچې وینه نه یوازې سپینه نه وه بلکـــې

تکه‌توره لکه دسکرو او به دا سی‌وه، مونږ دسترگو لا ند ی یو بل ته‌و کتل او بیا ما په‌کر می نائی‌غږ وکړو:

— کر میه ،ته‌و گوره داو پنه‌ولی‌داسی تکه توره ده ...

کرمی دوه گا مه رانژ دی شو،وینی ته‌یی‌و کتل او لکه‌یو ډاکتر ، مخ یی مونږ ته راواړاوه او و یی‌ویل:

—با داره وینه چی ناپاکه وی ،دهغی رنگ تك تور وی ،دا ســی می خیال دی‌چی دډیو ی د وینه ...ډیوی یو سخت زگیرو ی وکړواود (کرمی) خبره نیمه پاتی شوه، دری‌واړه ډیوی ته‌ور نژدی شول او د ډیو ی مور لاس دډیو ی په مـــخ‌کیښود او غږ یی وکړ:

— ډیوی بچی ، مور د ی و مره،صدقه دی شم، وجود دی‌خوږیږی؟

دډیوی ستر گی پټی وی او په‌تندی یی خولی راما تی شوی وی، (کرمی نائی) چی هغه خو لی‌وکتلی‌نومخ یی ما ته راواړاوه او و یـی ویل:

— با داره ...! د میا گا نو کره‌ژیږه غوا لنگه شوی ده د هغی‌که‌لږ (اورگه) راوړی او ډیوی تـــه یی‌ورکړ ی نو خدای به‌یی دارو کړ ی اوښه به شی ... حکیم جیان وایی‌چی اور گه ډیر زوروور شی دی .

دکرمی خبره لاخلا صه شو ی‌نه‌وه چی دډیو ی مور دخایه پاڅیده اوما ته یی وویل:

— دډیوی پلاره ! زه خم چی دمیاگانو دکورنه لږ اور گه راو ړم، ډیرزر به‌راشم ... ته دډیو ی سره‌کینه. ,

دډیوی مور لاړه ،کر می‌نائی می‌هم‌رخصت کړو، زه او ډیوه یوازی پاتی شوو ...

دډیوی مور زیات ځند وکړ و ،زما زړه ته سودارا ولو یده خوپه همدی‌وخت کی څوك دغو لی پـــه‌دروازه راننوو ت اود درواز ی‌څنځیر آواز وکړو ... یوه شیبه لانه وه تیره‌شوی چی دډیوی مور تر لی

سر او په‌وینو لړلی مخ کو تې ته‌رانښوتله ... زه د هغه په لید ډیر ورخطا او پریشانه شوم ،په منډه پاځیدم اود هغې نه مې تپوس وکړو:

ــ دډیوی مور داو لی ... څه چل‌وشو چې ...

دهغې په‌لاس کې‌یوه وړه جرمنی‌کاسه‌وه او په هغه کې اورگه وو، دډیو ی مور زما خوا ب رانه کړوخو همدو مره یې وویل، ما پسې مه‌گرځه ، اورگه مې راوړه او ته‌یې‌په خپله جینی ته‌ور کړه... هن... ماچې هغې شان د خپلی بنځی ما ت‌سر او وینی مخ‌ته‌کتل ،کاسه می‌د هغې دلاسه وا خیستله اود ډورسرته کیناستم ، دډیو ی مور ته مې وویل:

ــ بنځی یو ه سیپی راکړه... دډیو ی مور یوه ز نگښو هلی ا و زړه سیپی راکړه او ماپه همغـــه‌باندی څو سیپی اور گه ډور تـــه ورکړل، کاسه می‌یوه خواکیښښو ده‌اوبیاد ډیوی مور ته ورنژدی شوم پوښتنه می‌ورنه وکړه:

ــ دډیوی مور !څه شو یدی ...ولی دغه وینی ...

دډیو ی مور په خمکه ناسته وه او سر یې نیولی‌و ، وینی یې په مخ وچې شوی‌وی ، همدو مره یې‌وویل‌چې په‌لاره په‌تیرېد و کی راو لوید م‌او سر او تندی می زخمی شوی دی‌چې‌دمیاگانو په‌گورکی ور بانـــــدی (ځاړو مبی)کیښنودی شو ه او وینه‌یی ودریده ، دډیو ی مور لا خبری کولی‌چې ناڅا په دکانگو (قی)آوازشو او ډیوی کانګې وکړ ی،یووار، دوه واری ، دری واری ...

ډیوه ماکلکه نیولی وه ، حال یې‌ډیر خراب و، دډیو ی مور یوه‌خوا او بله خوا منډ ی کړی، نه‌پو هیده‌چې‌څه وکړ ی، همدا چیغی یې‌وهلی چې، های لور مې ، هله الور مې ،خدایه خیر کړی . ربه خیرکړی...

دیوی داور گونه ورو ستنه ډیری کانګی وکړی، حال یی ډیر خرا ب شو ، بی حاله شوم ، ماچی د غـــه حالت و کوت نوپه منډه می آس زین کړو او لور مې په بېړ سمتن کی تاوه کړی دځا ن سره په آس کینوله او دډاکتر شرف دین ددکا نخوا تـه روان شوم.

هغه ورځ ، هغه لار ډیره او ږده شوه او چی څو مره زه چټك روا ن وم وخت او زما ن په کرار کید لو...دنیمایی نه زیاته لار می و هلی وه چی دډیو ی وجود دکیناستو نه وو ت ، هغې نور ځان نه شو ټینګو لی او په ما باندی راولویده ، د هغی دو جود ټول دړوندوا لی ما احساس کړو ، زړه می په سینه کی په درزا شو او دیوی پتمی ویری می په وجود منګولی ښخی کړ ی، داسی راته ښکاره شول چی آس هم نور تګ نه غواړ ی.

تکنده غرمه وه، پاس په سر می دلمر تودو خه احساسو له او ډیر تکلیف یی را کولو ، آس هم سا ټیګا وا وټول و جودیی خوله شوی و، بهتره راته دا ښکاره شوه چی یوسیوری ته ورد ریږم چی دډیو ی حالت ښه شو نو بیا به روا ن شم...

دآس نه په یو سیوری کی ښکته شوم ، ډیوه می په غیږ کی راکوزه کړه او سیوری ته می واچو له ، د هغی دمخ نه می بړ ستن یو خوا کړه، سترګی یی پتمی وی ، غږ می ورباندی وکړو ، دیوی دیوی بچی ...دیوی نه ستر ګی خلاصی کړی او نه یی ځانو ځو زولو ، ور خطاشوم او زړه می ډوب شو ، ویری وا خیستم ، چوله بیدیاوه .آبادی هیڅ نـــــه ښکاریده ، په لاره نه څوك تلل او نه راتلل ، نه پو هیدم څه وکړم...

بیا می دډیو ی په مخ لا س کیښود ، غږ می ور باندی وکړو:
دیوی ... دیوی لوری ...

دډیوی مخ یخ یخ و ، ستر ګی یی هغه شان پتمی وی، حرکت یی نه کولو او پا یی نه شو کولی ، زما زړه لـه ویری لړ زیدو ، لاره چاره رانه ورکه

شوی وه، نه پوهیدم څه وکړم، ترور ترور می هره خوا کتل هیڅوك می په نظر نه راتلل، عقل او شعور می دواړه بیچاره شوی او بیکاره شوی وو ...

خوځو واره می د ډیوی لاس وښوررو لو، د هغې ستر ګی مې خلاصی کړی او په زوره می چیغه کړه:

ــ ډیوی بچې ...

زما آواز په هغه بیدیا کې چې غرونه هم ورنه لیرې وو ورك شو، د هیڅا غوږ ته ونه رسید حتی د ډیوی غوږ ته لږ لږ. راته مر ګ څهره رابښکاره کوله، یوه کر غیږ نه اوویرووونکی څهره ...

نور معطل نه شوم، د ډاکتر شرف دین د کان راته ډیر لري ښکاره شو، دومره لری لکه د کوه قاف غر، نو څکه بیر ته کلی ته را وګرځیدم او د غه لاره می ډیر زر وو هله ...

په لاره کې می نه چا ته سلام وا چولو او نه می د چا سلام وا خیستلو، په ستر ګو می داو ښکو پردی پرېوتی وې، لاره می هم سمه نه لیدله، یوازی د خپل کور او کلا دروازه می لټو له او د لیری نه می هغه پیدا کړه...

د کور په دروازه کی می لوړ د آس په نه رابښکته او د ننه می یووړه، د ډیوی مور په انګړ کی ولاړه وه، او چې زه یې په هغه حال ولیدم نو را منډه یې کړه او ډیوه یې زما له غیږ ی وا خیسته، په کټ کی یې وا چو له او بړ ستن یې د هغې د مخ نه لری کړه، د بړ ستن د لیری کولو سره سم د ډیو ی مور چیغه کړه او مخ ته یې خپیړی و نیو لی ...

هغه پوه شوی وه چې حقیقت څه دی او ډیوه ...

غوږونو می شپیلی وکړ ی او تپ شو، نه می د چا آواز اورید او نه می څه احساسو لی شو، په پښو کی می د کور تور سپی تو غږ یدو او لکی یې خوزوله، سپی به کله د ډیوی خواته نږدې شو او چونګار به یې

شروع کړو او کله به ما اویادډیوی‌مورته‌په‌پښو کی‌و لوید او لکی‌به یی خوزوله ... په‌لنډه شیبه کی‌گاونډ‌یان اود کلی خلك خبر شول ، دا وخت زما په‌نظر کی هر څه بد ل‌شوی وو ،د خلکو گنه گوڼه زیا ته شوی‌وه او ځپلو خپلوانو به دډیوی‌دمور سره یو ځای ژړل ، خلکو ، نارینه او ښځو به‌په خپلو کی‌خبری‌او تبصری کولی خو په دی ټو لو کی به ما همدو مره اوریدل چی‌یوی‌به‌ویل: دغر یبی ډیوی وینه سپینه شوی‌وه ، بلی به‌ویل:

دروغ دی ،وینه هم چیر ته‌سپینه‌شویده ؟

بلی‌به‌ویل :

چیرته به غریبی دپلیر یا نوبچی‌مړه کړی وی او پښه به یی‌وربانډی ایښی‌وی.

داسی قسم قسم خبری هغـــی‌او ریدی او دی ټولو می دزړه غم زیاتولو ، دډیو ی دمړ ینی سره ماداسی فکرکولو چی زما دژو ندډیوه هم‌ورسره یو ځای مړه شوه ، هغه‌ډیوه چی مونږ په‌کی خپلی و ینی سوزولی وی ...

او س چی ډیر کلو نه د هغـــه پیښی نه‌تیریږ ی نود ډیو ی دمرگ زخم لازما په‌زړه کي هغه شان تازه‌دی او درد او سوز یي احساسوم...

هروخت چی د ډاکتر شرف دین‌په دکان کینم نود هغه نه تپو ســ کوم:

ــ ډاکتر صیبه ... ! داو ینـــه رښتیا ...

دغه تپو س ما ډیر د هغه نه‌کولو‌او هغه‌به خندا خندا کی ویل‌چی:

ـ تاسی کلیوال سا ده خلك‌یاست‌زه‌چی څه وایم نو هغه کتابی خبره ده، په‌کتاب کی دی ته دو ینـــی‌سر طان وایی ...

خو تاسی ور باندی نه شـــیء پوهیدی ...

# د(رامداس)دګوخې ناوی

۳۱

32

زرتاجي ، دلری نه په مور غږوکړو:

ـ ابي، ابي ،دی مړ شـــو ی(لو نگ) خو لوڅ په متیازو لوند کړو که اوس می پلاررزاننوزی ...

تاجو ابی ، دزرتا جی نه یو څوقد مه وړاندی پهکاربو ختله وه ،د خپل میړه شلیدلی پړ توګ یـــیګنډلو او چی ځنګه یی د خپلی لور زرتاجی آواز واورید ، نو سر یی راپورته کړو او پهتریوو چو لی یی هغی ته دغوسی نهډك نظر وکړ واو ویی ویل:

ـولی تهغږیږه بنځه ویده وی‌څه..لوڅ کوم ځای پروټو چی هلكبته پهګونوور غی ... ؟

زر تاجه چی دمور د قهر جـــنآواز نه لږه ورخطا شوی وه پهکراز یی مور ته ځوا ب ورګړو:

ـ ابی !لوڅ خو ما ته پلار راکړوچی دغر می دپاره ..

تاجو ابی لانوره په قهر شوه اودخپلی پیغلی لور زر تاجی خبره یی غوڅهکړه:

ـ خیږه مو سرو خور ه ، یوهورځ کهوږی پاتی شویء څه بـــه وشی ، عزرائیل خو به پهدرواز ه‌راننه نهو ځی پنځمه میاشت ده چی

دکور کرا چانده ور کړی، دکـــورخاو ندپه ور ځ کی یو وار ځنځیـر شر نګوی او کرایه غواړ ی ...

زر تاجی ،څه ونه ویل او چو پ پاتی شوه ، یو دوه ور ی او سپکی څپیړی یی د خپل وږو کی ورو رلو نګک په مخ او سر حوا له کړی او دځانه سره یی وویل :

ـ زه څه وکړ م ،دکور کرا یه خو مې پلارسره ده. هغه باید دغه جنجال ختم کړی ...

ددغو خبرونه ورو سته،زر تا جی په متیازو لوند خیشت لو مړ ددوه ګوتو په سرو نیو اودکټ دپاسه یي کیښود او بیایی دځان سره وویل:

ـبی بر کته ملك دی او بی برکته پیسی ، پیتی ور باندی نه شـــو خوړلی ،په کوڅه کی نه شــــــو تیر یدی دکافر اولاد په سنتر ګو سنترګو سړی خور ی ...

زرتاجه بی خبره لګیاوه خو چی شاته یی و کتل موریي و لید له ، ورخطا شانی شوه. تاجو ابی د زرتاجی ټو لی خبری او ریدلي وی، دخپلی لور دخبرو سره یی جو خت زیاته کړه:

ـ بچی ! ددغه سپیره ځای نه به مو کله خدا ی خلا ص کړ ی ، زما خو په کی غوښی او په شوی ، خلور کاله مو د مسا فر ت وشول هر ه ورځ په مانځه کي همدا دو عاکو م چی پاکه خدایه ته مووطن تـــه ورسوه .

خلور کاله شوی وو چی تا جو ابی دخپل میړه او بال بچ سـره پیښور ته تللي اود پیښور ښار د(مدراس) په کوڅه کي یي یوه زړ ه

جونګړه په کرایه نیولی وه، (اکبرلالا) په سهار مز دوری ته و تلو او ماښام ماښام به دیو څو کلنارو سره بیرته کورته راتلو ، د هغه یو زلمی زو ی (نور رحمن) د مزدور ی د پار ه (کراچی) ښارته تلی و او د هغه ځای نه به یی کله کله خط را لیږ لو ...

په پیښور ښار کی هغه و خت په افغان مها جر ینو باندی پابند ی نه وی لګیدلی او په زور او جبر په خیمو او کمپو نو کی داو سیدو مجبوریت یی نه در لود ځکه خو (اکبرلالا) پیښور ښارته په رسیدو په (رامداس) (۱) کوخه کی یوزوړ کوډچی صرف دوه کوټی په کی وی او یوه تمــــــی (دضرور ت رفع کولو ځای ) یــی لرله په کراو نیو د کــور خاونــد

یو کشمیری مها جرو چی پـــه (صدر بازار) کی یی تجار تخا نه لرله او دوه دری کوروُنه نور یی د پیښور ښارپه (جوګن شاه محله) (افریدی خان محله) او ( جنګی ـ پوره) کی لرل او ټول یی په کرایه ورکړی وو.

(اکبرلالا) دننګر هار د (کامې) د (میرزا خیلو) دکلی نه پیښور ته کډه کړې وه .د هغه اصلي نو م محمد اکبر و لیکن خلکو به ور ته (اکبر لالا) وییل او په همد غه نوم یی شهر ت پیدا کړی و.

هغه دځینو خاصو وجوهاتو لــه کبله ، خپل کور کلی پریښی او دخو نورو کور نیو سره پیښور ته تللی واود مزدور ی او محنت په پیسو یی ژو ندکولو . هغه پیسی چی (اکبرلالا) ګټلی ، و چه ډوډ ی

---

(۱) په پیښور کی دیوی کوڅی نوم دی.

او الوګا ن ور یاندی نه کیدل ، او چي په بیبنور کي سم کار نه پیدا کیدو نو داکبر لالا زلمی زوی (نوررحمن) دریل ګاډ ی ټکټ وکړ او کراچۍ ته لاړ او هلته یه (سهرا ب ګوټ) نومي ځای کي چي مطلق اکثر یت په کي د پښتنو ، دیره شو ، کال نیم دنور رحمن خطو نه راتلل لیکن وروسته هغه هم بند شو ل اودبندیدو په علت یی ، اکبر لالا پوه نه شو .

زرتا جه داکبر لالا پیغله لوروه او دکشری لور نوم یی (مخمرو) و . ورو ستي وړوکی زوی یی (لو نګک) نو میدو اوددی تو لو دپاره به اکبر لالا دسهار دخوری نه دماښام دخوري پوری کار ګولو اود درنو نه درانه او دسختو نه سخت کارونه یی سر ته رسول خو ددی سره سره یی په مره ګیډه ډوډ ی او سمي جا مي دخپل بال بچ دپاره نه شو ی پیدا کولی .

تاجو ابی دعمر په لحاظ د اکبرلالا نه مشره وه ، هغه په اصل کي داکبر لالا د مشر ورور ښځه وه او خو کاله یی دهغه سره تیر کړی وو خو هغه ووژل شو او تاجو ابی اکبرلالا ته پاتې شوه او ورو سته دولسي رواج سره سم اکبر لالا ته په نکاح شوه اود هغي نه نور رحمن ، زرتاجه ، مخمرو او لونګک وزیږیدل .

تاجو ابی دغمو نو په خوړ لو اودردو نو په زغملو دطبیعي و خت نه مخکي بوډی شوه او چي د خپل وطن نه مسنا فر شول نو هغه غمو نه او دردونه لس چنده او سل چند ه نور هم زیات شول ، زرتا جی بعد مجبور یت تر مخي سود سوداراوړله ځکه چي ددی کار دپاره بل څو ک

نه‌و او دپلار خو یې دراتلو وخت نا معلوم و ، کله کله به دماښام خپتن پورې په صحراو او ټول په‌ور تــه انتظار ناست‌وو.

(رمضان محله) او هغه جونګړه، دغې کوڅې دپاره دقبر دلحد نه‌هم بدتره‌وه ، کور دو مره ووړو چې څښتنو بوزړه کسانو او مخصوصا پیسه لړو نکو او ما لیدارو خو هغه‌ته دنژدې کیدو جرئت هم نه شو کولی، لیکن دغه مهاجره کور نې دمجبورۍ دمخې نه دغه شا ن سپې ژوند ته غاړه ایښې‌وه او چې کله به اکبرلالا او تاجو ابۍ یوازې شول نو ددغه مسا فرت او مها جرت مسوو لیت به هغوی یودبل پـــه او ړو غورځولو او چې خبرې به‌ترخې شوې نو دتاجو ابۍ په‌کونځې کونځې مخ به‌رنۍ او ښکې رارواـــې شوې.

دنور رحمن دخطو نو نه رارسیدل او د هغه‌لا پته کیدل ، دتاجو ابۍ غمو نه لا زیات کړل او په‌و چوګل کې یې ور له زړه په درزاراو ستو تاجو ابۍ به‌اکبرلالا مجبوروولو چـــې دنوررحمن دپیدا کولو د پار ه کراچۍ ته‌لاړ شي ، خود کور نې یواز ې پاتې کیدل هم یو مصیبت و او د ې مصیبت داکبرلالا په پښو کې زولنې اچولې وې ، او حرکت ته یې نـــه پریښود و.

دبلې خوا ، بازار ته دزر تاجې تلو هم ، مصیبتو نه راپیدا کړ ي وو ،د هغې ښوا نۍ او ایمان سوزه‌حسن او ښایست دښوا ن او زو ړ سترګې هغې‌ته اړو لې .اوزرتاجه‌پوهیدله چې هغه‌په سترګو سترګو خوړ ی، زر تا جې ته دکوڅې او بازار خلکو (دمهاجر ې پرۍ )نوم ورکړی‌و او دې مها جرې پر ې دخلکو دزړو نو سره لوبې‌کولې .

په (رمداس کوڅه) کې زړ تا جه داسي وه لکه دا يرو په مينځ کې چې لال پروت وی ، په يوه زړه جو نکړه کې دحسن دغه بت دزما نې د بی‌- انصا فی يوه وثيقه وه. هغې ته خلکو دمهاجری په نظر اکتل او مها جر هيڅ ډو ل عزت او احترام نه درلود. دښار او سيدو نکو ور ته دانسا ن نظر نه کولو او په اندك خبره به يې دهغوی سپکاوی کولو او دا ســـی سپکاوی هميش اکبرلالا اوزرتا جې ليدلی وو . داکبر لالا خوار ی ا و مزدور ی دهغوی احتياجا ت نه شو پوره کولی ځکه خودپنځو مياشتو کرايه په هغوی پاتی شوی وه اودکور خاو ند به هرمور ځ او يا يوه ورځ پس دکرايې دپاره سر ی را ليږلو او همد غه سړی زړ تا جه له نږد ی نه ليدلی وه اود هغه په ځوړ جود کې يې دهو س او شيطنت د يو را- ويښن کړی واو هم يې خپل با دار، کشميری سيټ دهغه نه خبر کړ ی وو.

زر تاجه دحيا پر ښښه وه ، په لاره کې به يې دور خطايې نه تيند کـــی خوړلی ،او جود به يې داسې لږ زيدولکه دتوت پاڼه په نری شمال کې .

دکشميری سر ما يه دار د غه نو کرکله کله دکرا يې په بهانه هغه جونکړی ته په دې نيت راتلو چې زرتاجه و گور ی او خبری ور سر ه وکړی، خو حياناکه -ښښتنه ،د هغه په دغه نيت نه پو هيدله ، ما ښا م ماښام چې به اکبرلالا کورته را غی نو تاجو ابی به هغه ته ددغه سړ ی دراتلو اطلاع ورکړه او يو ځل بيا به اکبرلالا دغمو نو په خو لو کی ډوب شو اودتاجو ابی د مړا وو سترگو نه به بې اختياره داو ښکو رود روان شو .

دتاجو ابی زړه ډیر نری شوی و پهوړه خبره بهژړا ورتله ، پهکورکی داسی خه ور سره نهوو چی هغهخرخ کړی ی اودپنخو میاشتو کرا یه ورکړی او چیشپږ مه میاشت داخلهشوه نو کشمیر ی اکبر لالا خپلـی تجار ت خانی ته راو غوښت او په یوخا ص انداز یی ور ته وویل:

ـلالا ... ! تهپښتون یی اوپښتون دپو لیسو پهلاس ور کول یـــوه رسوایی او بدنا می ده اود عزت شمله یی راټیټیږ ی او زه نهغواړم چیستا دعزت شمله ټیټه شی، بلکیغواړم چی ستا دعز ت شمله نورههم جګهشی تهغریب یی او مها جـــراو شپږ مه میاشت ده چی دکـــور کرایه دِر باندی پاتی ده .زهغواړمچی هغه کرایه لاخه چی هغه کورهم تاته پریږدم ...

داکبر لالا ستر ګی ... د د یخبری په او ریدو وږ قید ی او په خا صنظر یی دکشمیری سترګوتهوکتل ... اکبرلالا دکشمیر ی په سترګو کی دحقیقت په لټو لو کیشو ، اودلږ څنډ نه ورو ستـــه کشمیری خبرو ته داسی دوام ورکړو:

ـلالا ... زر تاجه ، پیغله ده اودمیړه کولوحق لری، زه وایم چی زما دکور میر من شی ، صحیح دهچی هغه زما د اولاد نه هم کم عمره ده او ...

اکبرلالا،لاس دکشمیری په خولي کیښود ... په تندی او مخ يیخولی راما تی شوی، لاس یی دعصبیبیت نه لږ زیدو او ساه یی په سینهکی لاتنده شوه ... یوه بښه شیبه یی کشمیری ته و کتل او بیایی سترګی پټی کړی، له خا یه راپا څید ا و برابر کورتهرا غي، پهکورکی یی تاجو

ابی او حتی زر تا جه د حقیقت نه خبره کړه او پدی وخت کی په کور کی ویر جوړ شو .

تاجو ابی ، زرتا چی ، مخمر واو په خپله اکبرلالا ټولو ژړل او ماشوم لو نګ بی یر توګه یوه خوا اوبله خوا رغړیدو ، پواز ی هغه په حقیقت نه پوهیده چی و لی یی پلار ، مور او خویندی ژاړی .

هغه ور څ او بله ورځ هم اکبرلالا په کور کی پاتی شو ، تاجو ابی د ګاونډیانو نه لږ او ډیر پیسی قرض کړل او هغه یی بیا خه کړل ، دغه دوه ور ځی هغوی په سلامشوره تیر ی کړی ، دزرتا چی نه مړی جوړه شوی وه ، په ټول وجود کی یی ساه نه چلیده ، دکور په یو کونج کی پرته وه ، د هغه په وړاند ی د پلار او مور او کور نی دعز ت سوال و ، وطن لری و اود هیڅ نه یی کومك نه شو اخیستی ، په پیښور کی نور و مړ جرو د هغه سره مناسبا ت نه لرل بلکی څه جنګونه یی هم کړی وو اودغه جرګت یی نه شو کو لی چی هغوی ته دکو مك او مر ستی خواست وکړ ی هغوی هیڅ فیصلی ته نه شو رسیدی ، دیری لاری یی ولټو لی یوه هم نتیجی ته نه رسیدله ، بالا خره اکبرلالا دا فیصله وکړه چی په فوری تو ګه دریل ټکټ وکړ ی او کراچی ته ځان ور سوی ، د هغه مقصد داو چی که نور رخمن پیدا کړی نو کیدی شی چی د هغه نه پیسی راوړی ...

اکبرلالا ، تاجو ابی ته وو یل چی تاسو هیڅو ك مه خبرو ی چی زه ګنی کراچی ته تللی یم او زما انشاءالله ځان زر رارسوم ، هر څه ته مو پام اوسه ، په هیچا باور او اعتماد و نه کړی ...

اکبرلالا ، په پټه لاړ او د هغو دتلو او لهور ځ وه چی کشمیری سیټ په خپله دهغه کورته راغی او در وازه یی وټکوله، مخمرو دروازه خلا صه کړه او کشمیری ور نه د پلار پو ښتنه وکړه مخمرو په ځواب کی وویل:

پلار می کلا چی ته تللی دی او زما ورور نور رحمن لاولی ...

کشمیری سیټ په حقیقت پوه شوی و، لاړ اودبازار نه یی یو څو ډوډ ی او سا گ او غوړی راو ړل او په دروازه کی یی دزر تا جی کشری او وړی خور ته ورکړ ل ، کوروالاو د درواز ی دشانه هر څه لیدلی او کتلی وو...

پنځمه شپه وه چی اکبر لالاکورته راور سید ، اودرارسیدو سره یی په چیغو شروع وکړه . هغه تا جوابی خبره کړه چی نور رحمن د کراچی په جگړو کی پاکستانی پولیسو وژ لی دی اودکراچی پښتنو خاورو ته سپارلی دی ...

مسافر مه وژنی خاوندہ

په ځنگدن کی یاد وی خپل وطنونه

دنور رحمن وژل کید ل، دزرتاجی دژوندانه دپاره دتابو ت جوړ ید ل دلوږی او قرضو نو زیاتیدل او دکشمیری سیټ خواست اوغوښتنه داکبرلالا او تاجو ابی حالت نور هم خراب کړ و ، نو لی لاری بندی وی وطن ته راستنیده ل دپاکستانی پولیسو لهویری نا ممکن وو او د سیټ دقرض ورکول هم لوی مشکل و. ورو ستی فیصله داو شوه چی زرتاجه کشمیری سیټ ته نکا ح کړی.

سیټ دزیاتی خو شحا لی نه‌سراو پښی نه‌پیژند لی ، دیـــو ی کلدار ی په‌ځای یی پنځه لگو لی اودواده بند و بس یی وکړو ، اکبر لالا دغم دفشار او بوج‌لا نـــد ی کړو پ شوی‌و ، هره شیبه یی‌نور‌رحمن یادیدلو هغه یی په‌و طـــن‌کی عسکر ی ته‌پری نه ښود خوپه کراچی‌کی پاکستا نی پو لیسنو د اردو ژبو او افغان مها جر ینو اود کرا چی دپښتنو په‌جگړه کی پـه‌ـگولیو وو یشتلو ...

دواده په‌شپه اکبر لالا ، سخت بیمارو اوپه‌زړه یی چپی را تلی ، زرتا جی دپلار او مور د عز ت ساتلود پاره قربانی ته غاړ ه‌ایښی او په خپله مری یی چاړه قبو لـه‌کړی‌وه ...

ناوی تیاره شوه او اکبر لالا ایله په خوارو هغه په‌ډو لی کـی کینوله، تاجو ابی او ښکی تویو لی، دناوی ډولی پورته شوه لیکن پدی وخت کی چیغی شوی ... اکبر لالا په ځمکه را غورځیدلی و ،لاس یی په‌سینه نیو لی و،ټ هره خوا منډی‌شوی، خوزر تاجه پو هه شوی وه چی‌د هغه په‌پلار دزړه حمله را غلی‌او خدای خبر چی...ډو لی یوو ړل شوه او تاجو ابی وچه‌په میدان‌پاتی‌شوه او کرار کرار یی دخپلی زړ ی جونگړ ی دروازی وتړ لی ... پـه‌کوڅه کی دلیری نه دسورنو آ واز اوریدل کیدو...

زرتاجه په‌ډو لی کی ژړیدله ...مسا فری او قرضدار ی او دنور‌رحمن مرگ ، دپلار سختـــــه نارو غی ، دخپل خوږ وطن یا د ،دا هغه څه‌وو چی‌زر تا جی دننه په‌ډولی‌کی دهغوپه باب فکر‌کولو ...

دهغی دپاره هر څه تیاره شو ی‌ووځکه خو یی خپله فیصله لاد مخکی نه‌کړی وه.

دولی دکشمیر ی سیټ کور ته‌ورسیده ،بدخو زر تاجه له دو لی راوو یستله او حجری ته یـــــی بوتله ... سیټ دزړ بو د ښت په وجه ټول داسی شوی و لکه په اړاو پشکال کی‌چی سپی پمن شی، دهغه ټول وجود لرزیدو اوقدمونه یی بی‌موازنی وو ، هغه دهو س‌په اورکی پروت‌و...

چامی یی‌بدلی کړی اود حجلـــی‌خوا ته روان شو ، زرتا جـــــی دروازه دشا دخوا تړ لی وه لیکن‌سیټ‌پو هیدو چی هغه خنګه‌خلاصه کړی. ساعت نیم یی درواز ی‌شاته انتظارو یستلو اوپه‌زر تا جی یی‌غږ وکړو چی دروازه خلاصه کړی خودزرتاجی آواز وانه‌وریده ی شوسیټ پوه شو چی‌حیاناکه پښتنه‌شرمیږی‌نوپه خپله یی دروازه ایله کړه او حجر ی‌ته‌ور ننوو ت اودوا ده دبستر نه‌لری یی‌زر تاجه په ځمکه غور ځیدلی‌و لیدله ،ور خطا شواودویری نه‌ولړزید ،څو قد مه نور وړاندی لاړ، هلته دزرتا جی پـــــه‌سینه کی یوه زړه‌زنګ و هلی او خیرنه چاړه ورننو تی لیدل کیده ،زرتاجی یو مرګونی نظر کشمیر ی سیټ‌ته‌و کړو او بیایی کـــــرا رستر ګی په‌پټیدو شو ی ، پــــه ورو ستی وخت کی هغه همدو مره‌وویل چی دغه چاړه ماد ځان سره را خیستی وه ،دپردیسی دژوند نه‌مرګ ښه دی سیټ‌صا حب ، پدی وطن کی هر مهاجر مړ دی ...زموږوطن ...

زرتاجی خبره تما مه نه‌کړی‌شوه‌او هغه یی ورو ستی خبره‌وه ...

دسنباور ځي تنکي غرمه‌وه چې کشمیر ی سیټ دزرتا جی جنازه‌د (رمداس) کوڅي ته‌یوړ ه اود هغی‌زړی جونګړ ی‌ددروازی‌مخی‌ته‌یې کیښوده په‌کومه کی چی اکبر لالا دخپلی کوړنی سره اوسیده ...

پرون ددغی کور او کوڅي تــه‌دزرتا جی سره ډولی وړل شوی وه اودغه سیټ یې په مخه کی‌روان او نن بیا هم سیټ دزرتا جــی دجنازی په‌وړاندی روان دی ،هغه حتی په خپله هدیره کی دزرتا جی ښخیدل نه‌وو منلی.

دسیټ نو کر داکبرلالا د کو ردرواز ه وټکوله ، مخمرو دروازه ایله کړه او جنازه یې دکور مخی‌ته‌ولیدله هغه‌لومړی په هیڅ پو هه‌نه شوه خو چی کله‌یې سنتر گی په سیټ ولگیدی ، لږه ترور شا نی شوه او په‌ور خطایی یې مور ته غږ کړ:

— ابی... ابی...

چیغه‌په‌ور خطا یې شوی وه ځکه‌خو‌په‌یوه شیبه کی تاجو ابـــــی دروازی ته رارسیدلی وه اودسیټ‌په‌لیدلو یې زړه وران شو پښنو یې سستی‌وکړه او په‌ځمکه راولویده...

اکبرلالا، په امساتکیه ، دشا د خواداسی رازوان‌و لکه لاس چـــی دقبر نه راوتلی او په‌حر کت کی راغلی وی، هغه برابر ور غی اود جناز ی په‌څنګ کی‌و درید،کشمیری‌سیټ ته‌یې و کتل ، بیایې د هغـــه سره راغلو کسانو ته او ور پسی‌یې ځان په‌جنازه وروغور ځو لـــو او په‌سلگیو یې‌شروع‌وکړه ...

کوچی

۴۵

۴۲

بوټي توره ږیره ،نري بریت ،توري څڼې دغوږو نو تاوي شوي
او بوړې غاړې ته پروت ، د خپل اوښ سره ښه دې روان و. جونګې
دمور تيو نو ته خوله نږدې کړ له خوځه یې خولې ته نه ور تلل څکه چې
او ښې ډېر چټک ګامونه اخیستل او جونګې ته یې دشیدو خوړ لو
وارنه ور کولو...

دکوچیانو لښکر شل قدمه نـــه ورو ستنه ، ځوانه کوچۍ چـــې
ماشوم یې په غېږ کې نیولی او ددوه نورو او ښانو ،یوې غوا چې څلو ر
پنځه چرګا ن ور باندې تړل شوي وو، دیوه تور سپي سره یو ځا ی
روانه وه ، دپړوني په کونجو نو کې یې دسنډو څو نډ ې ښکار یدل
او توري زړې څپلی یې په پښـــــو وې...

لاره ډېره نا هواره وه، غټـــــې او وړ ې تيږ ې دسفر کوو نکو د
چټک تګ خنډ کیدلې ، پواز ې او ښان بی تکلیفه روان وو او بس
شاو خوا دنګ غرو نه او ناوو نه ګړ نګو نه تر ستر ګـــو
کیدل ، سخت بادلګید لو او پـــــه وچو نر مو ځایو نو کې یې شګې او
خاورې په هوا کولې، کوچۍ ماشو م دپړوني لاندې پټ کړی و..

دکوچۍ جا مې دخپل ځوان میړه نه لږې نوې ښکار یدې ، دوه پسونه
او یووز ګوړ ې دغوا په څنګ څنګ کې روان وو . په لږه لرې فا صله کې

شاتنه ،څه نوری کډه ی همراروانی‌وی اوداوښانو په غاړه کی گینگړ و آواز کولو ...

زیری ماز دیگر و او لمـــر دغرونو څو کوته ختلی‌و څکه څو کوچیانو پراخ‌گا مونه ا خیستل‌او بیړه‌یی کوله ،دتیاری د خوریدو پوری باید ، قافله یو سم صحیح‌ځای ته‌ور سیږ ی اود شپی‌دتیرولو دپاره یوسم ځای‌و تاکی ...

دغرونو په‌تړ و کی بادیو عجیب‌آواز کوی ، داسی‌آواز چی په هیڅوا بنه‌نه‌لگیږ ی مخصو صا هغوی چی‌په‌سفر کی وی او مجبور وی چی لاروړهی او مزل وکړی ...

هر څومره چی تیاره زیاتید له‌بادونو سختیدو او قافلی ته یی مشکل پیدا کولو ، کو چی بنــــه‌گړ ندی روان‌ولیکن شاته پاتی کوچی په‌ښو کی سستیا او کمزور ی احساس کوله . په‌غیږ کی ماشو م هغی ته‌زیات تکلیف ورکړی‌و ا و غوښتل یی‌چی‌چیر ته دمه ساز ه کړی خوددی کار دپاره‌و خت‌نه‌و .زلمی‌کوچی‌داسی پراخ پرا خ‌گا مونه اخیستل چی شیبه په‌شیبه یـــی‌فاصله دخپلی میر منی ســـــره زیاتید له او چی‌کله باد لاتعه شو نوپدی‌و خت کی کوچی مخ‌شا ته‌را وگرځولو او په‌ښځی یی غږو کړو :

ـ رنگینی های ... لږه چو ستته‌شه ...

لیکن رنگینی دباد په‌شغار کی د خپل میره دغه آواز وانه ور یده ه داسی معلو میده چی یاڅو ه یره‌زیاته ستړی شوی‌وه او یادناړو غی کوم تکلیف لری . رنگینه په خپل‌خیال او فکر کی ډوبه روانه‌وه، ماشوم یی‌کلک دپړونی لاندی په‌غیږ کی‌نیولی و اوداو ښن رسمی یی د څره دلگی په‌بر خه کی ټینگه کړی‌وه .

دلړۍ شیبې مزل نه پس، کوچی بیا شاته وکتل او په بنځې یې غږ وکړ:

ـ رنګینی ...! هری چالا که‌شه کنه...

داخل رنګینې د خپل زلمی میړه غږ واوريد ، اوداوريدو سره لږه چو سته شبوه خو داسې یې‌محسوس کړې ووچې هغه نن سفر کولو ته تیاره نه ده او پښې یې دو جو د بارنه‌شي وړلی .کو چی شیبه په شیبه متبه کیدله اود حر کت‌کولو توان یې دلاسه ور کولو خوځښتن یې ددغه حال نه‌بې خبره پا تې‌و اود خپلې ، ښځې تکلیف یې نه‌شو احساس کولی ...

دریم وار آواز پورته شو ، خودغه آواز درنګینې و چې په میړه‌یې غږ وکړ:

ـ د هیکل پلاره ... لږ صبــر وکړه...

په دی غږ سره دهیکل پلار یادرنګینې میړه ، ځای په ځای ودریداو مخ یې خپلې‌ښځې ته راو ګرځاوه‌هغه دلیرۍ‌نه‌رنګینه ولیدله چــې کرار ، کرار ځمکې ته ښکته شوه‌او بیاپه ځمکه کینا سته ،وړو کې پاشوم یې هغه‌شا ن په‌غیږ کې‌نیولی و، هغه‌کله د هیکل مور په غښې حالت‌کې نه‌وه لیدلی ، په‌زړه کې‌یې‌شودا او څه نمو ندی تشو یش را پیدا شو، دا ځل د هغه په نظـــر درنګینې غږ څه بل شان و، یو پټ ناپیژ ند لی احساس یې د زړ ه‌غوته ومروړله ، منتظر نه‌شو ، او ښځې‌یې پر یښودلو اودرنګینې خوا ته یــې را منډه کړه، دځوانې منډه وه او په‌څو ګامو نو کې‌یې ځان هغه ته ور ورسولو.

رنګینه په ځمکه ناسته وه او دې‌دررسیدو سره هغه ته‌په‌ګو ته‌و شو او په‌وړ خطایې یې‌ورنه پو ښتنه وکړه:

ـ رنګینې ولې ... څه شوي دي... ها....

رنګینې ورو خپل ماشوم په څمکه کیښود او خپله هم پر یو تله ... خواو شا خاورې او دوړې پورته کیدلې او باد فریادو ته کول، داسې فریادو ته چې کاڼو بوټو او ریدل او لړزیدل . رنګینه په دردکې و ه اوچې په ځنګ کې یې میړه ولید واود هغه آواز یې واوریده نوور ته یې په خواب کې وویل:

ـ د هیکل پلاره ... ! بیارا ته هغه درد راپیدا شو یدی ، نوره نه شم تلی ، په پښو کې مې نور توان او طاقت نشته دی ، ته دغه هلـك واخله ...

زلمی کوچی ، درنګینې میړه خپل لاس د رنګینې د ملا نه تاو کړ و اوپه ورخطا یې یې ور نه تپوس وکړو:

ـ رنګینې د ډاکتر صیب دوا د ې چیرته ایښې ده ...

رنګینې په ستونی کې ځو ا ب ورکړو:

ـ دوا ... خلاصه شو یده ... پیسې خونه وې چې په ښار کې دې نوره اخیستې وای ... د هیکل پلار ته او س وایاد شو چې د پیســـو د نشتوالې په وجه ، هغه د رنګینې دپاره دوانه وه اخیستې او چې په حقیقت پوه شو نو په پریشا نې یې وویل:

ـ رنګینې ، او س به څنګـــــه شي ... ؟

رنګینې په سختې سره ځو ا ب ورکړو:

ـ د هیکل پلاره... ! همه لتـه پاتې کیږو ، مخکې نه شو تلی ، ښې لاس ته دغې سیمې کې واړوه ...

د رنګینې میړه ، د خپلې ښځې په نارو غې ښه پو هیده ، هغه تـه ډاکټر ویلې وو چې رنګینه د زړ ه مریضي لرې او د هغه د پاره سفر

کول او زیاته لاره و هل ضرر کوي. رنګیني ته دغه نارو غي په‌لنګتون کې راپیدا شو یله .

زلمي کوچي ته تو لي خا طر ي‌رايادي شوې، ډاکټر ته درنګیني بیول ،په‌روغتو ن کې دمعاینا تـــو تکمیل او نور او نور . هغه ته را یاد شو چي‌ډاکټر ور ته‌و یلي وو رنګینه باید زیات په استرا حـت کې‌و ی او ډېر لږ سفروکړ ی . لیکن دغه‌کار دکوچیانو دپاره‌ناممکن دی، څکه چي‌سفر دکو چیانو ژوند‌دی، هغوی په‌سفر کې پیداکیږ ی او په‌سفر کې مري . کو چي یعني‌داسترا حت او آرام‌نه محـــرو م یعني په‌سر ګرداني او لالها ندي محکوم ، بې‌کوره ، بې اوره او بې هديرې ...

دهیکل پلار اود رنګیني خو ا ن‌میړه چي دواړه یې لادوه کاله هم‌نه وو پوره شوي ، دلمر غرغړو تـــه‌وکتل او بیایې درنګیني په مـــخ مسترګې ښځې‌کړې ،دخاو رو ا و دوړو نه‌ډکې سترګې یې‌له او ښکو ډکې شوې . هغه ته ډاکټر و یلي‌وو چي رنګینه باید څای په څـــا ی استرا حت وی او که‌نه‌نو ... کـــه نه‌نو ژو ندیې په‌خطر کې‌لویږي...

درنګیني میړه نور هیڅ و نـــه‌ویل، ښځې ته‌یې ډاډ ورکړو چـــي همدا او س به کده ‌پاڼو ي اوبیایې‌شا رنګیني ته‌واړو له او ور ته‌یې وویل :

ــ رنګیني ... ! راپه شا شه‌چي‌ړو مبې تاورسوم . ته‌به‌استرا حت شې اوز ه په‌مال راو ګرځو م او کالې په‌ور نه راښکته کړم ...

رنګینه میړه ته په‌شاشوه ،دهیکل پلار اول رنګینه او بیا ماشوم‌هیکل په‌یوه ګو ښه کې‌پر تې سیمې ته‌ورسول او بیایې ما ل ،او ښا ن، پسونه ،خره او غواګول په هغه‌څای کې پنډ کړل او څو شیبې‌ورو سته

شپاته زاروانی کډی ی هغوی تــــه‌راور سپیدی اودوه دری بنځی او سړی چی نارینه او بنځو دوا ړوملا تړلی وی دهغوي د حال نــه‌د خبرېدو دپاره دهیکل پلاراو رنګینی ته‌ور غلل اود هغوی دپاتی کید و پوښتنه یی وکړه... کډی څه‌روانی او څه ولاړی وی ، پسو نو او وزو یوه خوابله خوا ته پونه و هل اوسرونه یی جنګول ، دا سی ښکاریدل لکه دکوچیانو نه چی دغه څاروی زیات خو شحاله‌و ی ، څو مره چی کوچیا ن مړاو ی او څنګید لی تلل، هومره پسونه او وزی مستی و ی اودیوبل سره یی لوبی کو لی...

تولو ته ډیر زر پته و لګیده چی درنګینی دناروغی په‌و جه ، هغوی کډه اړو لی ده، دنورو کو چیانودپاتی کیدو او یادکډو اړولو امکا ن نه‌و .څوتنو وویل چی هغو ی به‌هلته پاتی‌شی خوداکار در نګینی مېړه او په خپله رنګینی قبو ل نه‌کړو...

تیاره ورو ورو خوریده له،اوغرونه په‌تیاره کی دتورو دیوا نوپشا ن ښکاریدل ،دآرام کولو ســره د رنګینی حال نسبتا ښه شو . هیکل دمور په څنګ کی‌پروت و اوزلمی کوچی درنګینی سر ته‌ناست و . او ښځانو شنخوندو هلو اودخو لی‌نه‌یی څګونه راالویدل، ټو لو آرام کړی وخو سپی په ډیره هو ښیار ی او بیدار ی یو خوا او بله خوا منډ ی وهلی او کله‌کله به درنګینی خواته‌هم رانژ دی شو ...

هغه شپه زلمی کو چـــــی په‌ویښه سبا کړه او هره شیبه یی‌د رنګینی خبر اخیستلو . دا ســـی‌ښکاریده لکه رنګینه چی‌دعمزو نو سترړی او ستو مانه وی. دشپی‌به‌کله کله دماشو م هیکل ژړاواوریدل شوه اود هغه دژړا سره به‌رنګینی‌هغه‌ته‌تی ورکړو ...

سپوږ می ډیره ناو خته راوختله اودسپوږ می دراختلو سره‌غرو نه

او وږغو نه رپاشول ، دغرو نولوړی څو کی دا سپی ښکاري ږدی لکه هلته چی پهره داران ولاړ وی اودخوا و شا سیمو څارنه کوی ...

دزنگینی دکور تول کالی دزړو کوخیر نو او شلیدلو پړ ستنـــــو د رینجاړی توشکونو ، او ځینی نو روبی ارزښته سامانو نو نه پرته نه وو اودا په حقیقت کی دیو ی کوچی کور نی تو له هستی وه. دوه اوبدان یو جو نگی ، یوه غوا ، یوه خره. دوه پسونه او وزه گوړی ید یوسپی سره ددغی کور نی شتمنی وه اودا هم زلمی کوچی ته دپلارا نه په میراث کی پاتی شوی وو.

لوړی شپه ډیره سخته تیره شوه ، زلمی کوچی کری شپه په چرتونو تیره کړه. هغه درنگینی دروغتیا اودوادرمل په فکر کی و د رنگینی و جود دهغه دژوند پانگه وه او هغه یی هیڅکله دلاسه نه ور کوله ...

لیکن هغه په ژوند کی بیخی یواز ی و ، پلاریی مړو ، خویندویی میړونه کړی وو او مور یی دمشری لوز سره وه. درنگینی په مثل هغه دټولو سره و شلو له ، یوازی ژوندیی غوره کړو اونن پوه شوی و چی یوازی دقام قبیلی او خپل خپلوا ن نه لیری پاتی کیدل څومره گران دی ، انسان خو دخپلو خپلوا نـو ، کور کورنی او خپلو کلیوا لو سره ښه ښکار ی . دنورو کوچیا نـــو کډی راتلی او تیریدلی ، هـــری کډی ، دهغوی سره د همدرد ی اوخواخوږ ی احساس نیکاره کولو او دهغوی دپاره یی دخه خد مـــت پیشنهاد کولو لیکن ( خوږ نه ی ) یادرنگینی میړه پو هیدو چی کوم شی ته هغه ضرورت لری هغه به درنگینی دپاره دواده اوداد یو ی کډی سره هم نه وه ...

دری شپی رنگینه په تکلیف کی وه اودلږ استراحت سره پنـــی

تکلیف نسبتاً لږ شو ، خو ننه ی په مینه محبت دهغه په تور پیکی لاس وهلو اود رنګینی په سینه پروت لونګین یی بویولو ، د هغه د وجود په هره ذره کی د رنګینی عشـــق او مینی چپی وهلی ، هغه ور ته د خپل ژوند نه زیاته ګرانه وه ، کله کله چی به رنګینه ویښه وه نـــو خوندی به هماشو م زوی هیکـــل پاڼکی مچو لی او په سترګو به یی ایښودلی ، او رنګینی به دد غـــه حالت نه د ننه په زړه کی دخو ښی احساس کولو ، (خوندی) په یوازی ځان هم او به راوړلی ، هم یـــی او ښان او نورما ل پوو لو . هم یی د رنګینی دپاره ډوډ ی تیارو له ، هم یی اوړ لګولو او چا می پـــــی وینځلی ...

یوه هفته هغوی هلته پا تـــی شو ل . رنګینه داسترا حت په وجه دپخوانه ښه شوه . دو مره یی کو لی شو لچی له ځایه پاڅیږ ی او یو نیم سپک کاروکړ ی : خو ننه ی د رنګینی د ښه کیدو په خاطر موټی مو ټـــی غو ښی اخیستی . ماشوم زو ی یی دخوشحالی نه پورته پورته غو ر — ځو لو اود ځان سره یی په کوچیانی لهجه او طرز سندری ویلی ...

رنګینه ددی چو ګه شوه چی د چینی پوری لاړه شی او ګوډ ی داوبو نه ډکه کړی . هغوی په مشوره ســــره فیصله وکړه چی اوږ ځ دوه پس باید کډی بار کړی ، کولار ګرار د کورد کالیو دغونډولو په فکر کی شول .

هغه ور ځ زیږی ماز دیګرو چی رنګینه داو بوراو ړ لو دپاره روانه شوه . چینه دو مره زیا ته لیر ی نه وه دغره په لمن کی په یوه تیتـــه سطح کی واقع وه ، په سر یی یوه کوره ونه ولاړه وه ، شاو خوا یی شنه جلګه وه ، خو قد مه وړاند ی ورنه غوا او پسو نه په خوړ ا ک لګیاوو او او ښانو دلیری نه خوزان خوړل ...

رنګینی د بړی خپلی په پښو کړی او سره لوپټه یی په سر وه ، په

تللو کی‌یی ډیر احتیاط کولو ، هغی‌او ریدلی‌وو چی‌په لاره کی ماره دی سرنګو نه (مینونه) پراته دی،څوك یی‌نه‌شی لیدی، چاته‌یی ځای هم نه معلو میږی له همدی کبله دکوچیانوزیاتی کور نی چی‌په‌بی خبری کی‌په هغو برابری شوی‌وی نو ژو ند یی‌د لاسه ورکړی او غوښی یی‌په هوا الوتی وی، دالومړ ی وارنه‌و چی‌رنګینه په هغه لار تیریده له، مخکی یی هم یوولر دوه واره له چینی‌اوبه‌وړی‌وی او کوم‌خطر یی‌نه‌و محسوس کړی، ځکه خوپه‌زړه کی ډاډه‌وه ، په ډاډه زړه او احتیاط روانه وه ، داوار یی دګوډ ی په‌ځای یوه وړ ه‌دیکچه په غیږ کی نیو لی‌وه ...

چینی ته درسیدو سره یـــی‌دیکچه په او بو ور ننویستله ا ود وینځلو نه‌وروسته یی داوبو نه‌ډکه کړه لیکن دراپاځیدو په‌و خت یی‌یو وسله‌وال سړ ی خپل شا ته اویو بل سړی یی‌په‌یوه لری فاصله کی ولید. دواړه درنګینی په‌نظرناآشنا راغلل او ویی نه‌پیژندل ...

درنګینی سره نژ دی‌ولاړ سړ ی، اوږده ویښتان او ګوره ږیر ه درلوده ،مخ‌یی دتوروا لی له‌کبله‌سوی سکور ښکاریدو .دمخ په‌چپه خوا کی‌یی دیو ژور زخم نښی نښا نی‌ښکاریدی ، اور بوز یی تړلی‌و ، یوه پیڅه یی‌ښکته او یوه پور ته‌وه، دسپین سا ن جا مې‌یی په ځان‌کی وی او سترګی‌یی داسی سری وی‌لکه د منی پوستکی ... رنګینـــی دیکچه په‌سر کیښوده او سړ ی‌ته‌دکتلو نه ورو سته یی قدم مخکــی کیښود لیکن نا پیژنـــد لــی‌دهغه مخی ته ودرید او ور ته یی وویل:

– په دغسی ځای کی دغســی‌فرښته او حوره ...

ددغو خبرو سره، و سله وا ل‌سړی نری نری خندا و کړه او په لا س یی درنګینی دسینی لو نګین ښکته‌پورته‌کړو، او دی حرکت رنګینی‌ته

تهول خقایق روښانه کړل ،وجودیې پهلړزیدو شو او شونډې یې د قهر نه ورپیدې ... لږه پهشا لاړه اوهغهسړی تهیې وویل:

ــ لږی شبهپلیته ... ناپاکـــهلیوه ...

د رنګینې دښاته تللو سره هغهسړی نور هم رنګینی ته رانژدې شو او بیایې نری خندا وکړه او ویې ویل:

ــ میاشتې او کلونه کیږی چې د ښځـــې بوی مې ندی لیدلـــی ، او کلنی کورته نهیم تللی، په دغو غرونو او بیدیاوو کې سر ګردا نـــه او لالها ندهیو ، ډیر نا مراد ژوندرابانډې تیریږی خو څه وکـــړو چې ...

رنګینهیې په خبرو کې راو لویده او پهیو سنبک او تو هین کوو نکی انداز یې ور تهوویل:

ــ تپوسیان او قجیرا ن تل د مردارو پسی ګرځی او حلالی ته نهشې ورنژدې کیدی، لیری شه ګنی میږه ته غږ کوم ...

د ناشنا سی وسله وال پهسترګوکې دشهو ت اور بلیدو ، او چې د رنګینې خبره یې واوریده نوو یې ویل:

ــ میړه دې مونږ لیدلی دی ،دادری شپې مونږ دلته تیری کړ ی دی ، کهتا دو صل شر بت راکړو نو هغهبه هم ژو ندی پاتې شی او که نه نو ...

رنګینه لاد مخکې تهپه هر څـه پوهه شوی وه او دانسا ن پهجا مهکی یې شیطان پیژندلی و . نو څکهخوینې خپل فکر کړی و. ورو ورو شاته لاړه اود چینې دونې شاتهودریده، مسې دیګچه یې په دواړولا سو نو ټینګهکړی وه .د ونې ډډ ې ته یې تکیهو کړه اودشهو ت په پنجوکی ګیر هغهسړ ی ته یې وویل:

ــ ګوره مونږ غریب کو چیان یو،هیڅ چاته مو بدنډی رسیدلی ، پــه

غربت کې په‌عزت ژوند کوو ـ آخرته‌زما نه‌څه ...
سړی و خندل اولاس یې‌درنګینی‌په اننګو راښکو او بیایې وویل:
ـ دغه دمنې‌پشان سره اننګی اودغه ایمان سوز حسن سړی لیو نی کوی ، عقل ته اور اچوی او ...
په دې‌وخت کې دشهو ت په‌لمبو کې‌لویدلی سړی دذوق او شو ق‌نه سترګی پټې کړی اودرنګینی خوا ته‌نور هم رانژ دی شو چې غیږ کې یې‌ونیسی لیکن کوچی‌ور ته و خت‌ورنه‌کړو اوداوبو ډك مسی ډیګچې یې په دواړولاسو"نو په خپل ټو ل‌قوت دهغه‌په تندې او پوزه ر اخلاص کړو اودسترګو په‌ر پ‌کې یې هغه‌په‌ځمکه راو غورځاوه ...
رنګینی دیوکو ما ندو عسکر په‌شان په‌یوه شیبه کی ټو پك‌د هغه سړی دغاړې نه وو یست اود لټ‌په‌و هلویی دټوپك ججوره ، په‌هغه سړی تشه کړه ...
دډزو آواز هره خوا خپور شواوانعکاس یې وکړو، درنګینی میړه‌او په‌لیری فاصله کې‌ولاړ هغه سړ ی‌دواړو واو رید . اود ټو لو نه اول دوژل شوی سړی ملګر ی کو چې‌ولیده او په رنګینی یې ډزې‌شروع کړې، هلته دوړو کې هیکل سر ه‌ناست څونډ ی هم‌دڅایه راپا څیداو ټو پك یې راوخیست ، دلیری نه‌یې‌کتل چې یو سړی په رنګینی ډزی کوی، رنګینی په خپل ټول قو ت
ـ د هیکل پلاره ... اګوزه چې‌درنه‌خلاص نه‌شی دښمن دی ...
درنګینی میړه، نور په هر څـه‌بوه شوی‌و ،دخپلی میړنی ښځې‌په خواب کی یې‌وویل:
ـ رنګینی ... ! ډاډه او سه ...خلاصیدی رانه‌نشی . ګوره ورته‌یی مه‌ژو ندی یې نیسه ...
رنګینې او څونډ ی دوا ړو ،دهغه سـړی دنیولو هڅه ولړ ه،خو

ډېرې بدې ډزې يې کړې ولې، زلمي کوچي خپل ښځې ته چاپېر کولو چې دښمن خلاصېدی نه شي او راګيردي ، ځوندی بې پروا او په ډېره زړورتيا ورته روان و او په هغه سرې يې غږونه کول چې تسليم شي او ډزې نه لاس واخلي .

رنګينه دلېرې خپل غيرتي مېړه کتلو چې مخ په لوړه روان دی، ځو ندی په دې وخت کې په خپل سبې هم غږونه کړو چې نيسه يې (ببره) خلاص دې نه شي ...

رنګينې يو وار دوه وار ې په مېړه آوازونه کړو چې احتياط کوه، خو دغه آواز ځوندي ته وانه ورسېده او بې پروا مخکې روان و ... (ببر) هم ډېر زر ځان هغه ته ور رسوو او د دښمن په لور يې منډه وا خيستله...

(ببر) داسې لګه ليو نی شو ې چې وې، ډېره تېزې ې نه بلې ته يې ټوپ وهلو، خو دښمن د کوم چې د بې پروايي نه ګټه وا خيسته او يو رساډزې يې ور باندې وکړه واو ځوندي ې په ورانه کې ولګېده...

رنګينه پوه نه شوه چې مېړه يې لګيدلی دی ، خو دغه احساس يې وکړو چې په هغه څه شو يه دې ځکه چې د ډزو آواز يې خاموش شو ، د ډزو په مينځ کې (ببر) ځان هغه سړي ته ورسولي او په يوه حمله يې هغه راپرزولي و...

د پاس دلوري نه ډزې بندې شوې رنګينې ځان هلته ور ورسولو او ودې نږدې نه يې هر څه وليدل ... ځو ندی په ورون داسې لګېدلی و چې غو ټه غوښه يې ورنه الوزولې وه او دا د امريکايي ټوپک خصلت و ، په له خوا په لږه وړاندې فاصله کې (ببر) هغه سړی داسې رانيولی و چې هډ و جامې يې ورته نه وې پرېښې د ې او په وجود يې ورله ځوږ ځمو نــه اېښي وو ...

ځونډۍ ، د رنګینې په لیدو هغې ته وویل:

ـ رنګینې په لوپټه دې زما وړین کلک وتړه ، هله ، ټوپک دې د هغه دښمن ککرۍ ته ونیسه او کـه د ټینګښتي نیت یې وکړو صر فه‌ورباندې مه کوه اوډز کوه ، هغه باید حکومت ته تسلیم کړو ...

څه چې زلمي ځونډۍ ویلي وو رنګینې هغسې وکړل ، او په دې ډول یې دښمن تر خپله ځایــه راوست او هلته ځونډۍ او رنګینې هغه د لاس او پښو نه وتړلو ...

سبا سهار چې سپېدې لا نه وې چاودلې ، رنګینې او ځونډۍ کډه بار کړه، کوچۍ رنګینې ځونډۍ په اوښ باندې د نورو بسترو او کالیو په مینځ کې وتړلو او دښمن یــې لاس تړلی د اوښ د لکۍ پورې په یوه اوږده رسۍ وتړلو او روان شو...

رنګینې په زړه کې بیا د ناتوانۍ او کمزورۍ او بې حالۍ احساس وکړو خو د ځونډۍ له کبله یې هیڅ نه ویل ، وړوکی هیکل یې هغه شان په غېږ کې و او د هغه په مینه او محبت او د زلمي باتور مېړه په عشق یې لاړو هله ...

تېر ماسپښین آبــادۍ ته را ورسېدل ، دغې آبادۍ ته نژدې ، نورو کوچیانو هم کډې اړولې وې . خړ خړ لوګي له هرې کیږدۍ نه پورته کېدل. په تورو کیږدیو کې واړه ا و زاړه ناست وو او د کیږدیو مخې ته اوښان . پسو نه او غواګانې پنډې شوې وې او چیلې یوه خوا بله خوا ګرزیدل راګرزیدل ...

رنګینې او ښان (چو) کړل ا و ځونډۍ یې د اوښ نه راکوز کړو، د نورو کوچیانو پام دغې کډې ته راو ګرزید او ځینو رنګینه او ځونډۍ

وپیژندل ،زنانه یو یو درنګینـــی کیږدی ته‌رانژدی شوی اود هغه سره یی دلاس کولو او کومـــك اراده ښکاره کړه...

لیکن دلاس تړلی سړی په‌باب دهغوی‌نه‌پوښتنی‌شروع کړی اوډیر زر په حقیقت پوه شول ...

سپین ږیرو جرګه جـــوړه‌کړه او په دې مساله یی غوروکړو. ډیرو کوچیانو وویل چی د ډیـــروخت نه د هغوی میږ ی او وز ی غلاکیدلی او غل نه پیدا کیدو ، پسو نه وړل کیدل خو په علت یی څوك نه‌پوهیدل.په ځینو سیموکی‌وسله‌وا لی نښتی هم شوی‌وی خو حمله کوونکی په‌تیاره کی‌تښتید ل‌اولاپته شوی وو او اوس په د ی خبرو لږه رڼا پریوتی‌وه ...

جرګی دو سله وال دښمن نـــه‌ډیر معلو مات تر لا سه کړی وو . هغه په‌ډیرو پیښو ، مر ګو نو ا وقتلو نو اعتراف کړی و او فیصله وشوه چی هغه‌باید دقانون پنجوته‌وسپاری . څوند ی هم دیو ثبوت او شا هد په‌ځای د هغو سره‌تللو ته‌حاضر شو او دوژل شوی‌سړ ی پته هم خلکو ته‌ور کړی شوه ...

سباناښست ،څو نډ ی دنو ر و کو چیانو سره دحکو متی په‌لو ر روان شو او هغه ور پخ تر غر می‌پوری هلته‌پاتی شو، او چـــی تحقیق تو ل بشپړ شو "نو تـــو ل‌کو چیا ن په‌ښر یکه ذکیږ دیوخوا ته را روان شول ، دیو نیـــم دوه‌سا عتو لاره‌وه لیکن کیږ دیو ته‌په رارسیدو ، دلری نه څو نـــډ ی‌دخپلی کیږ دی په مخه کی‌د خلکو ګڼه ګونه‌و لیدله ، فکر یووړ اوداتصور یی وکړ چی کوچیا نملګری او دوستان درنګیتی سره مر سته اوکومك کوی ځکه چی‌هغه یو ا زی ده او وړوکی ماشوم هم‌ور تر غاړی‌دی. کوچیان یودبل سره د یـــر

مهر بانه او خواخوږي دي، دهغوی ژوند په یووا لی او وحدت او لاړ دي او یودبل سره په کارونو کی لاس کوي...

څونډی دنورو سره یو ځای راروان و اودلکړی په تکیه او کو مك یی لارو هله .ټول مخکی را تلل خود څونډی کیږدی ته لارارسیدلی نه وو چی دلیري نه یي دژړا آوا زتر غوږ شو . دزلمی کوچی زړه دویرې او پریشانی احساس وکړ ، لږ نورهم چټك شو هره ښځه چی په مخ ورتلله نودسترګو نه یې او ښکي راروانی وي او تورپړوني یی سترګو ته نیولی وو ...

دڅونډی زړه په رپیدو اولړزیدو شو، دلیر ی نه یی دکیږدی مینځ ته کتل چی دحقیقت نه خان خبر کړی خو په کیږدی کی دښځو بیړه جوړه وه او څه نه ښکاریدل ...

زلمی څونډی په زخمی ښنه ، دلکړی په زور ، په یو څو ګامو نو خان کیږدی ته ورورسولو او د ټولو نه مخکی یی دوړو کي هیکل د ژړا آواز تر غوږ شو ، ښځی د کیږدی دننه درنګینی نه ګرد ـ چاپیره ناستی وی او ورو ورو یی او ښک ی تویولی ...

څونډی لکړه وغورځوله او مخکی لاړ، هلته دکیږدی په مینځ کـــي رنګینه پرته وه اوما شوم زوی یی په خواکی پروت او ماشوم ژړل ...

دڅونډی په سترګو تیاره را غلی وه، داسی ښکاریدو لکه په سترګو چی یی پردی راغلي وی، وړاندی لاړاودرنګینی په څنګ کی کیناست .

شاو خوا ناستو سترګو چیانو ښځوته یی و کتل او بیا یی رنګینی ته وکتل درنګینی ستر ګی پټی وی ، ا و سره النګی یی داسی ژیړوو لکـــه زعفرا ن...

څوندې ، لاس د رنگینی په تندی کیښود او په هغې یې غږ وکړ:

ـ رنگینی ... رنگینی ! ...

د څوندې د دغه آواز سره ، ناڅاپه ناستې زنانه په ویر شوې ، هغوی د لومړی ځل دپاره د رنگینی نوم اوریدو ، رنگینه د گل پشان رنگینه وه ، د حسن او جمال ښاپیرۍ وه او نور یې له څهرې نه پورته کیدو ...

څوندې باور نه شو کولی چې د هغه د ژوند شریکه به له هغه نه جدا شوې وي ، د هغه رنگینه به ... نه ځلمی کوچی د مرگ نوم په خوله نه شو راوړی ، د هغه زړه ته دا نه لویدله چې رنگینه په ابدی خوب ویده شوې یده ، څوندې داسې فکر کولو چې د رنگینې ژوند دده سره غوټه دی او چې رنگینه مړی نو دده ژوند هم پای ته رسیږی . څوندې د رنگینی سر ته ناست و او اوښکې یې اختیاره د هغه له سترگو را ـ تویېدلې ...

د توری کیږدۍ د لاندې ... کوچی پرته وه او کوچیانی ورته ناستې وې ویرېې کولو ... یو ی کوچی وړوکی هیکل په غیږ کی ونیولو او د کیږدۍ نه وو تله ... (ببر) د کیږدۍ مخی ته پروت واو سر یې په دوه پښو ایښی و ...

هغه کوږ نجیدو ... او د باندې اوښانو بربر کولو ...

# دانسانیت جنازه...!

دریم سړی زه‌وم چې دپیښبورد (سنټرل جیل) جیلر ته‌و ړاندی‌شوم او چې کله د هغه مخی ته‌ودرید لم‌نو هغه راته دسترګو لا ندی‌و کتل او بیایی تپو س‌وکړو:

ـ نو م ...

ـ شیر بهادر ...

دشیر بهادر دنوم او ریدو سره‌دهغه‌و چو لي تریو شو اودشو نه‌و دپاسه توری اوږ دی بر یتی یی‌ښکته پورته‌شانی شوی او پدا سی حال کی چې دکاغذ په‌سر یی څه‌لیکل . په همغه حال یی بیاپوښتنه وکړه:

ـ قومیت ... ؟

ـ افغان ...

جیلر یو ځل بیا ماته‌و کتل اوویی پوښتل:

ـ افغان مهاجر ... کیمپ ... ؟

ماورته په ځواب کی وویل:

ـ هو ! افغان مهاجر اودورسک په‌کیمپ کی اوسیدلم ...

جیلر قلم دکاغذ دپاسه کیښود او له خپل ځای نه راپاڅید ، توز غږ او چاق سړی و، دونی ټیټ ورو ځی یی دطبیعی انداز ی نه زیاتی ګنی و ی ، هغه چی کله زمامخی ته راورسید نو په غټو او درنو لاسو نو یی زما دسینی زخم ته اشاره وکړه او په څهره کی یی د قهر او غضب نښی نښانی راښکاره شوی او چی څو ماځا ن خو زو لو جیلر په همغه زخم ګوزار راکړو او ویی ویل:

ـ ته وای چی زمو ښ ځو به دازدی قتل کړو او خپله ده غه ز خم نه ژو ندی پاتی شوی ؟

زه د هغه د خبرو په معنی ا و مفهوم نه پو هیدم اود ځو بیڼا رد قتل نه هم خبر نه وم خو دو مره پو هیدم چی زه دیو پاکستا نــی ځو بیدار دقتل په جرم پیښـــورسنټرل جیل ته بیول شوی وم او دری کاله می په دغه جیل کی تیر کړی وو، دتکلیف ، کړاو او عذاب نه ډک دری کاله ...

هغه ور ځ چی ز ه دور سك دمهاجرو دکیمپ نه جیل ته راو ستـــل شوم نو په کیمپ کی زما نه یو ه خوار لس کلنه لور، مر ځانه، دوه واړه هلکان څلور کلن او پنځه کلن اود هغوی مور کلیمه پاتی شو ل او تر ننه ور ځی پوری د هغوی دحال او سر نو شت نه خبر نه شو م ...

پنځه کاله مخکی ماد خپــــل ژونه دیره لویه غلطی و کړه اوهغه دخپل کور کلی ، دیری او حجری، پولی پټی او جومات پریښودل وو. خوزه لاتراو سه هم په دی نـــه پوهیږم چی ما هغه غلطی ولی وکړه

او څه شي زه مجبور کړم چې دلته راشم او دومره چې په نو هیلاد شم .
هغه نوم چې زما د ښمان سره ښه نه ښکاریده او د ځان سره مې د شرم
او خجالت احساس کولو ...

زموږ د کلي نه ډیر نور کسان هم کډه شول او ټول زما په شان
پهوا قیمت نه پوهیدل . موږ لوږه . کورنۍ یو ځای راغلو او په ورسک
کیمپ کې ځای په ځای شو .

د کیمپ او خیمې د ژوند سره موږ بلد نه وو او د هغه تصور موږ هم
نه شو کولی خو کله چې په کیمپ کې میشته شو نو هغه څه چې مو د
دوزخ په باره کې اوریدلي وو ، هغه ټول مو په کیمپ کې ولیدل .

په کیمپ کې د میشته کیدو په اوله ورځ سر کاري خلک را غلل او
زموږ نو مونه یې په کتابونو کې ولیکل ،

د اوو میاشتو پورې چې موږ هره ورځ هغه مو وخوړل او د اسې وخت
هم راغی چې کلیمې خیل یا هوګان ګوتی ، او والی هم په پاکستان نسی
ما مورینو خرڅ کړل .

په کیمپونو کې هیڅ یو ی، قحطۍ او لوږ ی بداو یو د نشتوالی او
نورو مشکلاتو په وجه د (هیضې) بیمار ی خوره شوې وه او دا سې
ورځ نه وه چې د څلورو او پنځو ماشوما نو جنازې ونه ویستل
شي .

موږ په وطن کې په پرا خو کلیو یا نیو کې په آزاد ژو نــــه
عادت وو او دلته راته کیمپونه د قبرو نو پشان ښکاریدل . په اولو
ورځو کې ښار ته راتلی شو خو وروسته حکومت شوی چې هیڅوک

ښارته نهشی تلی او که چا دد غه حکم نهسر کښنی کو له هغهپولیسو بیولو...

کیمپو نه یودبل په خو اکیواقع وو .دښار نه پهبند ،یدو مو ډیر تکلیف احسا س وکړو نو مجبورشو چی دخپلو گاو نډیانوکیمپو نو ته ور شو او په خپلو کی دو طن پهیاد خپل غم غلط کړو ، هغهوطن چی مونږ پهکی زیږید لی او لو ی شوی وو او زمونږ دپاره یی دجنت ګانی حیثیت در لود .

لږی ور ځی او شپی تیری شوی وی چی پهکیمپو نو کی اعلان وشو هیځ یو مها جر افغان، حق او اجازه نه لر ی چی خپل کیمپ پریږ دی او ګاونډ ی کیمپ تهور شی او یا مهاجرین په خپلو کی جر ګی جوړی کړی.

زمونږ اعتراضو نو او احتجا جو نو کوم ځای نه نیولو ، زیا ت خوانان اود عزت خاوندان سپیـــن ږیری پهکیمپو نو کی داغتشا ش راپیدا کو لو په الزام ونیول شو او بندیان کړی شول .

دغمو نو او دردو نو پیتی ور ځ پهور ځ درنیدو او ساه می بند ه بنده کیدله، کیمپو نه را ته جو ړ قبر ستا ن ښکاریدو او مو نـــږ داسیوو لکه مړی ،مړی هم بیواکه اوبی اختیاره وی او مونږ هـــم بیواکه او بیاختیارهوو . پــــه کیمپو نو باندی چی لا بندیزو نه نه وو ایښود ی شوی نو مو نږ بهدیو ځای کیدو پهو خت دیو بل نه تپو س کولو چی مونږو لی د غو قبرو نو یا کیمپو نو تهرا غلو .

څه مو اوریدلی وو او څه مووکتل، زمونږ نه خو بندیا ن ښه دی چی

دمونځ اود س اوغسل دپاره‌خواوبه‌لږی.

داو بو دنشتوا لی او کموا لی‌په‌و جه ، دکلیمی پښی او لاسو نه په خیرو کی‌ټپ شوی وو،ماشومانو سپږی کړی‌وی او چی‌کله به داوبو ټانك را ورسید نو محشر بـه وږ باندی جوړ شو .

دهغو میندو او خو یندو زړ ه‌دردوو نکی ژړا گانی مو شاو خوا اوریدی چی ماشوما ن یی پـــه (هیضه) مړه شو ی اوغیږی یـی تشی شوی‌وی ، لیکن په هغو هیڅ‌چاره نه سو زولو ، مونږ نه ښمار ته‌تللی شوو او نه‌په کیمپو .نو کی‌جر گه‌کیدی او کینا ستی شوو...

ماشوما ن او بو ډاکا ن‌دضروری‌خورا ك دنشتوا لی او کموا لی په علت په‌ډول ډول نارو غیو اختـــه‌شوی وو او چی چا مقاو مت نه‌شو کولی نو د هغه جنازه به زر دقبرستان خوا ته وړل کیده.پاکستا نی پولیسو زمونږ دپاره دعزرا ئیـل‌حیثیت در لود . هغوی دظلم ا و ستم مجسمی وی او هر افغا ن مهاجرور ته یو بندی او پــــه با مشقته بند محکو م ښکار یدو .هغوی په‌کیمپو نو کی هم دافغا ن مها جرینو دیو ځای کیدو او جمع کیدونه ویریدل ځکه خو یی شپه‌او ورځ څارنه کوله چی نارینه مهـــا جرین جرگه نه‌شی .

شپه به ماپه چر تو نواوکلیمی په‌ژړاسباکوله ، دشپی په تیاره‌کی به‌راته کیمپو نه ، قبرو نـــــه‌ښکاریدل دغو قبرو نو ته‌به‌د هری خوا جناز ی رارواني وی.

یوه شپه چی په خپلو همیشنیوچر تونو کی ډوب وم، نا څاپـــه شور ماشور شو او دری څلـــور کیمپو نه اخوا چیغی،او آوا زو نــه

واوریدل شول ، ټول دکیمپونو مخې ته ووتلو اودپیښې په سودا اوفکر کې شوو . دلیرې نه مو یودبل نه تپوسونه وکړل او ښه شیبه لاتیره نه وه چې څلور تنه پولیس او یوافسر زمونږ کیمپ ته راننوتل او زه یې ونیولم کلیمې او هلکا نوواو لورمې چیغې کړې اودپولیسو مخه یې و نیوله .ګاونډ یا ن هم راوو تل خو پولیسو په ډیرې بې رحمې کلیمه او ماشوما ن په لغته ووهل او زه یې له کیمپ نه بوتلم، دپولیسو په موټر کې مې څلو رتنه نور مهاجر ین هم و لیدل اومونږ ټول برابر دپیښور سنټر جیل ته بوتلې شوو ...

دکیمپ نه دوړ لو په و خت کې ماډ یر کلک مقاو مت و کړ و اود پولیسو سره تلو ته په هیڅ و جه حاضر نه شوم خو هغوی پنځه تنه وو او زه یوازې نو په ډیرې بې رحمې یې وو هلم او حتی یو پو لیس چې غالبا هغه پو لیس افسر و په سینه ډیر سخت زخمې کړ م اود همد غه و هلو په و خت کې کلیمه او مر جانه په ژړا شوې اود پولیس ګریوان ته یې لاس وا چاوه او پولیسو هغوی په ځمکه وغور ځو لې .

دپیښور په سنټرل جیل کې زه دهغې شپې له پیښې اودپاکستا نې صو بیدار دقتل نه خبرشوم.

په هغه شپه یو پاکستا نې صو بیدار په ناوړه نیت او خاینانه فکر یو مهاجر کیمپ ته ور غلی او په کیمپ کې یې چا ته لاس اچولی و چې دکیمپ او سیدو نکو هغه وژلی و اود همغه قتل په الزام زه او څلور تنه نور نیولی شوي وو . زمو ږ نومونه چا پو لیسو ته ور کړې وو.

پدې باره کې ډېر ورو سته مونږ معلو مات لا س ته راوړو.

په زندا ن کې ماد تحقیق پـــه دوران کې دپاکستا نی صو بیدا ر دقتل نه انکار کولو تحقیق کوونکوزه په زور او جبر او وهلو ټکو لو مجبور ولم چې باید په هغه قتل اعتراف وکړم...

تحقیق کوو نکو ته ما قرآ ن شفیع کړو چې ماپرېږ دی ځکه چې بندځه اوما شوما ن مې بیکسه پاتې دی.هغوی به تباه شی ، ما هغوی ته سو گندیاد کړ چې زه دقتل په پیښه کې دخیل نه یم او حتی ستا سـود پولیس صو بیدار دوژل کیدو نـــه هیڅ خبر نه یم خو هغوی زما خبرو ته غوږ نه اینښودو .

دری شپې او دری ور ځې هغوی زما نه تحقیق وکړ ، ډول ډول شکنجې او عذابو نه یې راکړل خو ز مـــا انکار هیڅ فایده و نه کړه او چـــې اعصاب مې دلا سه ورکړل نو یوه شپه چې غالبا دریمه شپه وه دتحقیق کوو نکو په مخ مې توکړ ل او په داسې حال کې چې دقهر نه لړزیدم هغو ته مې وویل:

ـ دلته ، ستا سو په دی ملك او ستاسو په نظام کې دانسا نیت جناز ه وتلې ده ، ستا سو انسانی احساس مړ شو یدی ، ستاسووینه زهر شو یده ،تاسو زمونږ مهاجرینو په عزت لوبې کوئ ، زمو نـــږ سپکاوی کوئ بې اجاز ی دهغوی کیمپو نو ته ور ننوزئ اوغیر تی مهاجرین دخپل نا مو س او خپل عزت نه په دفاع کې، په هیڅا ر حم نه کوی او ستاسو صو بیدار هم...

په دیو تخت کی می‌ناځا په په‌خوله لاس کیښودی شو او یوه‌نری خندا می دشاله خواواوریدله ، په‌داسی حال کی‌چی شاته کش کیدلم دلخندا خاوند ته می‌و کتل اودکتلوسره می‌وجود ولړزید ...

هغه‌څوك چی مالیدلی و ، ز ما دپارم پیژندل شوی څهره‌وه ، هغه هغه څوك‌و چی مرجانه یی زما نه‌غوښتی‌و ه او ماور ته د رد ځواب ورکړی‌و . داکار ، یووار نه دو ه وار ځی نه‌بلکې دری واری شـو ی و. هغه زمونږ نه دری ځلـــــــورکیمپونه لیر ی او سیدو اوداخلاق نه‌یی تول‌شاکیا ن‌وو په همد غـه‌وجه ماد هغه غو ښتنه ردکړی وه او هغه هم اخطار راکړی‌و چی‌خپل بدل به‌زمانه واخلی .

نور هر څه ماته روښا نه شو ی‌وو او په‌ټو لو خبرو پوه شوی‌وم...

ماپه خپل عمر کی هغسی سخته‌شپه نه‌وه کتلی، زما سره‌په‌وینه شریك زما خوله‌بنده کړی‌وه اوزمادد‌ښمن سره یی‌لاره یوه کړی‌وه ، هغو ته یی‌غتې پیسی‌ور کړ ی‌وی‌او زمانوم یی په‌لاس ورکړی‌و .

هغه شپه دزندا ن په تیاره‌کوټه‌کی ما ډیری او ښنکې تو ی کړ ی اود خپل تور سر نو ښت په با ب‌الدیښمن شوم . خپلی ښځی ا و بچو ته سوداه‌ړی وم ،درا‌تلو نکی‌په‌باره کی می فکر نه‌شوکو لی او نه‌شوم پو هیدی چی‌آینده به څـه کیږی ...

اکثر په‌زندا ن کی دګاو نډ ی‌کوټونه دچیغو او فریادو نوآوازونه اوریدل‌کید ل . په دغه ز ندا نکی‌شکنجی او عذابو نه یوه معمو لی خبره‌وه . پو لیس اودژ نــد ا ن‌ما مورین جلا دان‌وو. په‌سینه‌کی‌یی دوسپنی جوړ زړونه پراته وو . د انسان او انسا نیت بوی یی پـه

وجود کی نه‌لیدل کیدم. هغه څه چی مونږ او ریدلی‌وو او هغه څه چی اوس مو په‌سترګو لیدل یودبل نه‌ډیر .لیری‌وو .دنورو ملګرو په باره کی راسره هیڅ معلو ما ت‌نه‌ووخوډو مره پوهیدم چی هغوئ هم دعذاب او شکنجو لاندی‌دی.

پښور سټ کی دافغا نی مهاجرینو کیمپونه مانه ووشمیر لی څو د ځنلو پنځه‌و پښتو نه‌زیات‌وو . د اوړ ی سوړ لمر اود ژمی سوړ باد او یخه هوا دواړه دمها جر ینو د پاره دزغملو او تحمل کولو وړنه وو، کیمپو نه یوبل ته ډیر نږ دی لګول شوی اودناپاکیو ډیرانو نه په‌کی جوړ شوی‌وو.

په هغو کی دانسان دژ و نــد تصور هم مشکل و او انسانیت‌ورــ نه‌شرمیدلو، دهری ګور تی عزت ته‌خطره وه اود هرافغان غیر ت،د شرم په ځولو کی ډوبیدلو .انسسانا ن په‌کی خوزیدل راخوزیدل څو د انسا نیت جنازه‌په‌کی‌و تلی وه .انسانیت په‌کی دپاکستا نی‌پولیسو په‌لاس‌وژلی شوی‌و . دپاکی هسوابوی په‌کی دماغ ته‌نه‌رسیدو ،تابه ویل هوا هم بی ځانه او مړه شو ی ده اود مرګ بوی ور کوی .

دری کاله پس ، زه دجیل نــه‌خوشی شو م ، دیو سر سام ا و لیو نی پشان می ځان‌ور سټ‌کیمپ ته‌ور ساوه څو دمعلوماتو نـــه ورو سته خبرشوم چی زما ښځه‌اوماشومان له‌کیمپ نه‌و یستلی‌شوی دی، چیرته‌تللي هیچاځه ونه ویل، په دی نیت چی هغوی به خپــل هیواد ته‌تللي وی ، دپردی ملك‌نه‌راوو تلم او په خوار ی او کړاو می ځان وطن ته راور ساوه ، هغه‌وطن ته‌چی مونږ ورسره جفاکړی وه او هغه مو پریښی‌وو .

وطن ته د راروانیدو نه مخکــــی ما په گچه گړی، نا صر با غ او نورو ځایو نو کی هم دافغانی مهاجرو کیمپونه‌و کتل اود خپلی ښځی او ماشوما نو پوښتنه می‌و کړه خو هیڅیر ی می‌ونه موندل ،ځینو خلکو وویل‌چی‌حکو مت ځینی مها جر ین‌دپنجاب میانوا لی ته‌بیو لی اوهلته یی‌ایسار کړ یدی ، هلته هم‌لاړم خودخپلو ور کوشوو اولا پته شوومړی ژوندی می لاس ته رانه‌وړ ...

یو کال سر گردانه‌و گرزید م لیکن نتیجه می لاس ته‌رانغله هر افغان مها جر راسره وژړل او غم‌شر یکی یی راسره وکړه خو زماد زړه ټپو نه درغیدو نه وو او نن‌چی‌په خپل‌و طن کی‌یم دهمغه‌کیمپو نو په‌باب فکرکوم ،د هغو کیمپو نوپه‌باب ، دکو مونه چی دانسا نیت جنازه‌وتلی‌وه او په هوا او فضاکی‌یی دمرگ‌بدبوی خپوروااوسیدو- نکی‌یی وطن ته دراستنیدو اوپه‌خپل کور ، کلی او ښار کی دامن او سو لی په انتظار ناست دی ...

پای

شمايله

75

26

يوتنند او سخت باد ، په ډير ی بی‌رحمی دسنځلی ابی کمزورو او کم‌نوره سترگو ته خاور ی او شگی‌شیندلی اود هغی سور پړو نی یی په هواکولو...

دسنځلی آبی سپینی کو خی ،دپړو نی دلاندی نه یوه خوا بله‌خوا کیدلی او کله‌کله به دباد سیلی‌دهغی‌زړی بوډ ی تور کمیس هم تاو را تاو او ښکته پورته‌کړو اودطو فا ن په‌فریادو نو کی‌به دسنځلی آ بی واړه واړ ه زگیرو ی هم‌ورك شول.

هغه ډیره چټکه او چو سته‌روانه‌وه اودغره لمنی ته‌یی ځــــا ن رسولو ...

سنځلی آبی زړی او بی‌رنگـــه‌ځپلی په پښو کړی شوی ، دتلوپه وخت کی‌یی دنارینه پښا ن غښتلی‌او قوی لاسو نه وړاندی ورو سته خوځول او او چت او چت‌گا مو نه‌بی اخیستل ...

دلرې لیری فاصلی نه ، دیوغره په‌لمن کی له‌ورایه یو تازه او نو ی جوړ شوی قبر ښکاریدو چی شاوخوا یی‌شنی‌و نی ولاړی‌وی ...

دقبر چپې ډېرې تېزۍ دي پورپوکي کلي ښکاريدو چې مخې ته يې شنه شنه پټي پراته وو، په پټو کــــې دوه دريو غواګانو اودوه دريو پسو نوښې کولو، او دبادسختوالي د پټيو په سر دبل هر ځای نه ښه احساس کېدو.

سنځلې آبې دډېرې ستړې يــــابسره سره ،ځان نوي جوړ شوي قبر ته ور ورسولو اود رسيدو سره دقبر په څنګ کې و غورځيده، لاسونه يې په قبر کيښودل او ورو ورو يې په ژړا شروع وکړه ...

په ژړا ژړا کې سنځلې آ بـــې خبرې کو لې خود هغه خبرې به کله کله په ستونې کې و چې شوي اوحتى قبر به هم وانه وريدې ...

دآسمان په څنډو، دډېرې لمر رنځورو څېره ښکاريده له اوپه څوا وشاو نو کې دمر غيو آوازو نــــه او ريدل کيدل مرغيو دا سې شور کولو لکه کومه لو يه جګړه چې ورکې پيداشوي وي او په هغه جګړه کې نوروري مرغې دکمزور ونه ښکــــې وباسي او په مښو کو او پنجو يې دتن غوښې بيلو ي...

دلږ څنډه نه ورو ستـه،سنځله آبې ورو ورو را او چته شوه او دقبر مخا مخ داسې کيناسته لکه سړ ي چې مسجدې نه ورو ستـه په مصله ناست وي

تول مخ يې په خاورو او او ښکو ککړ شوي و، او په سپين مخ کې يې توري شما ني کو ښې جوړې شوي وې ... دکيناستو سره سنځلې آبې ستر ګې او مخ دواړه په پړو نې پاك کړل او وې ويل :

— شمایلې لور !نن به مو نـږ جر ګت کوو، کله به کوو او بيابه ستا قبر له تشم راتلې نوره بـه ستاد قبر خاوره نه شم بوی لی، هيڅوك به نه بوي چې ستاد قبـــــر څبر وا خلي او كه خرا ب شي جوړ يې كړي څكه چې تول ...

دسنځلي آبي ستو نې ژړاو نیواو په‌سترگو کې‌یې داو ښکوډنهونه جوړ شول ... تندی یې په قبـــر کیښود اودزړه په آواز یـــی وویل:

ــ شمایلې بچې !مونږ یـــی‌مجبور کړی یو چې‌لاړ شو ، د ی خاوری او ستاقبرته شا کړو ... هغه‌ځای ته‌لاړ شو چې نه یی‌دخلکو په خبرو پو هیږو او نه هغو ی زموږ په خبرو پو هیږ ی هلته چې زمونږ دپاره خیمې و درو ل شوی‌او ...

سنځلي‌آبي سر راپور ته کړواو شاو خوایی‌و کتل ... څو قد مه وړاندې دوه کسه چې‌تربوزو نه‌یې‌ترلي وو او ټوپك یې غاړ ی کې‌پراته وو قبر ته‌رانژدې کیدل ... سنځله‌آبي ښه‌بیداره کیناسته او په ځیر یې هغو دوو کسانو ته‌و کتل اوچې‌هغوی څو مره رانژ دې کیدل ، د سنځلي‌آبي تندی گونځې کیده ا وسترگی‌یې تنگیدلې ... دسنځلي‌آبي رنگ‌دقهر او غوسې‌دلاسه سوربخن‌شوی‌و لیکن په څهره کې یې بیاهم دغم اودرد، کړاو او مصیبت نښې‌صفاښکاریدلې ...

دوه تنه و سله وال کسان ورووړو قبر ته‌رانژ دې شو ل‌او په دې وخت کې سنځلي آبي ، هغه ښه‌پیژند لې وو ... زبر دست خان‌او نو کریې خیالي ... د قبر څنگ‌ته‌دړارسیدو سره سم زبر دســت سنځلي‌آبي ته‌وویل :

ــآبي ... !مړی بیر ته نه را ژو ندی کیږ ی . او ژوندی‌باید عقل او هو ش و لری ... مو نږ ویلي وو چې ددې ځای نه تهٔ لی کډی بایدسهار و ختې حر کـــت‌وکړی او لاړی شې خو داد ی‌ورځ تیره شوه لاکن ...

سنځلي‌آبي ، زبر دست خان ته‌وکتل او په‌ځواب کې‌یې وویل:
ــمو نږ نن شپه ...

زبر دست خان پەزوره خنداوکړەاو په خندا خندا کی‌یی وویل:

ـ ښه هو ښیار خلك یی ... هو ... دشپی سفر ډیر ښەوی او بیا خو سر حد هم دو مره لر ی‌نەدی... سبا سهار ، سهار مهال به کچه گړی تەورسیږ ی...

ددی خبری نەورو سته،ز بر دست‌خان دخپ ل‌نو کر سره په مخەروان شو او سنځله آبی یوازی پاتی‌شوەاو قبر تەپه لیدو لیدو یی زړ ی خاطر ی پەذهن کی را ژ و نـــدی‌شوی.

* * *

شمایله په ښایسته جا مو کی،خو شحاله او خندانه مکتب تەروانه ده، په ځنگ کی‌یی دوه در ی‌نجونی‌نوری هم روانی دی او ټو لـــی خوشحاله دی ، په مکتب کی نن‌محفل جوړیږ ی او ننداره ښوو له کیږ ی. پرون معلم صا حب ټو لوتەخبر ورکړی‌و او په همدی مناسبت شمایلی دنورو ور ځو په نسبـت نن ښی‌جا می اغوستی وی ...

وخت راور سید ،ټو لـــی‌شاگردانی چی‌شمیر یی څو سوو تنو تەرسیدو ،چوپ او آرا می پەڅوکیو ناستی وی او مخا مخ‌ستهیج تەیی کتل ،دننداری لو مړی صحنەوه ... دری تنه ځوانا ن او در ی پیغلی دوطن دمور پښو تەناست‌وو،مطلقه خا مو شی‌و ه، هیڅا غږغوږ نەکولو، دو طن دمور په تندی اوکوسیو کی‌گلان ایښودی شوی وو او پښو ته یی هم گلان پراتەوو...ځوانانو او پیغلو پەشر یکه د غه سندره شروع کړه چی:

| | |
|---|---|
| ته مو مور او ته مو تن یی | ته مو گور ته مو کفن یـــی |
| ته مو پت ته موشر فـیـــی | ته مونوم ته مو عز ت یـــی |
| تەشمله مو دپلرو یـــــی | هدیره مو دنیکو یـــی |
| ته نا موس دهر افغا ن یـــی | ته مو ځان هم موایمان یـی |

تانه ځار زمو نږ هستيشــه هم موږو ند هم مو مستيشه
ای وطنه دافغان همیش او سی په جها ن

شمایلی په ډیر دقت د غــــــه آوازونه او ریدل او په سترګو کې یې رنې رنې او بنکی راپیداشوی وی .دهغی غوږو و دغه الفاظ او کلمـات اوریدل لیکن خپله په فکر او سو چ کی ډوبه وه ... هغه پو هیدله چی نن یاسبا دهغوی کلي له د ی ځایه روانیږ ی او بل و طن ته ځی ... دا خبری یی دپلار او مور د خو لې نه او ریدلی وی ...

شمایلی نوره ننداره و نه کتله اوپوهه نه شوه چی کله او څنګـه ننداره ختمه شوه . دشما ګردا نوشور ځوږ اود دو سڼا نوآوازو نو هغه راوبینه کړه ...

شمایله کورته دراستنید و پــه وخت مخکینی شمایله نه و ه ،هغه شمایله چی په خندا خوشحا لـــی راغلی وه ، او س یی یو درو ندغم په زړه کی احساس کولو ، دیو نا ـ آشنا درد سوز یی په سینه کی لیدلو او په همدی احساس کورته را ـ ورسیده ...

سنځلی آبی دشما یلی په لیدلو داسی محسو س کړل چی په هغی څه شو یدی ... دتورو ستر ګو په کسو کی یی دیو ی نو ی پیښـــی غبار کتلو نو په تشو یش یی لورنه تپوس وکړ:
ـ شمایلی بچی ... نارو غه خو نه یی ...؟؟

شمایلی تش دنفی په علا مه خپل سرو ښورولو او بس ...
سنځلی آبی لاس دشما یلی په سر کیښود او پوښتنه یی وکړه...
ـ بچی شمایلی ... څه خبره ده ...ولی غمجنه یی ...

شمایلی،مورته وکتل او په ګرا ریی دمورنه و پوښتل:
ـ مو ری !... تاسو کــــــو ی کوچ ... ؟؟
موریی په ځواب کی وویل :

ــ هو لور ی کهلاړ نه شو نــووژل کیږو ...
ــ ځوك مووژنی موږ ی او و لــی مووژنی ...؟
سنځلی آبی لاس دشمایلــی په خو لهکیښود او ویی ویل:
ــ چوپ شه ... دا خبری مهکوه.. ځوك خبر نهشی که نهو ...
شمایلی وویل :

ــ موږی دلته خو ځوك نشته کنه ولی ویریږی . معلم صاحب وایی وطن دهر چا نا موس او پلار او موږ دی کنه ...

سنځله آبی چټکه بلی کو ټی تهلاړه او شمایله یوازی پاتی شوه. هغی پهلوړ آواز دځان سرهدننداری دسندر ی یودوه مصر ی تکرا ر کړی اوداسی زمز مه یی وکړه:

ته نا موس دهر افغان یی — ته مو ځان هم مو ایمان یی
ای وطنه دافغان — همیشه او سی پهجها ن

دشمایلی دغه آواز اوز مز مه سنځلیآ بی واوریده اود لور خواته یی رامنډه کړه هغهیی کلکه پهغیږ کی ونیوه له اوداو ښکو تو یولو سره یی خوواړ ی ښکل کړه...

او ورته ویی ویل:

ــ شمایلی بچی چیپلار دیراغی نودابه ور تهوایو چی مو نږ دد ی ځایه نه ځو او هیڅوك مو نه شیبیولی ... تهبه هم ور ته ژاړ ی او وایی به چی پلاره مو نږ کډه نهکوو .... داو طن زمونږ وطن دی...

دشپی چی دشمایلی پلار را غی نوموږ او لور دواړو ور ته خپله فیصله وویله او چی سنبا شو نوزبردست خا ن تهیی خبر ورکړچی دوی کډه نهکوی او همدلته پا تی کیږی...

دکور نی یعنی موږ او پلار ددیفیصلی نه شمایله بی حدهزیا ته خوشحاله شوه او په ډیرهسادهګییی مو ضو ع خپلو دصنف ملګر و

ته وویله چې ما مور او پلار پر ی نه ښودل چې بله خوالار شی ...
بس اوس به د امتحان دپاره تیاری کوو ...

دغه خبر زبر دست خا ن تــــه ورسید چې شمایلې خپل امور او پلار دبهر ته تللو نه پښیمانه کړ یدی او په ژړایې دپلار اراده بدله کـــړی ده.

دزبردست په سینه کی دکینې او انتقام اور بل شو اود قهر ا و غضب یو توفان یې په وجود ورګډ شو هغه هیڅکله داسی ګما ن نه شو کولی چې څوك دی د هغه دامر نه سر وغړوی او یادی ګنی هغه قبول نه کړی اودغه سر غړو نه ور ته ډیره عجیبه ښکاره شوه ...

څوور څې تیری شوی اوشمایله هغه شان ښوو نځی ته تلله ...نور هر څه دسنخلی آبی اود هغه دمیره او لورشمایلې له یاده وتلی وو .خو دزبر دست خا ن هر څه په یادوو او هغه شا ن دقهر په خو لو کـــی ووبــو... هیڅو ك نه شوپو هیدلی چې هغه په کوم خیال او فکر کی دی حتی دکورنه هم ډیر لږ راو تلو ،دهغلا فعالیت ډیر ټیټ و او هیڅ ا ته یی بیلګه په لاس نه ور کوله ...

دهغه و خت نه شپی ور څی ډیری تیری شوی ، دشما یلې دامتحا ن وخت رانژ دی کیدو ، دبلی خوا دهغه پلار هم دننه په ډړه کی دزبر - دست خان نه په ویره کی و . هره شپه به تر ناو خته ویښ پا تی و او چرتونه به یی و هل ... خپلـــه وسله به یی دخان سره سا تله او دروازو ته به یی هم غږ قلــــف اچولو... یوه ور ځ ماسپښیــــن، چې سنخلی آ بی ډوډ ی تیارو له، دکورنه بهر یی دخلکو آوزو نه تر غوږ شول . داسی فکر یی وکړ چې ګنی خلك دجمعی دمانځه نه راو تلی دی خو شیبه لاتیرم نه وه، چې دانګړ دروازه ایله شوه او خلك کور ته

راننوتل ، سنځله آبی ور خطا لـه ځایه پاځیده او سر یی انګړ ته ښکاره کړو. دانګړ په مینځ کی دشمایلی جنازه پر ته وه او خلك ور نه ګرد چاپیر ولاړوو.

هو !شمایله وژلی شوی وه اود کورنه بهر دیتیو په مینځ کی و ر باندی چاپېر کړی‌و هیڅوك پوه نه‌شول چی‌قاتل څوك‌و خو سنځله‌آبی اودشمایلی پلار په هر څه پوهیدل‌اود شمایلی قاتل یی ښـــــه پیژ ندلو ...

شمایله خاورو ته و سپـــار ل‌شوه او زبر دست خان هم‌د هغی په‌فاتحه کی‌کیناست اودشمایلـــی‌پلارته یی دزړه تسلی ورکړه اوخو ور ځی بیاد هغو ی نه تقا ضاوشوه‌چی‌کلی خو شی‌کړی او لاړ شی کچه ګړی ته‌یعنی هغه ځای ته چی‌ددوی دپاره خیـمی ودرول شوی دی...

څوورځی نوری هم تیری شو ی‌او په یو زیړی ماز دیګر کی سنځله آبی دشمایلی قبرته لاړه او هلته‌یی‌زبر دست خان و کوت ... سنځلی آبی دا اطمینا ن ور کړو چی‌دشپی‌به‌حر کت کوی ...

سنځلی آبی دقبر دننه پر تـــی‌شمایلی سره خبری کو لی او د زړه راز یی ور ته‌ویلو...

سنځلی آ بی شمایلی ته سو ګندیادکړو چی دخپلی بچی دقاتل نه به بدل اخلی او نوره بی غیر تی‌به نه‌کوی ...

دشمایلی پلارو سله د ځان‌سره‌ساتله او سنځلی آبی ته یی‌اطمینان ورکړی‌و چی دانتقام جذبه یــــی‌سړیدو نکی نده ...

هغوی فکرکولو چی دی بی‌ننګی ته‌به کله هم زړه ښه‌نه‌کړ ی چی‌په دی کلی کی پراته قبرو نه ا و دشمایلی قبرترك کړی او پردی ملك

نه‌کېږه وکړي. هغه ملك ته چې‌ملت‌ته یې دشرف او عزت ، ننګ او پت درناوی نه‌کېږي ، نه دغسې کارګله ددوی پلرو نو او نیکو نو هم ندي کړي اودوطن سره یې‌هیڅکله جفا نه ده‌کړي ... خو دوی‌غو لیدلي او ویری اخیستي‌وو .

دبې‌و طنی درد ، دسر طا ن د دردونه هم بدتر دی ... دسر طا ن درد او مرګ ، دبې عزتی مرګ‌نه‌وی لیکن دبې‌و طنی مر ګ دعزت مرګ نه شي کیدی ...

هغه‌شپه سنځلی ابی اودشمایلی‌پلار پو هیدل چې زبر دست خان د معلو مات دپاره بیا ځان رانبکاره‌کوی او ګوری چې دوی کېږه کو ل غواړ ي او که‌نه ... ددی اطمینان‌سره دشمایلی پلار خپله و سلــه تیاره کړی‌وه اود لاری څار نه یې‌کوله ...

دلیری نه دشپی په تیاره کې دزبردست او نو کر دپښو ښکا لو واو ریدل‌شوه.هغوی دواړه‌دشمایلی‌دکور خواته راروان‌وو او چــې د دروازی خولی‌ته راور سید ل نودشمایلی پلار خو ګولی په هغو ی وز خو شي کړي وی ...

دګولیو د خو شي کولو په‌وخت کې هغه‌په لوړ آواز وویل:
شمایلی بچې ... ! دادی او س‌دقاتل نهر سوری سوری کوم ،نه ګوره لوری چې پلار او مور دی دو مره بې غیر ته نه‌وو ...
دډزو آواز د شپې په تیاری کې‌انګزه شو ... لیکن هیڅچا د هغو پروا ونه‌کړه ځکه چې دغسې‌آوازونه‌هره شپه هغوی او ریدلي وو ...
سبا سنځلی ابی اود شما یلی‌پلارته کلی کور بل ر نګه‌ښکاریدل آسمان بدل او ځمکه‌بدله‌ښکاریده.

سهار و ختې دواړه دشمایلی‌قبر ته‌لاړل او پلار یې داو ښکو نه په

دکو سترگو يې دشمايلې قبر تـــه خطاب وکړو او ويې ويل:
ـشمايلې ...! تازمو نن مړ ژواندې احساس اودوطن پرستې
مړه جذبه راژو ندې کړه ... اوس بهزمو نن قبرو نه هم ستا دقبرپه
ښنګکې و ي ... ژوند به موهمدلې وي او مرګ به مو هم ... داو طن
زمورږوطن دی اود دوارو دسترګو نهخوشاخکې او ښکې لا ندې راتو ی
شوی ...

ه‌ای

# ماہ جبین

'87

88

دآسمان لمنی سری وی، یوه شیبه مخکی زورور باران اوریدلی او یخ یخ شمال لگیدو. زه په شنو پټیو کی دخپلی خری اودوه پسو نو پسی روان وم شاو خوا د غرو نولړی وی او دغه احتمال موجود و چی بیا باران په شیبو شیبو پیل شی نو ځکه خوزه په ډیر تلوار د کور خوا ته روان وم او خره می مخی ته ټیل وهله ...

هره چهار شنبه به دکلی خلک چی زیاتی پکی پیغلی او بوډ ی ښځی وی، زیارت ته راتلل او نغری به یی تودول.

دلیری لیری نه به زلمو چکروهلو لیکن زیارت ته به نه رانژدی کیدل ځکه چی په ښځو ورګډ یدل ور ته شرم ښکاریدل.

په هغه ورځ، ماهو له ورځ په پټی کی تیره کړی وه، خره او پسونه په باران کی ښه لا نـــــده شوی وو. دبارا ن په ورځ هیڅوك زیارت ته نه راتلل ځکه چی دسرپناه کولو ځای نه و او په باران کی میله نا ممکنه وه. په میلو کی خلـــك همیش نوی او پاکی جامی اغوندی او هیڅوك نه غواړ ی چی هغه په باران کی خراب شی ...

دباران دویری نه ما ډیر تلوار کولو چی بیا می چیر ته په لار کی را ایسار نه کړی. په څو شیبو کی می ځان زیارت ته ورسولو، دزیار ت په خوا کی یوه نری لار زمو نږ د کور خوا ته تللی وه او پدی لار به

زه هره‌ور ځ او حتی دور ځی ځوځو واری تیر یدم راتیر یدم ،د زیار ت په څنګ کی لو مړی کور یاکلا د( پاچا صا حب) وه، هغه زمونږ دکلی یوبار سو خه سړی و، هر کال به‌ور ته خروار دو ه خرواره جوار، غنم ، اور بشی اونوره غله دانه ور کړ کیده او بی تکلیفه ژوند یی در لود .دهوده ی‌او جا می پسی سر ګردانه او لا-لهها نده نه‌و او کوریی هم خپل‌و خوموږ. یعنی‌ز ه او زما کور نی د بل کره همسایه پراته‌وو او خپله سر پناه مو نه در لوده . دبل په څمکه کی‌می کار کولو او بال بچ‌ته می هوده ی پیداکوله ...

بی‌فکره روان وم ، هره شیبه می خری ته دیکه‌ور کوله چی چټکه شی . زیارت ته په‌رسیدو نا څاپه پښه‌نیولی‌شوم ... ددیر نژ د ی‌نه می دژړا آواز اوریدلی و. آواز ډیرکرار او خا موش و. سو دا ر ا-ولویده چی دغه آواز دچادی‌او څوک ژاړی...

دزیارت نه راتاو دیوالونه ډ یرټیټ‌وو ، په‌آسانی سړ ی زیار ت لیدلی شو. په هغو بارانی شیبو کی‌چاکور پر یښی او زیارت ته‌را غلی و. زه ودریدم او خره او پسو نه رانه مخکی لاړل... ورو دزیار ت دیوال ته‌ور نژ دی شوم ، دقبـــر څنګته ډه ی یعنی پښو ته یــــوه (زنانه) ناسته وه. لاسو نه یی په‌قبر ایښی‌وو او ژړل یی .دسو ر الوا ن پړو نی‌یی په‌سر او تـــور کمیس یی دسپینی (پاچا می) سره په‌تن کی‌وو ...

په همدی شیبو کی چی مادژړا خاو ند ته کتل اود هغه په‌باره‌کی می سو چ کولو باران دسخت با دسره یو ځای شروع شو. خوزما دپاره دحیرانتیاخبره داو ه چی قبر ته‌ناسته (زنانه) هیڅ له‌ځا یه و نه ښوریده او هغه شان یی ژړل اوپه‌ژړا ژړا کی یی ویل:

(غازی مردبابا) قربان دی شم ، نذربه دی درکړم ، ته زر نو ش په خیر سره راو لی ، په خپل کوریی کړی او زما سر په کلی کی او په خلکو کی او چت کړ ی بابا خدا ی پاك ته رو یدارشه او زما مشکل آسان کړه... دزر نو ش دنو م په اوریدو سره ، ما هغه (تور سړ ی) وپیژند له . هغه د ملك لعلی شاه لور ماه جبینه وه ... زه دزرنوش او ماه جبینی په ماجرا خبروم ، هغه دزر نو ش ښځه وه او پلار په بدو کی ور کړی وه ...

دواده نه څو میاشتی پس ، زر نوش لاپته شو او بیاورو ستـــه احوال راغی چی هغه دپیښور ناصر با غ ته بیول شوی او هلته په خیمو کی ژوند کوی .

دبلی خوا دزر نو ش ورور ، هغه په مړو شمیرلی اودما ه جبینی دواده کولو بندو بس یی کړی و . دکلی خلکو دزر نو ش په مړ ینه باور کړی اودماه جبینی په ودو لویی اتفاق کړی و . لیکن ماه جبینی دی وصلت ته په دوه دلیلو غاړه نـــه ایښوده ، یو داچی ماه جبینه امیند واره وه او بل دا چی دزر نو ش په مړینه نه بلکی دهغه په ژوند یی پوره اطمینان در لود .

ماه جبینه ، په رښتیا چی ماه جبینه وه او په ټول کلی کی یی دښایست آوازه خوره وه خو هغه د خپـــل ښایست نه ډیره په عذابه وه ، دناړینه او ښځو ستر گی به د هغه په لور کږی وی . هغه دچا خبره خپـــل ښایست ور پوری اور شوی و دغه وجه وه چی (جمدر) دزر نو ش ورور دهغه په هو س کی سو زیدو او د هغه دنکاح کولو په کوښښ کی و . په اوله کی جمدر دغه خبره نه منله چی گنی رښتیا ماه جبینـــه امیندواره ده اود هغه دوروراما نت یی په نس دی خودوخت په تیر یدو

دغه حقیقت ثابتشو اود کلی ټو لوبندځو دهغه تصدیق وکړو ...

جمدر دماه جبینی په نس کی داولادسره مخالف و ځکه چی د غی اولاد د هغه د خیالونو دنیاورانو له‌جمدر فیصله کړی وه چی ماه‌جبینه به دژوند ملگری کوی اود هغی‌په‌وجود به خپله ورانه‌دنیا آبادوی ، لیکن دغه اولاد، اود ماه جبینی په‌بطن کی دزر نوش امانت دد غی‌آرزو په‌لاره کی لوی خنډو...

جمدر دد غه خنډ دلیری کولو دپاره ډیر فکر و نه‌وکړل اوبالاخره دی نتیجی ته ور سید چی بایددغه‌ماشوم چی دماه جبینی په خیټه‌کی د مکمل کیدو په‌حال کی دی او لږ وخت وروسته ورنه انسان‌جوړیږی دمینځه یووړل شی .

جمدر په دغه‌فیصله ټینگ‌و لاړو اود خپل دغه کار دپاره یی پلان او منصو به جوړوله ، پدی باره‌کی‌یی دخپلو ملگرو اودو ستا نـــو سره مشور ی و کړی او لا ری یی‌ولټولی، دزیات فکر او سنجش نه وروسته یی‌لار هم وموندله ...

ماه جبینه که‌څه هم د ملك لوروه‌خودواده کیدلونه پس یی ، ژو ند ډیر غریبانه او خوارواومخصو صا دمیړه‌د لادرکه کیدونه ورو سته‌خو مجبوره شوه چی منگی په‌سردچینی نه اوبه‌راوړ ی او نری ملایی‌د منگو لاندی کړوپه شی . جمدر، دخپـل ژرنده گړی لور ( دلبرو) ته غټی پیسی‌ور کړی چی داو بو راو ړ لوپه‌وخت ظا هراپه غلطی ســـره ماه جبینه لاندی وغور ځوی او بیا واویلاجوړه کړی چی څوك ور باندی پوهه نه‌شی ...

(دلبرو) دپیسو ا خیستو نـــه‌وروسته ، کیسه خپل پلار ته تیره کړه او پلار یی دهغه سره مخالفت‌وکړو او ویی ویل:

ــ دلبرو بچی ! مو نږ غږ يبا ن يو، ليکن قاتلان نه يو، زو نو ش اودماه جبيني پلار دواړو ما سره ډير احسانو نه کړ يدی ، ډ يـــر کومکونه يی راسره کړ ی او ته خوونږه د ملك صا حب په کور کی لویه شوی یی. زه دزر نوش دپلار سره ژرنده گړی شوم او دا دو مره کلونه می په شرا فت ژوند کړيد ی اوس رانه جمدر قاتلا ن هـــم جوړوی ... دپلار د خبرو ســره (دلبرو) هغه پيسی ، بيرته جمدر ته ور کړی او حقيقت يی په خپله ماه جبينی ته هم بيان کړ.

جمدر د خپل پلان دناکا می زمه ـ واره، دلبر و وپيژند له او پدی هم پوه شو چی ماه جبينه همدما جرانه خبره شويده نود (دلبرو) دو ژلو تکل يی و کړ و. يوه ور ځ ماز ديگر چی دلبرو دژرندی نه دخپل کور خواته روانه وه ، جمدر د خپل يو ملگـری سره دهغه مخه ونيوله او په زور او جبر يی دبی نا مو سه کولو نه ورو ستة د هغه خوله تر هغـه وخته پوری پټه کړه او ساه يی ور باندی بنده کړه. تو څو يی رو ح له بدن نه والوت .

د کلی خلکو ددلبرو په مر گـک ډول ډول تبصرې وکړ ی ، چاو یل پيريانو وهلی او چاويل ويريد لی او زړه يی چاودلی خودوه کسه د هغه دمر گ په وا قعيت پو هيد ل ا و ددلبرو قاتل يی پيژندلو ، هغه دوه کسه يو د دلبرو پلار او بله ماه جبينه وه ...

هغوی پو هيدل چی جمدر قاتل دی او هغه دلبرو وژلی ده. هغه د ماه جبيني په هو س قتل ته هم زړه ښه کړی او لاسو نه يی ديوی بی گناه په وينو سره کړی وو.

دهغه و خت او ور ځی نه وروسته ماه جبيني دخطر احساس کړ ی و، هغی جمدر ته ديو قاتل په سترگه کتل او د هغه دهر عمل او حر کت

ښارنه‌يې کو له . هغه‌پو هيد له‌چې‌جمدر دهغه اولاد اود خپل ورور زر نو ش امانت نه غواړی بلکی‌دهغه دنابود ی فکرورسره دی اوپه دي کارکي ډير احتمال شته چې‌په‌خپله هم د مينځه لاړه شی ...

دهمدی ماجرا په‌علت اود خپل‌مسافر او مهاجر زر نو ش‌دبير ته راتلو او راستنيدو په نيت اواراده‌زيار ت ته‌راتلله اودوعا يې کو له او نن حتی دبادو بارا ن په سختوخپو کی ، هم دلته ناسته وه او دو عايې کوله ... باران ور خطا کړم‌اود خپلی خری پسی مې منډه کړه، ماه جبينه پاتې شوه اوزيار ت... کورته‌راور سيدم د سکينې مور ته مې آواز وکړ:

-بدر ی ... ! وه بنځی ښه‌شوی ... ؟

بدری ځواب رانه‌کړ او ماته هم‌قهر راغی ، په‌باران کی لو نـــد خيشت شوی‌وم او اوبه را نـــــه‌څڅيدلی ، خره او پسو نه مې‌غوجل ته‌کړل، هلته مې په نسبتاتياره‌کې‌بدری وکتله چې غوا لوشی، ورويې راته ووېل:

- سړ يه ... زيات شور خو مه‌کوه ، غوانن بد خويه شوی او ... خره او پسو نه مې په‌غو جل کې‌په خپل خپل ځای وتړ ل ، وروو وتم او په‌بله‌کو ټه‌کې چې اور بليدو او زمو نږ داو سيدو کوټه وه ، ننوتم ،څادر مې اور ته‌و نيو چې‌وچ‌شی . خو شيبې ورو سته‌بدری کټوه په‌لاس کوټې ته رائنو تلـــه اوهغه يې په اور کيښوده اوخپـــله زما په څنګ ک ی‌کيناسته ،په دقت‌يې ماته‌و کتل او ويې ويل:

- په‌جا مو کې دی بيله هغې ښه‌نه دی پاتې ، او باران خو ، دجا مو دپاره ټاکو دی ... دبدر ی په دی‌خبره زه نور هم غوسه شوم او په غوسه مې هغې ته‌وويل:

ـ کمبختی ...! زما هدو نـــــه‌خو ږیږ ی ته دجا مو غم اخیستی یی ...

بدری څه ونه‌ویل اود چا ی‌پیاله‌یی دنیمی چکی گوړ ی سره را ته مخکی کیښوده .داور دلمبو په رڼاکی دبدری انگی سره ښکاریدل، مالاس‌د هغه په‌ورانه کیښود ا و تپوس می ورنه و کړو :

ـ دسکینی مور ی ... ! په دی‌سخت باد او باران کی ماه جبینه بیاپه زیارت پر ته‌وه اودو عا یی کوله ... بدری چی په‌نغری کی یی داور لمبو ته‌کتل ، زما په ځواب کی‌وویل:

ـد هغی غر یبی دو عا چیر تـــه‌قبلیږ ی ، میړه خو یی ژو ندی‌وروک شو. که‌چیر ته مړوای نو قبر خوبه‌یی معلوم‌و او ماه‌جبینه به هم په ژوند پوهه شوی‌وه چی څه ...

ماد خپلی ښځی خبره غوڅه‌کړ ه‌او پوښتنه می ور نه‌وکړه:

ـ جمدر خو یی په‌طمع نا ست‌دی، دماشوم څه درك یی نه د ی معلوم ؟

ـهغه داو ځت دماشوم په فکـــر‌کی نده .دزر نو ش په‌فکر کی ده زرنو ش احوال رالیږ لی چی د مهاجرو په خیمو کی او سی او د خلاصو ن لار لټوی ... جمدر د ی‌خدای نا بودکړی ، د دلبر و قاتل خو همدی دی ،ټول کلی ور باندی‌خبردی ...

ـ هغه قتل خو یی هم دماه‌جبینی‌دپاره وکړو کنه ...

بدری زما ددی خبری سره مانه‌وکتل‌اوزیاته یی‌کړه:

ـهو !... خو داویره هم شته‌چی‌که ماه جبینه لاس ور نه کړی نـو هغه هم...

ماد خپلی ښځی خبره بیا غوڅه‌کړه او ومی ویل:

ـ لیکن بدر ي ... ماه جبینه خودهغه دوروړ امانت دی کنه او په خیته کی یی دزړ نو ش ما شوم دی. جمدر دو مره ظالم ولی دی ، آخر وروړ خو وروړ وی ... ؟

دسکینی مور ، په‌نغری کــــی لرگی اخوا دیخوا کړل ،لوگو تهوله کوټه نیو لی وه ، دلنډی شیبــــی چوپتیا نه‌ورو سته یی‌وویل :

ـ نن خو وروړ دوروړ ســـره‌جنگیږ ی ، زمونږ په دغه خپل‌کلی کی‌کوم پردی راننو تی ، خو بس‌وروړ، وروړ وژنی او وروړ د وروړ نا موس ته خطره پیښو ی ...

بدری ډیری عجبی خبری کړ ی‌وی، زما فکر یی سیده کړی و او پدی‌وخت کی می دخپیا ل مار غه،دمهاجر پښو په خیمو والوتو ر ا ـ والوتو . خړی خړ ی او ز ړ ی-ورا ستی خیمی او زړ گو نه پښیی-ابله ماشوما ن، تور سر ی ! و بوډاگا ن...

زه خپله هم یو وار هلته و م‌خودیږ زړ ور څخه راووتلم او خپل کور ته‌می ځان راور سولو ...

او ددی فکر سره می زړ نو ش‌رایاد شبو ، د ځوا نی جانی مــــاه- جبینی میړه چی داو ښت دنا صر-باغ په خیمو کی شپی سبا کوی. دهغه دلیدو خبره چانه ده کړ ی،لیکن دژو ندی پاتی کیدو خبری‌یی ډیری کیږ ی او ماه جبینه هــــم‌همدغه خبری حقیقت بو لی او د زړنو ش په امید دشپو او ور ځوحساب کوی ...

هغه فکر کوی چی زړ نو شـــژوندی دی ، ماه جبینی ته دغه‌خبر چا راوړی‌و، په دی څوك نه‌پوهید ل‌لیکن ماه جبینی په دی خبره ایمان پیداکړی‌و، او چی‌جمدر یابل چـــادزړ نوش دمرگ خبره کو له ، ماه جبینی دهغه سره مخا لفـــت‌کولو ...

میاشتی تیری شو لی، دماه‌جبینی نس راپورته شوی و ، جمدر په همدی انتظار کی وچی ماه جبینه‌اولادراوړی او بیایی په‌زور ځا نته نکاح کړی...

دجمدر په باطن کی دهو ســـ کتهوه خوټیده ، شهو ت یی دعقل ستر گی ړندی کړی وی ، هغه‌خپل‌وروړ زر نو ش هیر کړی‌و ، دهغه خیال یی هم په‌ذهن کی‌نه‌و او ټول‌ذهن او فکر یی‌ماه جبینی اود هغه‌د وجودلوړو ژورو نیو لی‌و ...

په‌کلی کی او ضا ع‌ډیره خطر ـ ناکه وه، دژو ند شرایط ډ یـــر سخت‌شوی وو ، دکلی و نو بو ټو دغم او ماتم څادر اغوستی و ، هر چاچی به دکلی د خلکو ســـــره‌همدردی ښکاره کړه سباته‌به یی وینی توی شوی وی ، ویر ، ی او ترهی ، وحشت او دهشت په هر ځای‌و زرو نه‌غوړلی‌و... د مر گ کابوس دهر چا دکور در واز ه ټکو له . چاپه خپله کورو نـــــه پرینبودل او څوك په زور له خپل کورنه ویستل کیده او تیښتی ته‌مجبورولی شول ...

زر نوش ، یوه‌ور ځ کورته‌رانغی‌او بیاور نه څوك خبر نه‌شول چی څه شو ، نه‌یی مړی معلوم شو او نه‌ژو ندی خو ماه جبینی هغه‌ژوندی گڼلو او حتی دبیر ته راتلو پـــه‌ انتظار کی یی‌وه ...

نهه میاشتی پوره شوی اوماه‌ـ جبینی خپل ماشوم وزیږاوه . د ماشوم دزیږ یدو نه ورو ستـــه، ماه جبینه سخته بیماره شوه . په ډیر ګړاو یی خپل ماشوم ته تـــی ورکولی شو ، جوړ په‌یوه کالبوت بدله شوی‌وه ، په‌سترگو کی یی دژوندرڼا ور ځ په‌ور ځ کمیدله ، او پښو یی دبد ن دوز ن بر دا شت نه‌شو کولی ...

جمدر هغه شان په خپل‌شیطانی‌هوس کی پاتی‌و ، هغه‌و یل دماه‌ـ

جبینی په‌تشن کالبوت هم قنا عت‌لری خو دکلی خلکو هغه ملا متولو او بدیی‌ون باندی ویل .

خو واری ماه جبینی نیت‌و کړچی له خپل ماشوم سره دزو نو ش پسمی (نا صر باغ) ته‌لاړه شی خوځان ورته بد بنکاره شو ، په خیمه کی ژوند یی دغلا می ژوندو ګنهلواودوطن نه لیری کیدل ور ته هم نا ممکن وبریښیدل .

دهغه پښتنی غرور یوازی پـــه‌خپل وطن کی‌ژو ندی پاتی کیدی شو او بس ، دغه غرور د هـــر پښتو ن دژو ند تو مله ده . اوچی داته‌وی ژوند بی خونده او بـــی کیفیته وی، بی ارز ښته او حقیر وی، ماه جبینی اوریدلی‌وو چی په‌خیمو کی دغه غرور پـــامال‌دی،د مهاجر نوم دغه غرور سر کوز ی‌کوی ،زخمی کوی اود مینځه یی وړی او چی داته‌وی ژو ند بـــی‌مفهو مه دی.

دغه‌و جه‌وه چی ماه جبینه د زر نو ش نه دلګیر ه‌وه ، خودا یی زړه ته‌نه لویدله چی‌زر نوش به‌ګنی داکار په خپله اراده او خپله خو ښه کړی وی ، هغه خا مخا په‌زور او جبر‌بیول شوی اودنا صر۔ باغ په خیمو کی اچول شو یدی‌ماه جبینی خپل زر نو ش د یرښه پیژندلو ، هغه پو غیر تی او دغرور نه‌ډك انسان‌و خو په دی راز نـــه پوهیدله چی ولی زر نو ش خپل کلی کور اودعز ت کوډ له‌پریښودو اوپل وطن ته لاړ اود خیمو ژو ندیی‌و منلو ... دډیر فکر سره سره، په دی حقیقت نه‌پو هیدله چـــی‌زر نو ش ولی هغه یوازی‌پریښودو اوخپله تری نه‌لاړ ... ماه جبینـــه دمرګ پولوته نژدی‌شوی‌وه، دژوند امیدیی ډیر لږ‌وه،دتو لو زړه پـــه‌ماه جبینه اود هغه په‌وړو کی‌زوی

سو زیدو ، خو یواز ی جمـــدر، هغه شان بی درده اوبی احساسه پاتی‌و او شیطا نی اندیښنی یی په زړه او دما غ کی‌پر تی وی ...

په‌نا صر با غ کی دمها جر ینو خیمی‌ولاړی‌وی اودخیمو دمینځ نه‌د مرګ او پیماری بوی راپورته‌کیده په خیمو دغم او تبا هـــی ګردونه پراته‌وو ، اوما په خپله‌دغه‌غم اودرد او تبا هی له‌نژ دی نـــه لیدلی او احساس کړی وه او په خیمو کی ژو ندی جنازی می هـــم کتلی‌وی ...

داوړ ی په اړ او پشکال کی‌دغه‌خیمی دماشوما نو او بوډا ګانـــو دپاره په قبرونو بدلیدلی او پـــه‌سوو نو او زر ګو نو ماشوما ناو بوډاګان په‌کی مړه ګیدل . زما په‌نظر دنړ ۍ په‌سر دوز خ همد غـــه خیمی وی او هر چاچی په هغوکی‌شپی ور ځی تیری کړی وی ز ما دا خبره‌تصدیق کو لی شی ...

ماه جبینی دناروغی په مرګو نی‌شیبوکی هم دجمدر شیطا نی‌نیت دوک کولو اود هغه‌په باطن کی یی‌دابلیس څهره لیدله ، او چی کله به‌یی ستر ګی په هغه‌و لګیدی نو په‌ډیر نفرت او کر که‌به‌یی ورنه مخ واړولو . خو جمدر هاسی نه‌و او هر وار چی به دماه جبینی سره مخا مخ‌شو نو په‌سترګو به یـــی‌خوړله اود خپل نظر تیره غشی به یی دهغه دو جود په غوښـــــو نو یستل ...

دماه جبینی دماشوم دزیږ ید وشپږ مه میاشت‌وه اوددی ماشو م سره په‌حقیقت کی دماه جبینـــی دژوند نوی مر حله پیل شوی وه، هر څلی چی به ماشوم مو سکـــا کوله نودغم خپلی مور په و جوداو زګو نو کی‌به دژوند نوی یکی تندی‌شوی ماه جبینه ورو ورو بیرتـــه

ماه جبينه شوه اودجمدر په‌ګو ګل کی‌زړه بیقراره شو ... نور یی د زړه مرّ غی دسینی په پنجره کـی نا طاقته شوی‌وه ،خوخو وار ی‌یی دماه جبین سره دنکاح غو ښتنـه‌وکړه خو ماه جبین هغه ردکړ ه او همدایی وویل چی د هغه میـــــړه‌زر نو ش ژوندی دی او په‌ژوندی میړه کی هغه‌بل میړه نه شی‌کولی‌او دایو ناروا کاردی ...

او س په‌کلی کی ټو ل خلـــك خبر وو چی ماه جبینه دجمدرسره ژوند کول نه غواړ ی ، بلکـــــی‌دجمدر نه‌کر که او نفر ت لری‌لیکن ددی‌ټو لو خبروسره ، جمدر،ماه‌جبین خپل حق او مال ګڼلو ، هغه یی دوزور بندځه وه اوا وروریی مړواودژو نه تصدیق یی‌هیڅا نه کولو خو مړینه‌یی هم نه‌وه ثابته ځکه خو خلکو او کلیوالوپه ماه جبینی‌زوراو فشار نه شو راو ستلی ،اواسلام‌خودزور نکاح ناجایزه بللــــــــــی ده...

دډیر فکر نه‌پس ، جمد ر ،یوخطر ناك تصمیم و نیو، د یـــو شیطانی عمل ارادم یی وکړ ه،هغه‌فیصله وکړه چی په‌زور او جبـر، دوزور کو نده خپله کړی ، دماه ـجبین پاکه لمن ناولی‌کړ ی اوپه دی ډول هغه مجبوره کړی چی دده‌سره دواده غوښتنه و منی .

جمدر دخپل شیطا نی عمل د پاره وخت وټاکلو ، نیمه شپه په توره تیاره کی دماه جبین دکو ټی په‌لور روان شو دهغه دعقل‌اوانسانی احسا س ستر ګی ړندی‌وی ، د خپل ننګیا لی ولس داصو لو،رسم او روا ج او دو د دستور نه یـــی مخ اړو لی و...

جمدر دیوو ړی لیوه په شا ندماه جبین کټ ته‌نژ دی شو ، خو ماه جبینه د ډیرو خت نه‌و یښه‌وه‌اود خپل ژو ند دملګری زر نو ش

او خپل ماشوم زوی پەباره کی‌یی‌چرتونه و هل . هغه شپه خو پ نه‌و ور غلی او چی پەتیاره کی یی‌دیو پردی سړی بوی تر سپږ مو شو نو چیغه یی‌کړه او غږ یـــــی‌وکړو:

ــ رانژ دی نه شی سپیه گنـــی‌ږ کوم ...

پەتیاره کی دجمدر آواز پور ته‌شو، دشپهو ت او هو س نه پـــــه لړزیدلی آواز یی دماه جبین پـــــه‌خواب کی وویل :

ــ چیغی مه‌و هه ماه جبینی ، یوه شیبه درسره کینم ...

ماه جبینه له‌کټ نه‌راکوزه شوه، تمانچه‌یی پەلاس کی‌وه ، په جمدر یی‌بیاغږ وکړو:

ــبی ننگه ، دکوټی نه‌و خه که‌نه‌ږ دربانذی کوم ،د خپل وروږ د عزت او شرف دغلا پسی را غلـــی‌یی...

جمدر هغه شان وړاندی لاړ اودماه جبینی دپاره یی غیږ خلا صه کړه...

ماه جبین بیا چیغه کړه:

ــبی غیرته، بی پښتو،دپیر نکی‌بچیه ... ستاپەرگو نو کی دپښتون وینه نشته.

جمدر ، لاس‌واچووچی ماه‌جبینه پەغیږ کی و نیسی ، خو ناڅا په ږز شو اوذږز سره دماه جبین د وږو کی ماشوم چیغه‌پورته شوه...

کوټی انگازی‌وکړ ی او جمدر پـــه‌غلی آواز چی بندبند کیدو وویل:

ــآخ ...ماه... جبینی ... تا خو رښتیاږ ز وکړ ... تا خو ... زه وویشتم ... پەتو له‌کلا کی شو رماشور جوړ شو ، هر چانار ی‌وهلی

!
چې هلکو ټوپک ډک کړي ، در نه خلاص نه‌شي ... کلي ته دښمنان ننوتي ... بېداره شئ چې و نه تښتي...

توره تیاره وه ، د پېژ ځای چا ته سم نه‌و معلوم ، اخوا دېخوا تلل را تلل ، په همدې وخت کې ماه جبین چراغ ولګاوه ، د کوټې نه راووتله او غږ یې وکړ :

ـ خان مه سر ګردانه کوئ، راشئ دز دلته شو یدی ، غل په کوټه کې پروت دی ... د ناموس غل ... خلک د ماه جبینې کوټې ته ورننوتل هر چا سره یو یو چراغ و، په کټ کې د ماه جبین ورور کې ماشوم ګړیکی و هلی او جمدر په ځمکه پروت و...

سباور ځ، نارینه او ښځې ، خپلوان او پردي ماه جبینې ته راتلل، چا یو څه ویل او چا بل څه ډول ډول خبرې او تبصرې وې ، خو پښتنې ماه جبینې په غرور سره ټولو ته ویل :

ـ هغه د خپل ورور د ناموس بې‌عزتي کوله ، د هغه په پوستکي کې شیطان ننوتی و، پښتو یې هېره کړې وه پیر نګی شوی و ، بې غیرته او بې ایمانه و ، د پښتون د ناموس بې عزتي هم د غه سزا لري ، د اد پښتنو د ژوند اصول دي او که ما نه‌وای وژلی نو زمونږ د کلي خلکو وژ لو ځکه هغه د مرګ مستحق و...

د جمدر د جنازې پسې ډېر لږ کسان هدیرې ته لاړل. په د غو کسانو کې یو زلمی په عسکري یونیفورم کې و او چې جنازه په قبر کې کېښودی شوه او خاورې ور ـ باندې واړول شوې ، نو هغه زلمي د قبر سر ته ودرېد او خولۍ یې د سر نه لیرې کړه ، او چې کله یې خبرې شروع کړې نو ټو لو وپېژند چې زر نو ش دی . هغه خلکو ته وویل:

ـورو نو ! جمدرزما وروورو او ماه جبینه زما بنځه ده خو زه خوښ شحاله یم چې زما پښتني بنځې ، دخپلې پښتنو او خپل وليس د عز ت شمله ښکه‌و سناتلېه او زمو نږ په کوز نې کې راپیدا شوي شیطا نې نابود کړ و. ز مد خپلی پښتنې بنځې دخو لی دهر څه نه خبر شوم ، ز ه دیو کال او خو میاشتو راهیسې دخپل کور او کلي اوخپلې بنځې او اولاد نه‌لیرې وم ، ما ته‌وظیفه ذاکړې شوې‌وه چې د ه‌یسو مهاجر په‌توگه ، د هر چا له‌نظره‌ښه‌پیښنوز ته لاړ شم اودناصر با غ په خیمو کې هغه فجایع ، ظلم اوستم وو یئم کوم چې زمو نږ په‌ سه مها جرو ورونو روان دې هلته ما خپله وظیفه په‌ګا میابي سر ته ورسوله ، اویواز ې‌یو‌وار مې خپلې‌بنځې ماه جبینې ته احوال‌راليږلې‌و چې‌زه ژو ندی یم او یوه ور ځ به‌راشم...

ورو نو تاسو ور شې اود دنیاپه‌سر دوز خ وو ینې‌ء ... تا سـو مرگونه‌وو ینې او ویرو نه‌ووینې .میندې ووینې او پلرو نه ووینې...

داولې داسـې وشول او کیږي، پدې تاسو هم پو هیږ ی اوزه هـم پوهیږم. او چې په مونږ کې‌دجمدرغو ندی بې‌غیر ته مو جودو ی، نو بیاخودبل چانه گیله نه ده‌پکار ...

ماه جبینی ته ماو سله ورکړ ې‌وه چې دضرور ت په‌و خت د خپل ځان او خپل کلي کورنه دفاع‌وکړې‌خوزما په‌ذهن‌کې دانه‌شوتیر ید ی چې‌زما خپل ورور به‌زما دسردښمن‌وی ، زما خپل ورور به‌زما دعز ت او شرف‌پروانه سا تي ، زما خپل‌ورور‌به زما دکور ورا نو لـو اراده کوی ...

زر نو ش خبری کو لی خو په‌دغه وخت، دقبر نه پـــه لیـری فاصله دیوه ماشوم کړ یکې‌واوریدې‌شوې او خلکو شاته‌و کتل ، هلته

ليرى ماه جبينه ماشوم پهغيږ كـى ولاړه وه اوزر نوش ته پهكتلو بـى دستركو نهړنى ډنى او ښكى روا نىوى ...

هغه‌پهٔ خپل ميړه پسى هدير ىته‌راغلى وه ، زر نو ش ماه جبينى تهو كتل او پداسى حال كى چىلاسږى هغه‌ته نيو لو اوستر گىيى داو ښكو نهوكى شوىوى خلكو تهوويل:

ـدماه جبينى پشان ميند ى چىزموږ بچو ته شيدىور كوى،زمو ږ ولس ماتىنه خوږږو نكى دى ... هغى ټول تكليفونه پهځانو منل خو په خپل كوږ او كلىكى پاتى شوه‌اوداديوى پښتنى مير منى‌شىها مت دى... ماه جبينه يوه پښتنـــــــــه‌ده ...

دايى وويل او كرار كرار دماهـ جبينى خواته روان شو...

پاى

# سپین مـرگـ..

۱۰۵

١٠٤

ماسره دافغانی مهاجر ینوکارت په‌جیب کی پروت و او چی کله به پولیسو چیر ته په‌بازار کی‌ونیو لم‌نوما به هغه کار ت دجیب نه راوو یست او چی دپو لیس‌سترگی به‌په هغه ولگیدی نو یوه لغته به‌یی راکړه او په‌قهر به‌یی وویل،افغانی... افغانی مهاجر...

هره‌ورځ به پاکستا نی‌پو لیسو کله‌یو ځای او کله بل ځای نیو لم اومابه په هغه‌کار ت ځان‌خلاصو لودغه کار ت زمادپاره دآزاد گرځ یدو راگرزیدو یو معتبر سندو او مونږ دری واړو ملگرو دغه کارتونه دځان سره لرل.

زه دپیښور ښار په (گینتهه گر) کی، صدیق په (ډبگری) کــــواو (امین) په(کابلی دروازه) کی په‌کار بوخت وو . مارسی لر له، صدیق دپر توگا ښمو نو یو بنډل گرځولو او امین(جاولی) په‌یوه کو تی کی خرڅو لی ، زه دهغوی په اصطلاح(کولی) یعنی جوالی وم، او چی‌کله به دری واړ ه یو ځای شوو ، نودخپل وطن او خپل کور او کلی خبری به مو کولی اود خپل سر گردانه‌ژوند نه‌به‌مو پښیمانی ښرگندوله.

دوطن دنگ‌دنگ غرو نه اوبرجوری کلاگانی شنه شنه فصلو نه او د ستیند خوږی او به ، دساگ سره‌تاوده تاوده سو کړ کا ن اود غوا

یخی یخی شہرو مبی ، په ربښتیاچی دخدای ښه ښه نعمتونه وو ، ز ه صدیق او امین در ی واړه دیو کلی او سیدو نکی او زما ښځه دصدیق خور وه او امین دکلی د ملـــــك زوی و.

ماد صدیق دخور نه صبر فدوه‌لونه در لودی او بس . دزوی په کیدو هو آرما نونه‌و تلو او چی‌کله په‌کلی‌کی حالات سختشــــول او خطررونه مینځ ته‌راغلل ، خو څوواری راته وویلی شو چی دروازوته قلپونه واچوو ، او پښی و باسونومونږ دری‌وا ړو یوځای کډی بار کړی او نغری مو ســـــــا ړ ه پریښبودل .

په هغه ورځچی مو نږ دکور نه‌راو تلو، په‌آسمان کی خړی خړی وریځی گرزیدلی او په لری ځنډوکی دبریښنا پړ کو نه اودگړ گـړ آواز او ریدل کیدو ،دماشوما نومور پټ‌پټ‌ژړل‌اود او ښکو را نه، رانه خاخکی یی په مـــــخ را ځځیدل...

(صابرو) خپله‌و ړه لور په غیږ کی نیو لی‌وه او مشره لور چی‌دری کلنه وه ماپه شاکړی‌وه ...

دکور مالت خلکو چی زما نــــه پو ښتنه‌کو له چی‌و لی پیښبورته ځم‌نو ما به‌په ځواب کی هغوی ته‌ویل‌چی زوی‌می‌نه‌کیږی، د پـــلار شمله خو په زوی جګه وی .داروګان‌مو ډیرو کړل خو څه فایده یی‌و نهٔ کړه خلك وایی چی په‌پیښبور کی‌ښه حکیمان شته، دهر رنګه‌ناروغی علاج‌کو لی‌شی ، دمارانو اولړمانو نه‌جوړ ی شوی دواګانی اود زر و (کوشیقی) ور سره شته ...

هر چاته به می همدا و یل چی‌دعلاج دپاره ځو، آخر په‌یو کور کی چی نارینه اولادنه وی نو دپلار نوم‌به‌څوك ژو ندی و ساتی ، دپښتنو خودنیاپه‌زامنو او هلکانو ودا نه وی ...

په دغه بهانه مو نږ ځ‌ـــــا ن خلاصولو ، او چې دکوږ نه روا ن شوو نودکوږ تو ل سا مان مو ایښ‌په یوځو او یوه کیچی غوایار شواوزموږ په دریو واړو کی دامین کا لــــی زیات‌وو.

پیښور ته درسیدو په لار موږ ډیر تکلیفو نه او کړاوونه ولیدل ، یوه شپه په صحرا کی(صا برو) لږ‌مو چیچله او نږ دی مړه شوی وه، دامین بنځی هو له شپه‌دصابر وسر ته‌تیره کړه اود هغی خد مت یی وکړو ماد خپګا ن دلا سه‌خبری نه‌شوی کو لی او چې کله‌به می‌زړه زیات‌تنګ شو .(صابرو) ته بــــه نژدی شوم او په‌کرار به می و ر باندی آواز وکړو:

ـصا برو ! صابرو درد دی‌څنګه‌دی ؟

اود زګیرو ی نه‌به می غیر بل څه‌ځواب نه او ریدو ... توره شپه او شاو خوا لوړ لوړ غرو نه‌اوپراخه‌دښته او بیدیا ، موږ نارینه بیـــل پراته‌وو او زنانه بیل ،یو لا‌ټیـــن موږ ته و یوبل تیلی چراغ‌صابرو ماشوما نو د امین بنځی او څلورو‌ماشوما نو ته‌لګیدلی‌وو .یخ یــخ شمال لګیدو اودبارا ن هواو ره‌یو هیڅو چی بارا ن راتلو نکی دی او همداسی هم وشول او موږ شپه‌په باران کی تیره‌کړه . دز هروپښا ن یوه ترخه شپه چی په خپل عمرکی‌به هغه هیره نه‌کړم . چی هر څه مو لرل هغه مو په ماشوما نو،زنانه‌واو ځان باندی واچو ل‌او تر سبا پوری مو ستر ګه پټه‌نه‌کړه ...

دریمه‌ور ځ مو نږ دپیښورعلا قی‌ته‌ور سیدو . درسیدو سره موږ دری تنه نارینه پو لیسودمها جر ودفتر ته‌بوتلو، هلته یی را نــــــه تحقیقا ت وکړل او چی یقین یی راغی چی راتښتیدلی یو نو زمو نږ نوموونه یی په اندرا ج کی‌و لیکل‌اود(ناصر باغ) د مها جرو په خیمو کی‌یی راته ځای راکړو . لیکـــن‌ډیری‌ور ځی او میاشتی مو تیر ی

کړی خو شنا ختی کار ت(دهو یت پانه) چارانه‌کړه او په دی باره کی به‌راته نورو افغا ن مها جر ینوقسم‌قسم خبری کو لی اوداسی ښکاریده چی دپاکستا نی پو لیسو پــــــه اصطلاح ( شنا ختی کارتو نه )ځنو خا ص خا ص کسانو ته ور کړ ی کیږ ی . او معتبر کار تونه پـــــه حقیقت کی جعلی کارتونه دی چی‌پاکستا نی مآ مورین یی ځینـــــو کسانو ته دځینو خا صو کارو نودپاره ور کوی او مونږ ورو سته‌بیا دخاصو کارونو په معنی پوه شو.

مونږ دور ځی په‌ښار کی کـــارکولو اود شپی به خپلو خیمو تـــه تللو، دو یمه میاشت‌و ه چی دری‌تنه افغان مهاجر ین اویوپاکستانی پو لیس افسر خیمی ته‌راننو تل،دماښام تیاره خپره شوی‌وه او چی یو څو شیبی لانه‌و ی تیری شوی‌چی صدیق او امین هم راننو تل‌او په همغه شپه دږ بلو پیسو په‌بد ل‌کی مونږ ته مشخص و ظا یـــــف وسپار ل شول ، دغه وظا یـــف‌زمونږ دفهم او پوهی نه پورته‌ووپه دی معنی چی په اصل حقیقت نشو‌پوهیدلی ، دری تنو افغانانو چی‌په پیښور کی‌یی ښه ښه کورو نه لرل‌او پاکستانی افسر موږ ته‌و ظیفه راکړه چی دځینو خصو صی‌کسانو نه وړی وړ ی بستې (پوړ ی ) تر لاسه کړو اود پیښور د(فر دوسی‌سینما)(۱) مخا مخ یو دکا ن دارته هغه و سپارو خو په دی باره کی راسره معلو ما ت نه‌وو چی په دغو پوړ یو (بستو) کی څه دی او هغه‌کسان چی دغه پوړ ی مونږ ته را کوی څوك دی ... لومړی خـــــو میاشتی مو په ډیر مشقت تیر ی کړی ، په مشکله به مو دور ځی‌لس پنځلس کلداری پیداکو لی.د(راشن) په‌نوم چی څه میاشت دوه وروسته څه‌راکول کیدل ، په همغه زمو نږ

---

۱ــ په‌پیښور ښارکی یوه سینما ده.

گذاره نه‌کیدلــه، دغــه وجه‌وه‌چی‌په‌خواری ، غریبی مو لاس پوری کړو، دلوړ ی رسی‌می همیشه غاړی ته پرته‌وه ، صدیق او امین هم پــه غر یبی بوخت شول او چی کله‌هغه‌دری تنه دیو پاکستا نی پو لیس افسر سره خیمی ته راغلل اوزموږدری واړو سره دیوی نوی مغا ملی خبری وکړ ی زمونږ په‌ژو ند کی‌یو بنیاد ی تغییر را پیداشو ، په هغه معا مله‌کی مودږو نداله و ضع بنه‌شوه : خبره دگوزار ی نه‌تیره‌شوه اود پیسو په ذخیره کولو مو هم شروع وکړه. دخیمو نه وو تلواود هغو دریو تنو افــغان مــشرانــواو پاکستانی پولیسو افسر په کومك بنارته لاړو اود پیښور د(بالاحصار)قبلی خوا ته مو یو بنه کور کرا یه کړو... په ژوند کی ، دړو مبــی‌ځل دپاره بنی پیسی پیداکړ ی‌او په دغه وخت کی راته دپیسو نیشه‌او مستی معلو مه شوه، دغه مستی عجیبه مستی وه او ماپه خپـــــل‌ژوند کی دغه شان نیشه نه وه لیدلی.

په پیسه‌داری کی‌ماته ځان‌اودنیا بل شان ښکاریدل ، دبال بچ‌اوحتی صابرو سره می مینه کمه شوی‌وه‌دپیښور په (صدر بازار) کی ځینی خا ص کورونه او هو ټلو نه وواوهغو دریوتنو افغانی مها جر ینواو پولیس افسر په هغو ځایو نو کی‌بلد کړی‌وو ساز او سرودپه کی‌و، ځوانانو او پیغلو به‌په‌کی گډ نځل‌اوځینی به‌بیخوده او بی حاله پراته وو ،دحسن او خو شبویه عطرو نودنیاوه ، دلته ژوندبل رنگ‌در لود، نارینه او ښځو ، پیغلو اوزلمیانو خپل غمو نه هیر کړی وو ، دلتــه انسا نیت په‌بدله‌جا مه کی ځـــان‌ښکاره کولو او زمو نږ غو ندی‌کسانو دپاره خو بیخی دخیال او تصوردنیاوه. په‌عینی حقا یقو مونږ د خیال‌او تصور گمان کولو .

دشپې به ډیرناو ختنه کورونوته تللو او چې کورته به ور سیدو نو ماشوما ن په وید ه وو ، بند لبندل لوتو نه به مې (صابرو) ته ور کول، هغې به دپخواپه نسبت ښکلې جامې اغوستې لیکن د غو جا مو هم زه نه تحریك کولم او دصابرونه به لرې ویده کیدلم، صابرو مې ور ځ په ورځ له نظره وغورځیده او په هفتوهفتو کې به مې هغې ته لا س نــــه وروړلو.

د(صدر بازار) هغو خاصوکورونواو هوټلونو ته زمونږ تګ را تګ په یو اعتیاد او مر ض بدل شوی و اومونږ نورد هغو خا ص مشتریان وو، خومره چې هغو ځا یو نـــوته ورنژدې کیدو ،دخپل کور او بال بچ نه لرې کیدو . لیکن ددې ټو لوخبروسره راته حکم شوی و چې دور ځې له خوا په همغو ټاکلو ځایو نوکې په کار او کسب مصرو ف او سواو هغه بستې (پوړې) چې د خا صو کسانو له خوا په خا صو طر یقو مونږ ته راسپار ل کیدې، د هغوی دهدایت سره سم مو هغـــــه مخصو صوځایو نو ته چې مامخکې وویل رسولې ،دغه سلسله باقاعده روانه وه. خو مونږ تراوسه نه پوهیدو چې هغه بستې ( پوړې څه شی دی او مونږ ته ولـــې دهغــودرسولو په بدل کې دو مره غټې غټې پیسې او اجورې راکړې کیږ ی. ددغه معنې په حل نه وو مو فــــق شوی او مونږ درې واړ ه سو دا اخیستې وو .دیوبل سره به مو په دې باره کې خبرې کولې...

یوه ور ځ په(چوك یادګار) کې دزر ګو نو خلکو مظا هره وه. ز ه او صدیق او امین هم هغه خواروا نه شوو . او پدې ور ځ مو ، خپله وظیفه سر ته ونه رسو له ځکه چې په خپلو خپلو ځا یو نوکې نه ووچې هغه پوړ ی تر لاسه کړو ، په چوك یادګار کې، د افغانستا ن په ګټــــه چلو س و ښکل شوی و او هو نږدوینا کوو نکو ویناګانې واوریدې...

دافغا نستا ن زنده باد او امپریا لیزم مرده باد چیغی‌وی ... جلو س نیشنل عوا می گو ند ایستلی‌و...

دالومړی ور ځوه چی مونږ دیره موده پس دخپل وطن نو م‌اوریدو اوددی نوم داوریدو سره مو زړه‌بله‌رنگه شو په‌رگو نو کی‌می دغیر ت وینه وځغلیده او خپل کلی کور را یـاد شو ، خپل غرونه رغونه‌را یاد شول اودبنتی او بیدیاو ی می په‌زړه ووریدی ، اوبی اختیاره ما هم چیغه کړه ، افغا نستان زنده با د امپریالیزم مرده باد ...

هغه‌ور ځ تیره شوه او شپه‌شوه‌مونږ دپخوا په شان بازار حسن‌ته لاړو او هلته ماد لومړی ځل دپاره‌هغه‌پاکستانی پو لیس افسر و کوت چی‌بدبدیی ماته‌کتل اوزه یی لـــه‌سترگو وویریدم ...

سباسحرلا دکوره نه‌وم وتلی‌چی‌هغه دری تنه افغانی مها جر یـــن کورته رانوتل او ما سره په‌کو ته‌کی‌کیناستل دهغوی دخبرو نه‌دقهر او غو سی بوی راتلو او ما ته یی‌وویل:

ـگل حمیده ...! تاو لی پرون په (چوك یادگار) کی هغه چیغـــی ووهلی ... ؟

ماورته په ځواب کی‌وویل چی :

ـافـغانستان زما کور دی‌او چی‌زر گو نو تنو ویل زنده با د ما هم وویل ...

هغوی په‌عصبیت‌سره وو یل‌چی:

ـ که‌تاته افغا نستان دو مر ه گران وای نو بیا دی‌ولی د هغه‌سره جفا وکړه او دلته‌راغلی ...

ماچی خو له‌ځواب ورکولو تـــه‌خلاصو له ، هغوی پاشید ل او د کوټی نه‌وو تل ، زه لږه شیبه‌چرت یوړم خو زر بیدار شوم اود کورنه ووتلم ، دکور د دروازي نه بیرو ن‌صدیق او امین هم ولاړوو اودپخوا

پښان خپل کارته روان شو په لاره کــې پــوه شوم چــې هغه دری تنه صدیق او امین هم لیدلي او خبري یې ورسره کړیدی ، خپلــو خپلو ځایو نو (ګینټه‌ګر) ، (ډبګری) او (کابلي دروازې) ته‌روان شوو.

په‌ټاکلي وخت هغه بستي (پوړی) بیا مونږ ته راکړی شوی او چی‌ما هغه‌بسته وا خیسته نو فکر می‌وکړ چی صدیق او امین ته‌به هم ورکړی شوی‌وی ، دبستو رسولو دپاره‌په همغه‌لار روان شوم په‌کومه لار چی همیشه تللی‌و م او هغه پوړ ی می مخصو صو ځایو نو ته‌رسو لــی وی..

په‌لاره ګړ ندی روا ن و م‌او چی(فردو س سینما) ته‌ورسیدم‌نو په‌دی وخت کی‌می مخی ته دپولیسو یوجیپ ودرید اوځلور پو لیسان‌دجیپ نه‌راکوز شول او ماته یی دو درید‌وغږ وکړو، زه ودریدم او پولیسو ته می‌و کتل ،دغسی پو لیس ما ډ یرلیدلی‌وو او سترګه می ور نه نــه سو له .پو لیسو ماته وویل :

ـ‌شنا ختی کار ت دی‌راوباسه...

شنا ختی کار ت (دهو یت یـا پیژندلو پاڼه) می دجیب نــــــــه راوو یستلو او هغوی ته می‌ورکړ و.وویل، جعلی کارت ...

پو لیس افسر هغه کار ت پــــه‌جیب کی کینښود او پولیسو ته‌یی وویل:

ـ بسته ورنه‌واخله او ویی‌ګوره.

پولیسو هغه پوړی وا خیسته اوزما په مخکی‌یی وسپړله . او ما د لومړی ځل دپاره و لیدل چی په‌هغه‌کی‌سپین بخن شانتی پوډر وو ډیره وړه کڅوړ ه ده او چی پو لیسوهغه‌ولیدله نوپه خا ص انداز یی‌وویل:

ـ‌هیروپین ... هیروپین

دغه نوم ما ډیر اوریدلی و.لیکن‌چی داخل می واورید نو زړه مــی

وبوګنید او غونې‌مې زېن شو . ویرې واخیستم او په تـــو ل حقیقت پوه شوم ... دسینمـــــادپردې پشان مې هرڅه له نظـــره تیر شول ...

هو ! په‌نا خبرۍ او ناپو هۍ کې‌ما اودوه نورو ملګرو دنورو دپاره‌د (هیروئین) قاچاق کړی‌و.

په‌ټول وجود مې یو خطر نا ک‌تو فان ګډ شو ، په داسې دام کې نښتی‌و م چې نتیجه یې مرګ‌وه... پولیسو په‌موټر کې (تانې یاد پولیسو ماموریت )ته ورسولم او څو شیبې‌لاتیرې نه‌وې چې صدیق او امین یې هم راور سول ... او ښــــه‌ساعت وروسته هغه‌پو لیس افسر هم راغی چاچې زمونږ دپاره د غه‌کارپیداکړی واو پرون یې زه‌د( چو ک یاد ګار) په جلوس کې لیدلی اوزما آواز یې اوریدلی‌و .

مونږ درې واړه دهیروئین‌دقاچاق‌کوو نکو په‌نوم نیولې‌شوي وو او په‌ورځ دوو کې عدالت یا محکمې رابانده دهیروئین دقاچاق اودافغا ــ نستا ن دپاره دفعالیت په الزا م لس لس کاله قیدرا کړو د جیل تورو کوټو ته وغور ځو لې شوو،په‌عدالت کې‌مونږ ټول حقیقت بیا ن کړولیکن هیڅچا ،هغه ونه منلو او دچا باورنه‌راتلو چې اصلي قاچا قـ ــبران خو نور دي اومونږ یوازې‌وسیله‌شوې‌یو.

درې میاشتې مو په زندان کې‌تیرې کړې‌وې چې یوموړ ځ هغه درې افغاني مهاجرین او پاکستا نـــــې‌پولیس افسر زندان ته راننو تل او زمونږ سره یواز ې کیننا ستل هغوې وویل چې تاسوولې د(چو ک یادګار)مظاهر ې ته تللی وې ا و افغا نستان زنده باد مو‌ویلی‌وو . داخو غټ‌جرم دې . هیروئین جر م‌ندې لیکن ...

ماته‌بې اختیاره خندا را غلـــــه‌اوپه‌زوره زوره مې و خند ل اوپه خندا خنداکې مې‌وویل :

- مونږ ... مونږ ... خپل وطن سره دجفا سزاولید له...

خوشبیبی چی هغو دریو تنو ا و پاکستانی پو لیس افسر زمو نږ سره خبری وکړ ی ، پدی حقیقت ورسیدو چی هغوی غواړی مو نږ د زندان نه‌وباسی او بیارا با ند ی دهیروئین درسولو وظیفه اجـــرا کړی...

هغوی وویل :

-مونږه په ډیره آسا نی تا سو آزادو لی شو خو پدی شرطچی...

اومونږ پوه شوو چی هغه شرطڅه‌و، دزندان نه آزادکړی شو،خو په‌زندان کی دراو تلو په‌و خت‌راته‌وویلی‌شول چی دسپین مر گـــک سوداگری‌ونه‌کړی او مونږ پوه شووچی‌سپین مرگ هیروئین دی.

دری میاشتی ورو سته کوږ تـه‌راغلو ، دیوی لور مخ می پـــه ایشتو پ سوزیدلی‌و اوصابر ی‌یوه‌سترگه‌په توره پتهی تړلی‌و ه او چی سترگی‌یی په ماو لگید ی نو بی اختیاره یی‌و ژړل اودواړه لو ښی می غیږی‌ته راو غور ځیدی خودکوږ دبل پوړ نه دامین دژړا آواز می غو ږ ته راورسید او په‌ور خطایی لـــه‌ځایه پورته‌شوم ، دودریدو سر ه راته صابرو په ژړاکی وویل:

-بخت محله مړه شوه، دماشوم زیږیدو په‌و خت ، یواز ی زه یی سر ته ناسته‌و م...

په منډه می ځان امین ته‌ورساوه، هغه دخپلو ماشوما نو سره پـــه خمکه ناسته‌و او ژړل یی ...

ماداسی فکر وکړو چی‌زمو نږ دگناهو نو پیټی ډیر درو ند دی، لیکن دنجات اوخلاصو ن لاری هم بندی‌وی دنورو مها جر ینو ژو ند ته‌چی می کتل‌دمرگ نه‌ډیر بدترو، تول دمرگ په دروازه کی ولاړوو ، دغه وجه‌وه چی مونږ دشرط سره‌سم بیا خپل پخوا نی کارو بـــار

شروع کړو ، په خاصو طر یقـو موهیرو ئین یاسپین مر گ تہا کلو ځایو نو ته‌رسولو او پیسی مـــو گټلی ...

په‌ښار کی زر گونه ځوا نا ن په‌هیروئین معتاد شوی وو او ځینــو دلوږی او تندی نه زگیرو ی کول ، جنازی سر په سر له خیمو راوتلی اود ښخولو دپاره هد یره نه پیدا کیدله، پیسه دارو به ځمکه پــه پیسو اخیستله اود غر یبا نو به‌مړی بی‌کفنه پاتی کیدل ،دامیــن دښځی دپاره قبر په‌زیاتو پیســـو اخیستی شوی‌و...

په‌پیښور باندی دسپین مر گــ‌ک‌دښار نوم ایښود شوی و او مونږ دری تنو دسپین مرگ دسوداگرانو نوکری کو له ،ځان راته دا ســی ښکاریدو لکه ژو ندی چی په قبر کی‌پراته او سو ، په دغه قبر کی مو دسر په‌سترگو ماران‌اولړمان ،کربوړی او چینجی لیدل ،او دا سی فکرمی کولو چی د دنیا ناپا کی‌زما په خیټه کی پرته ده ..

دپاك او ناپاك په تو پیر او س‌ښه پوه شوی‌وم ،وطن او بی وطنی راته او س ښه معلو مه شوی وه اوپه درد یی پوهیدلی وم ،صد یــق او امین هم زما په‌شان وو ، په بی‌عزتی او بی‌پتی مو شپی سباکولی، په خپل عمر کی مونږ دغســـی‌دحرا می ډوډ ی نه‌وه خوړ لی ، یوه شپه چی‌زه‌کور ته‌راغلم‌په‌دروازه کی‌می ژړا واوریده ،وویریدم او پورته می منډه کړه...

صابرو د خپلی ماشو می لــورجنازی ته ناسته وه او نورگاونډیان یی شاو خواناست‌وو . هلته ما ته‌وویل شو ل چی ماشومه لور مــی دبام نه راغور ځید لی ده ...

پیسی‌راسره وی او سبا می‌دقبر ځمکه په‌بیه واخیسته او چی په لور می خاوری واوړ لی شوی دغـــــه‌فیصله می‌وکړ ه چی تہ و لی پیســی

په‌ور ګوم ليکن وطن ته‌به څان‌رسوم، دغه فيصله مې صديق او امين ته هم وو، يله اود تيبنتي لار موجوده کړه.

مونږ هيڅا ته دفرار په باره کي‌څه نه‌وو ويلي څکه‌ويريد لو او په ټاکلي شپه ټول په‌ګډه خو په پټه‌له‌ښار نه ووتلو او په ډيرو پيسو کرايه شوي موټر کي کيناستو ،دګندلاو په‌لور مو حرکت وکړو په شپه شپه کي لکه دغلو او قاچاق وړو نکو پښان روان‌وو اود مو ټر نه چي‌ښکته شوو نا باقي لار موبايدپلي طي کړي واي ، اوپه همدې لارکي په مونږ ناڅا پي ډزي‌وشوي اوپه‌ډزو کي صديق او امين دواړه ولګيدل ...

غنمي سل چنده زيات شو ، يوه‌شيبه وروسته پاکستا نې مليشــا راغله ، په‌نيولوکي يې راته وويل:

ــ خان ... ! که هيروئين شته‌نو هغه‌مونږ ته راکړه اوته‌څه ...

زه دصديق اوامين دلاشو نو په‌څنګ کي‌ډم او چي بيا مې دسپين مرګ نوم واوريد ،ولړ زيډم او په‌کرکه او نفرت مې مليشو ته‌وکتل... چي څه پيسې او کلداري راسره‌وي‌هغه مې هغوته ونيو لې او پــه نفرت مې ورته‌وويل :

ــ قاتلا نو، دغه لرم ... وا خلي‌اوزه خپل وطن‌ته ځم. ستا ســـو دجهنم نه‌وځم ...

دوودريدو او پاتې‌کيدو شان نــه‌و. دخپلو ملګرو ، صديق او امين جناز ې مې‌په‌څاې پرېښودې او مخ‌په‌وړاندې روان شوم ... د خپل کور کلي او سرلوړ ې وطن پـــه‌لور...هغه‌و طن چي زما دپلار نيکه قبرونه او وياړونه په‌کي دې ...

پای

# کـارغـان

هیڅ وخت په هغه لار نه ځم چیرته چې ته تیرشوي یوه خطر نه که اوویره وونکی لاروه . دغه لاری ته د پرولړو کسانو زړه نه کو لی شو او په علت یې هم نه پوهیږم چې ولی...

هغه ورځ زه یوازې نه وم بلکې (غلام) هم راسره و .غلام زما د خور زوی و او شپږ اته کاله زما نه کشر و. په هغه او له ورځ چې کله په هغه لاره تیر یدلو نو یو بد بوی دماغ و بوا ګنوو . داسې بد بو یې چې زړه مې یو رته پورته شو او کانګي یې راته راوستي .

ډیر پښیمانه شوم چې ولې په هغه لار روان شوي وم ،قدم مې نه مې سستیدل او په پښو کې مې د کمزوري احساس وکړ . د بیرته راستنیدو په فکر کې شوم خو د غه کار هم ممکن نه و ځکه چې زیاته لار مې وهلې او بیرته راته پاتې وه چې کلی ته ورسیږم .

تیاری لکه له خوبه راویښ شوی ګونګی ، کرار کرار خپل وزرونه خوروول او دور شی رښادتیښتی لار لټوله ... شاو خوا ځګ ځګ غرونه د ماښام په خړه کې داسې ښکاریدل لکه د کوه قاف دیوان ، دهغو غرونو د څیړو لاندې لوی لوی کندې وې او زمو ږ لار دهمد غو کندو دمینځ نه تیریدله...

سره له دی چی زه او غـــلا م دواړه و سله وال وو او ډوپکو نو سره یوه یوه تمانچه هم را سره وه لیکن ددی سره سره د ننه په زړه کـی می دویری احساس کولو او غلام هم همدغه حالت در لود .

مو نږ و یلی وو چی د تیاری خپریدو نه مخکی مخکی ځان کلی ته ورسوو ځکه خو مو ګامو نه چټك کړ ل او پښنو ته مو زور ور کړو . لاره ډیره خرابه وه ، کندی کپر ی په کی وی د ځپلیو دزوږ والی له کبله چندان ګړ ندی نه شو تلی ... ډیو پـــــك ګردنی هم راته درنه ښکاریده ماویل چی چیر ته لری یی و غور ځوم او ځان ورنه خلاص کړ م لیکن غلام د دغه کار سره مخالف و او ویل یی چی مونږ د خطر په لور روان یو اود خطر سره د مقابلی د پاره و سلـــی ته ضرور ت دی .

خومره چی مو نږ چټك تللـــو هو مره لار زیاته غز یدله ، تیاری ورو ورو زمونږ ستونی ته لا ســرا اچولو د پښنو لا ندی مو کاڼـــو، بوټو شور کولو، د بوی دلا سه می ځادر پوز ی ته نیولی و خو غلام د غه بدبوی نه شو احساس کولی، دا سی ښکاریدو لکه و یر ی چی نیولی وی، ترور ترور یی هره خوا کتل . ډیر نژ دی نه داسی آواز راتلو لکه کوم شی چی په ځمکه را کش کوی، مونږ یوی لویی کندی ته ور نژ دی شوی وو ، کنده قر یبا اته یا نهه ګز ه زمو ږ نه لاندی وه، زه مخکی وم او غلام راپسی ، وړی وړ ی تیږ ی به مو د پښنو لا ندی نه لیری تښتیدی ، کندی ته په رسیدو ناځا په لس ،دو لس کار غان په هیبت والو تل اودور خطایی یاویری نه یی وزرونه یو په بل و لګیدل او دقهرنه یـــی آوازونه پور ته شو ل ... مو نــــږ د کار غانو په ناځاپی الو تلـــو وویریدو او په ځای و دریدو، غلام خو بیخی په ځمکه کینا ست او مـــا خپلی تمانچی ته لاس کړو ...

الوتلي کار غان ، ډېر تېيت تېيت گرزيدل ، خو چې ماکندي ته‌لاندي وکتل‌نو يوبخو نور کارغان لا هغه شان‌په‌پوره جرئت ديوي غوا په لا ش ناستوو او مښو کی او پنجي يې په‌وينو سرې‌وي ...

غوا ما دهغې د ښکرونو ويښ‌ژندله ، يوازي سر او ښنې يې پاتی وو او نوره خوړل شوې وه ...

په‌لږ دقت سره راته داپته‌ولگيده‌چی‌په هغه ځای کی دنورو خوړل شو يو و داړل شو يو خارو يـــواو ځناورو هډونه او پنجري هـــم پرتې دي ، او هغه کنده دو ينو اوبوي دلاسه په‌يو دوزخ بدله شوې وه، خو دکار غانو اولاش خـــوروديارة دو ښو او غوښو بوي يـــو نعمت او راحت دي . دهغـــــو ی‌ژو ند په هملغوو ينو او هډو کـــو دي .

کار غانو زمونږ دسر پا ســـــه‌چکرونه‌و هلی او هغه چی په لا ش ناستوو په هوه مښو که يې پوټی پوټی غو ښه جدا کوله او له‌ستوني يې‌تيرو له ...

دوډريدو او تم کيدو ځاي نه‌و ،دکار غانو دسترگو نه دقهر ږغري راغورزيدل ، حيواس نه په لا ند ی‌راغوټه شول تابه‌ويل چی مو نږهم به پنجو کی پورته کول غـــواړي. خو هغه چی په‌کنده کی ناستوو او غو ښې يې خوړ لي په مو نږ جرت هم نه خرابولو .ما داسې فکر وکړو چی البته دکار غانو په مينځ کی هم دخيال او عقيدي تفاوت‌شته دی.

غلام هغه شان په ځمکه ناست‌واولا ندی کندي ته يې کتل اودکتلو په‌ځت يې په کرار ماته وويل:

ـماما ... ! په مصيبت ولاوښتو، وايې کار غان چې‌وږي وي نـــــود بنيادنم غو ښه هم خود ی ...

زه پوه شوم چې غلام و هـــــم نیو لی دی او پهٔ زړه یی و یر ه ننو تی ده، ویره په خپله ډیر بداثرلر ی ، ورو می له متنه‌و نیو او ومی درولو ، لن می‌وخوځاوه اوورته‌می‌وویل:

ــ دا خبری پریده ، کلی ته‌ځان‌رسول پهٔکار دی ، که هلته و نه رسیدو نو زمونږ نه‌به هم ډبو سوخو سی جوړ کړ ی او لاشو نه به مو دغو کار غانو ته‌و غورځوی...

نور معطل نشو اود کلی په لورمو خپل سفر ته دوام‌ورکړو، تردی ځایه لادکلی څه نښه نښا نه نه ښکاریده مونږ په دښته او بیدیاکی روان وو خو شا و خو را نه د غرو نو دیوال راتاو و . ددی نـــه مخکی مونږ کلی ته دنورو لا روڅخه تلو راتلو لاکن (جابر خا ن ) راته دغه لارپه‌گو ته کړه او ویی ویل چی دغه‌لار محفو ظه اود غیر غماز دنظره پټه ده . په دی لا ر هرڅه په‌آسانی کیدلی شی او هیڅ تکلیف نه پیښوی ، او دا لو مړی‌ځل‌و چی مو نږ په دغه‌لار روا ن شوی وو .

په هر قدم کـ ی‌دکار غانودحملو نه‌ویریدلو، دهغوی دقهر ید لو دپاره مو هیڅ حر کت نه‌کولو او چې څوموس رسیدلو تیټ روان‌وو ، سر ټیټولو حتی کار غان هم نـــــه‌قهرول ...

شپه راتلو نکی وه او مو ږ په‌ډیر تلوار دکلی په‌لور مخ پـــــه وړاندی روان‌وو ، هیڅوك مو مخی‌ته‌نه راتلو او د ی خبری د غــه حقیقت تصدیقولو چی په رښتیادغه‌لاره پټه اودنظره لیر ی لاروه او یوازی یوسړی‌ورنه ښه خبرو چی‌هغه سړی زمو نږ مشرو او مو نږ هغه‌ته دجابر خان لقب ور کړی‌و.

ټوله لار مو په‌ویره او تر هـــه‌او تشویش او پریشانی وو هله‌او کلی ته‌په‌رسیدو برابر د هغه کورته‌لاړو او هغه هم زمو نږ په‌انتظار

ناستو درسیدو سره هغه له ځایه راپاڅید او مونږ ته یې دستړي – مه شې نه پس وویل :

– سخاګله! ښه دې وکړل چې خوریې دې دځان سره راوستو او دغه لاره دې ور ته و ښودله ځکه چې کیدی شي کله دې یوازې لاړ شي او راشي. ددې خبرې سره یې دپیسو یو غټ بنډل هغه ته و نیواو ورته یې وویل :

– غلام بچې! داستا لومړی راتګ دی، دلومړي راتګ قیمت دومره زیات نه وي، وروسته ورو ستا به ددې پنځه چنده او لس چنده ...

ماد هغه خبره نیمه کړه او په عاجزۍ مې ور ته وویل :

– مونږ چې هر څه لرو ستاسو په برکت یې لرو، ستا سو په خدمت کې مو هر څه ګټلي دي، دهر څه خاوندان شوي یو ...

ستا سو مهربانۍ ددې پیسو نه ډیر قیمت لري ...

زما خبرې لا خلاصې نه وې چې دروازه خلاصه شوه او دوه تنه مټور ځوانان را ننوتل، په لاسو نو کې یې ټوپکونه او په ملا کې یې (جهازي) تمانچې وې. دسلام او احترام نه وروسته یې دهغه په غوږ کې څه وویل بیا منتظر ودریدل او دلنډې شیبې د تیریدو سره (هغه) ددواړو ځوانانو سره له کوټې ووت او دروازه یې په ځان پسې بنده کړه.

زه او غلام یوازې پاتې شوو، دناستې ځای مو لټولو چې په دې وخت کې دګاونډې کوټې نه چیغې او فریادو نه واوریدې شول، دغه فریادو نه ډیر نږدې نه راتلل. لکه بیخي چې زمونږ په خپله کوټه کې وي ... په آوازونو کې دنارینه او ښځې دواړو آوازونه وو، مونږ دویرې نه ولړزیدو، غلام یو ځل بیا په ځمکه کیناست او ویې ویل:

ـماما ...! مونږ چیر ته‌را غلی‌یو... داکوم ځای دی ، داسړ ی ځوك دی،داچیغی ځوكو هی ، ولی چیغی‌وهی ... ؟؟

غلام داسی‌لږ زیدو لکه سړی چی دیخو اوبونه راوو ځی او په یخ شمال کی‌ودریږ ی ،د هغـــه‌پوښتنو ته ماځواب نه شوویلی ، هغه نه‌پو هیدو چی‌چیر ته راغلی‌دی‌داسړی‌ځوك دی اوداچیغی ځـو ك وهی... هغه‌په هیڅ نه‌پو هیدو په‌پټو سترگو ماراوستی‌و ، هغه د هر څه نه‌بی خبره و او زماد کاروبار او پیسو پیداکولو رازور تـــه نه‌و معلوم ، ما هغه ته‌ویلی وو چی‌ماسره را شی اود (هغه) نو کر ی او خدمت قبول کړی، زما پشا ن به‌دپیسو او دولت‌خاوندشی ، ژو ند به‌یی دنعمتونو نه‌ډك شی ، دلوږ ی‌او محتاجی نه‌به خلاص شی ،نور به‌یی داحتیا ج لاس چاته اوږد نه‌وی ، نوربه‌یی پلار او موردقرضونو دبو ج لاندی نه‌و ی ، دکپ ډوډی‌دپاره به دنوروپه خد مت کی‌غوښی نه او په‌کوی ،زړی او شلیدلی‌جامی‌به‌یی په‌تن کی نه‌و ی او بچی به‌یی وږی نه بیده کیږ ی ...

زما په‌ذ هن کی، دپیسو پیدا کولو اودو لت گټلو ډیره آسا نه‌لار همداوه لیکن غلام بی‌زړ ه اوویر ـیدو نکی‌و ، هغه زما پشا ن همت او جرئت نه در لود ، هغه دو ینو په‌لیدو لږ زیدو او له‌و یر ی پـه ځمکه کیناستو هغه دد غسی دروندکار دسر ته‌رسولو جوگه‌نه‌و ، اوزه او س په دغه‌حقیقت پو هید لـــی‌وم.

زموږ په‌خواکی هغه چیغی او فر ـیادونه ،کرار کرار چوپ اوخاموش شول او خو شیبی ورو ستـه ،(هغه) کوټی ته‌راننووت او په‌سترگو کی یی دقهر او غو سی نښــــــــــــــــی ښکاریدی ...

یوڅو شیبی ( هغه) زمو ږ سره یوازی کیناست او ما ته‌یی نو ی

وظیفی راکړ ی ، او چې کله له‌کوټې‌وتلو نو دلوټو نو یو غټ بنډل‌یې ماته‌په مخکې‌کیښنود او ویې‌ویل‌چې‌سبا مازدیګر به‌زه بیرته حر کت کوم او ټاکلي‌وظایف به سر تـــــه‌رسوم.

سبا مازیګر زه او غلام ، د هغه‌ځای نه بیرته روان شو ، لاره مو هغه وه کومه چې زمونږ د پار ه انتخاب شوې‌وه دکوځې نه‌دتیریده و په‌وخت ، پمن شوی سپی یوه‌خوااو بله‌خوا پراته وو اودګر مې‌دلاسه یې ژبی را ایستلې وی. غلام‌به هغو سپیو ته هم په‌ویره ویره کتل، داسې ښکاریده ل لکه هغه سپی‌چې‌هم دزور ورو دز جر او شکنجې لاندې‌وی ، دکلي دیوالونو د غم‌اخیر خوړ لی و اود کلي اوسیدو- نکی هم بې‌روحه ایسیدل ...

هر چا به زمونږ وسلو او کار-تو سو ته‌کتل، په‌سترګو کی به یې وحشت او ویره بریښیدله ،لاره به‌یې چپو له او سرونه‌به‌یې ښکتـــه اچول .

مونږ په ډیره چټکتیا کلې شا ته‌پریښنود او لیرې شو ، دا ځل مو دمخکې په‌نسبت ګړندی مزل کولو،زیړ ی مازدیګرو اودما ښام تیاره‌لا نه‌وه خور ه شوې چې بیادکار غانو په‌کنده رابرابر شوو ، لیکن پـــه ښایسته ډیره فاصله کې مودلیرې‌نه دغونډې په سر داسې غټ‌کارغان تر نظره شول چې په‌تعجب کـــــې‌والویدو او حیرا ن مو هغو تــــــه وکتل ، فاصله زیاته‌و ه او لمر پریو تلو هم زمونږ دستر ګوقو ت کم کړی‌و ، ماغلام ته‌و کتل اوورته‌مې وویل:

-غلام خورئیه ! هاغه لیر ی وګوره‌دومره‌غټ‌غټ کار غان ...

غلام هغه خواو کتل اود ډیردقت نه‌ووسته‌یې وویل :

-ماما... !داخو داسې دی لکه سړی ...

ما داسې فکرو کړو چې هغه بیاوهم اخیستی نو په خندا مې ور ته وویل:

ــ ساده سړیه ... بیاویرید لی یې...

هغه نور څه ونه ویل او مونږ، ګړ ندی ګړ ندی ګا مونه پورته کول او خپله لاره مو وهله. کار غا نڅه دکندی دپاسه الوتل او ګرز ید ل راګرزیدل او څه داری نه پــــه لاشو نو اخته وو. دماښام خړه لړه لړه رانښکته شوی وه، پدی وخت مونږ کندی ته بیخی نژدی شوی وو، په اصل کی زمونږ دپاره بله لارنه وه پر ته له دی چې ددغه کند ی په خوا کی تیر شو اود تیر یدو په وخت یو ځل بیاشل دیرش کارغا ن ناڅاپه دکندی نه راپورته شو ل اوزمونږ په زړه یې دویری چپه را ـ وستله، په دی وخت کې دغــــلام سترګی پورته دغونډی پــه سر ولګیدی او یوه ناڅاپی چیغه یې دننه په ستونی کی ځا موش شوه د شونډو د مینځ نه راوو تله، اوچې ماهغه ته وکتل نو هغه لا س دغونډی خواته نیولی و ...

غلام دو یری لړ ځیدو اودشونډو لاندې یې څه ویل چې زه ور باندې نه پو هیدم، خو چې ماغونډی ته وکتل نو هغه څ کار غان دڅا یه راپاڅیدلی او زمونږ خواته راروان شوی وو، غلام ربښتیا ویلی وو چې هغه سړی دی اود هغه څوانو ستر ګو حقیقت لیدلی و.

زمونږ نور الوتونکی کار غان هیر شول اودد غو سړو په باره کی فکر واخیستو، ما خپله قسم قســـم فکرونه کول او جاجونه مې و هل، دغه سړی څو ك دی، دو ی څنګه په دی لاره کی ناست دی. دوی ته څنګه دغه لار معلومه وه، څـــه وظیفه لری او دلته څه کوی؟

او س ما په خپله دننه په زړه کی دپتهی و یر ی او خطری احسا س وکړو، ستونی می وچ وچ شواوزړه می درزا شروع کړه ...

غلام هغه شان په څمکه ناست وګن شمیر کار غان په هواکـــــی ګرزیدل او یو څو نور په‌لاشو نولګیاوو ، او ماهغه دوه تنه څارل چی‌ز مو ږ خواته راروان دی .د غلام غابښو نه کړ چیدل، ما تو پك په‌غیږ کی ونیو او ډز ته می ځان جوړ کړو هغه دوه کسان دلیری نه وسله وال ښکاره شول اوچی لنډه‌راور سیدل نوماو لیدل او و مـــی پیژندل . دغه دواړه مونږد( جابر_خان) په‌کوږکی لیدلی وو چی په‌غوږ کی‌یی‌ور ته څه وویل او بیاد چیغو‌او فریادو نو پیښنه را پیـــــدا شوه .

هغوی دوا ړه وسله وال وو اوچی مونږ ته راورسیدل نو کټ کټ په خندا شول او ویی‌ویل:

_خپل وای ګنی نو دکار غا نودپاره ډیره ښه مړی وای ...

ماد هغه په خبره یو ځل بیاپاس کار غانو ته‌و کتل چی‌قهر جـــن قهرجن ګرزیدل راګرزیدل ...

هغو دوو تنو یوځل‌بیا وخندل‌او ماته‌یی‌وویل:

_ پاس مه ګوره ،لا ندی‌وګوره چی مزه دارکړ ی ، مونږ دد غـــو کار غانو دپاره ښه ښه خوراکونه‌راوړو ... مالا ندی کندی ته‌وکتل. دځلورو تنو جناز ي چی‌یوه په کی‌ښځه‌وه اودلیری نه‌یی اوږده‌ویښتان اودتن جا مه لیدل کیدلی شوه‌دوږوکار غانو دپنجولا ندی پر تی‌و ی او نیمایی نیمایی غوښی یی‌خوړ لی‌شوی‌وی ... دهغو په لیدو ز ه‌لا زیات (وو یریدم اودکرکی‌نه مــــی‌سترګی‌پټی کړي... دهغو نه یوتن خپل لاس زما په اوږه کیښنود اوپه موسکا یی‌وویل :

_هر څوك چی د(جابرخا ن )حکم ته‌غاړه کی نه ږدی او مخالفـــت ښکاره کړ ی او یاد هغه دپاره خطر راپیدا کړلی نو دغه‌کار غان ،دهغه دپاره انتظاروباسی ...

داسې احساس راسره پیداشو چې ګنې دیو خوا نې لیوه او یا افعی ماراسره مخامخ شوی یم ، دو ینو بوی دهغه دټول وجودنه پور ته او الوتونکی کار غان اولاشخورا نور هغو نه ډیر ښه وو ...

دلومړی ځل دپاره پوه شوم چې ډیره لویه ګناه او غلطې مې کړې ده، دخدای قهر مې شا و خوا مجسم وکوت اود جهنم تودو خه اوحرارت عذاب او شکنجه مې په خپل پوټکی احساس کړه اود انسا نیـــت توکړی لاړی مې په مخ لمســـين کړی ...

په یوه شیبه کې ، تیارو تــــه ولویدم اود تیاری په خیټه کې مې دوا قعیت رڼا ولیده ، هغه رڼا چې زما په وجود کې وه لیکن زه یې د مو جودیت نه منکر وم ...

پوه نه شوم چې کله مو نـــر (زه اوغلام) دهغو نه جدا شو اوخپل کور ته راور سیدو . نور هر څه ز ما دپاره بدل شوي وو دنیاراته بد له ښکاریده او ځان راته هـــم بـدل ښکاریدو ، په ځان مې لعنت ویلو او هیڅکله مې ځان نه شو معا ف کولی ... زه وایم ما په دې دنیادوزخ وکوت او دهغه تر دروازو پـــوری ورغلم دهغه تود والې اوداور بلی لمبې ، په هغه کې د عــــذ ا ب ملائکې ، دشیطانانو مخو نه ، دلاش خورانو په وینولړ لې پنجې اومېنو کی اود هغه دوزخ بدبوی ...

خوپه هغه دوزخ کې مې دبیګناه انسانانو دژو ند سلګې هم واوریدلې، دهغه دوزخ د هغو له خوا جوړ شوی و چې دپیسو اودو لـــت عباد ت او پرستش یې کولو اوماهم دهغه عباد ت تکل کړی او په هغه لار روا ن شوی وم دغر یبو او بیوز لو هغه چیغې اوفریادو نه اوپه لوږو ژورو او کندو کې هغه وینې څښو نکی کار غان او لاش خورا نوزماد ژو نه دپای ټکی و هغه ژوند چې په ګمراهې کې ماد هغه جوړول غوښتل ...

دنوی ژو ند آغاز او پیل مـــادهمد غه ټکی نه و کړ و ، دهغه پیل د

مصنو عی دوز خو نو دجوړ وو نکو په مخالف قطب کی شوی‌و . مـــا وسله وا خیستنه خو په دی نیت اواراده چی هغه دوز خونه ورا ن کړم او جنتونه جوړ کړ م ، جنتو نه دخپل‌هیواد دغریب ، مظلو م اوو ږی تږی انسا ن دپاره ،ددی دپاره چی نور لاش خورا ن او کار غان‌خوراك ونه‌لری او نور د چاچیغی او فریا-دونه وانه‌ور یدی شی .

غلام په دی لاره کی زما دپاره‌دټو لو نه‌بده ملگر ی شو او پد ی لاره‌کی هغه هیڅکله دویری‌احساس‌ونه کړو، هغه او س زما نه هــم زیات هیر نی او زوروړو ،د هغه‌په‌اننگوکی دهمت او غیر ت و ینه‌له ورایه بنکاریدله ... نن چی ز ه دخپلی‌گمرا هی وخت رایادو م بی اختیاره ولړ زیږم اود ځان نه می کرکه راپیداشی ، هر چیر ته چی لاړ شم لو هر چاته چی‌ورسیږ م خپله کیسه‌کوم .

دکار غانو اولاش خـــو رانـــو کیسه ...

دهغو کار غانو کیسه چی نه یی‌په انسان رحم کولو او نه‌په‌حیوان. هم یی دانسان غوښی خوړ لی اوهم‌یی دحیوا ن .هم دانسان وینوته تږی وو او هم دحیوان وینوته ...

ماد ډیرو ختته پوری د شپی په‌خوب کی چیغه‌کو له ، دکور نـــی غړی پو هیدل چی‌زه په خوب کی‌ویر یږ م ، ا و پـــــــــه د ی ناروغی نوی اخته شوی وم .بنځی‌او ماشوما نو می کوټه بیله‌کړه، میا ملایی راوستل او تعویزو نه یی‌راکړل خو هغو هم کوم تاثیر ونه کړ. دننه‌په‌و جودکی، په‌رگو نواو‌پلوکی ،په‌زړه او ځیگر کی ، په وینه او مغزو کی‌می یوه پټه‌غو غاوه‌هره شپه می کار غان په‌خو ب کی لیدل چی‌لگیادی دځناورو او حتی انسانانو غو ښی خوری او هډو کی یی شپیلی ...

هو اداما په‌و ینبنه لیدلی‌وو ، په‌خپلو غتهو سترگو می د هغوننداره

کړی‌وه ،دانه خیال واونه و هم یا تصور بلکی یو حقیقت او وا قعیت و او زه هم دهغه یوه‌برخه وم اوداخبره می‌نه هیر یدله چی ماته ویل شوی وو هر څوك که د(جابرخان) حکم ونه منی نو غوبنبی به‌یی د کارغانو خوراك شی .

ما هیڅچا ته دزړه حال ،نه شـــــوویلی ، و یریدلم چی دکار غا نو خورا ك نه‌شم،غلام زلمی و ا و دحقیقت په‌پو هیدلو یی یو عجیـب تغیر وخوړ ، زړور شو، بیدارشو،اوزمانه جداکیدلو نکی ملگر ی‌شو. زما عقیده بدله شوی‌وه اود خان‌نه‌می کرکه پیداشوی‌وه .غلام زه‌زړور کړم چی دکار غانو په ضد مبارزه‌پیل کړو او هغه مو پیل کړه او ددی کار دپاره مو ډیر ی لاری‌ولټولی‌اودنورو سره موسلا مشوره‌وکړه ... فیصلی موو‌کړ ی او ... زمونږ دفیصلی لادوه هفتی نه‌وی تیر ی شوی چی یووړو کی ماشوم می چادموټرلاندی کړو. دموټر خاو ند او چلوو نکی پیدانه‌شو اونه ونیو لی‌شو او چی‌کله می هلك خاورو ته سپارلو نو دهغو دوه کســا نوسترگی می‌و لیدی کوم چی مـاد (جابر خان) په‌کور او بیاورو ستنه،دکار غانو په هغه‌کنده کی لید لی وو ...په هر څه پوه شوي وم ، معماراته حل شوی وه اود خپـــل هلك قاتلان می‌پیژ ندلی وو خـــوحیرا نوم چی‌څه وکړم څنگه هغوی اود هغوی مشر دلسگو نو کسانودقتل په‌گناه او جرم ونیسم ا و د قانون پنجو ته‌یی وسپار م هیڅ‌سند‌راسره نه‌و اودبلی خوا وپریدلـم هم ...

پوه شوم که خپل خان اوکور نی‌لادرکه نه‌کړم نو سر نو شت به‌می ددی نه هم ویر جن او دردوو نکی‌وی‌نو دشپی که‌ه شوم ، دکلی نه پټ بل کلی‌ته لاړم اودیوخپلوا ن‌په کلا کی‌می‌واړول ،خان می هیچاته‌نه ښکاره کولو ، سو گند می‌خوړلی‌و چی‌دلاشخو رانو نه به انتقام‌اخلم،

دهغوی نه چی د دوز خ دروازه‌بانان‌وو اودنورو په‌وینو یی ژو نـد کولو ...

وینی می خوتیدلی ، په‌زړه زخمی‌شوی وم، دی زخم آرام نـــه پریښودلم ،خوب می نه شــــوکولی ...

لاری می زیاتی پیداکړی او ملگری می هم زیات شوی وو ، د دارپړ ی می‌دهغو په غاړه کی‌کوت. دقانون دپاره می سندو نه اودستا ویزوونه راپیدا کړی‌وو...

ښه می یاد دی چی‌یوه‌ور ځ ماددهغه دنیولو اقدام وکړ ، دقانو ن مجریان می‌دځانه سره دهغه کورته بوتلل ،لیکن کار غه دځا لی نـــه الوتی او ځاله‌تشه پاتی‌و ه.هیڅوك په هغه کور کی نه ووچی مـــوږ نیولی وای لیکن په‌یوه کوټه کی دوینو څاڅکی پراته‌وو اودا په خپله په‌دغه کور اودغه ځاله کی دجرم‌یو غټ‌ثبوت و او ښار ندوی هغه په پوره دقت‌و کتل ...

زه پو هیدلم چی دغه و ینی دیو بل قتل ثبوت دی خو قاتل اومقتول دواړه لاپته وو او په دی وخت کی‌ټولو ماته کتل اوددی کتلو په‌معنی زه ښه پوهیدم ...

لږه شیبه می ذهن او فکردواړه گډوډ شول خو ډیر زر ښه شوم، په همدی وخت کی‌می هغه کنده‌او کارغان راپه‌یاد شول . هر څه می په‌ذهن او فکر کی روښانه شول ،بی معطلی می د ملگرو اوښارندوی نه‌خواهش و کړو چی‌زما سره هغه‌ځای ته لاړ شی چیرته چی‌کار غان دخلکو او غواگانو غو ښـــــی‌خور ی او ...

داسی ښکاریدم لکه لیو نی ، په‌سترگو کی می او ښکی را پیدا شوی‌وی ، هغوی زما سره روا ن شول لیکن په ما باندی د بی اعتمادی نښی نښانی یی هم پـــه‌ټنډو کی‌لیدل کیدی ...

مونږ دکار غانو هغه کندی ته‌چی‌ماور باندی د دوزخ نوم ایښی و ډیر زر ورسیدو .لمر جگ ولاړو او ښه‌رڼا په‌ټو له‌کنده خوره وه .د لیری نه دغلام ستر گی بیاپه هغودوو کارغانو ولگیدی چی دپخوا په شان دغونډی په سر ناست‌وو، مـا ملگرو ته‌وویل چی دهغو دوو تنو دتیښتی لار بنده کړی ، هغـوی‌تصور نشو کولی چی دغسی منظره به‌ووینی ...

لاندی په‌کنده کی ، کار غا ن‌دبل‌هروخت نه زیات‌وو . ځینی یی‌ټیټ الوتل او نورو یی په‌لاشو نوځانونه‌ړول ،دځارندوی په‌وینا مو نږ‌کندی ته‌ور ښکته شوو ، دډزو په آوا زدیرش ځلو یښت کار غان پور ته والوتل او مونږ لاشو نو ته ورنژدی‌شوو .دټو لو نه مخکی مـــــا (جابر خان)وپیژندلو چی نیما یی‌بدن یی کار غانو خوړلی‌و ، بله‌خوا دوه دری خوړل شوی انسانان نورهم پراته‌وو .

دجابرخا ن پیژندل دنورو دپاره‌ممکن نه‌وو خو هغه ما خار ندویانو ته‌ور وپیژاند .د هغه (گټه گوته)د مخکی نه نه‌وه ،ټوپك الوزولی وه، اواوس یی دبدن زیاته بر خه‌کار-غانو خوړلی‌و ه ،د هغه په‌تن کی همغه‌جا می وی چی مالید لـــــی‌وی...

هغه‌نیول شوی دوه تنه هم همغه‌ځوك وو چی‌د(جابر خان) خد مت یی‌کولو اود هغه‌نه‌یی دلوټو نـــو(بنډلونه) اخیستل . هغوی پــه تحقیقاتو کی په هر څه اعترا ف وکړو ،(جابرخان) هغوی په خپله وژلی‌و ځکه چی دهغه سره یـــی‌اختلاف راپیداشوی‌و ، دا ځل و ړو کار غانو ،غټ کار غه راپرزو لی‌واو هغه‌یی ددوه دری تنو نورو سره همغه کندی ته غوزار کړی‌و چی‌ده‌دخپلو قر بانیانو دپاره انتخاب‌کړی وه او همغو کار غانو یی غو ښــی‌وخوړ ی کو مو کار غانو چی ددهد

قربانیانو غو ښی خوړلی وی... پای

PROPERTY OF ACKU 2968

Download From: Aghalibrary.com

انتشارات کمیتهٔ دولتی طبع و نشر ج.د.ا
مطبعه دولتی